الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ

[سُورَةُ آل عِمرَان : 173]

هغه کسان چي خلکو (منافقانو) ورته وويل: "ستاسي پر خلاف لويي لښکري راغونډي شويدي، له هغو څخه ووېرېږئ ."- نو ددې په اورېدو يې نور هم ايمان پياوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چي زموږ لپاره الله کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.

مؤسسة العزائم الإعلامية

13 گڼه

خراسان غاږ | ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

ديارلسمه گڼه / يک شنبه 19 ربيع الثانی 1444هـ

د مجلې له منځپانگې څخه

- سيرت النبي صلى الله عليه وسلم
- نثر الؤلؤ والمرجان
- د اصحابو د ژوند پلوشې عمير بن وهب رضى الله عنه
- الفلاح والرشاد فى مسايل الجهاد

تفسير القرآن الكريم

طالبان د اتاترک لارويان

د شينوارو اتل
شاه خالد، شاكرالله تقبله الله

څه خواږه وختونه و | د تمکين خاطرې

نيږدې نيمه شپه وه چي د ټول کفر په مقابل کې د دوی د سترو او پراخو امکاناتو او تجهيزاتو په وړاندې د غرباؤ تش لاس ، وږيو، تږيو او ستړو بيخوبه مجاهدينو ځنگ ته ورسيدو، مخلص دوی هم پرلا پسې بې خوبۍ او ستړيا ځپلي وو، خو د دښمن په وړاندې يې حوصلې خورا لوړې وې ، له دې مخکې يې دښمن سره لاس په لاس څو جنگه کړي وو، چې پکې د مرتد فوج نه تازه يوه ايم شانزده هم غنيمت شوې وه او د خراسان په تاريخ کې دا د افغان مرتد فوج سره لمړی جنگ وو ...

مؤسسة العزائم يې وړاندې کوي

ديني برخه

تفسير القرآن الكريم 1

نثر اللؤلؤ والمرجان (في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان) لسم درس 11

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد (صحيح البخاري كتاب الجهاد) لسم درس 14

سوال ځواب 19

د غنيمت فيء او احتطاب احكام 22

سياسي برخه

طالبان د اتاترک لارويان 29

د خراسان له سردرو د فارس تر کوځو 40

ادبي برخه

شعر : (ځوک به پيداشي د مظلوم به انتقام واخلي) 46

د شينوارو اتل 47

لنډه کيسه : (ځه خوارېه ملګري وو، ځه وختونه وو) 52

شعر : (شهيد) 59

تاريخي برخه

سيرت النبي (صلی الله عليه وسلم) 60

عبدالله بن وهب (رضي الله عنه) 65

تفسير القرآن الكريم
سُورَةُ التَّوْبَة
دیارلسم درس: ۱۳

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

مخکې آيتونو کې الله عزوجل د تبوک څخه پاتې کيدونکو خلکو اقسام ذکر شو، بيا يې نبي عليه السلام او صحابه وو باندې خپله مهرباني او آسانتيا راوستل ذکر کړل، وس پدې آيت کې د هغه درې کسانو صحابه وو د توبې قبوليت ذکر کوي، چې مخکې د هغوی په اړه يادونه شوې وه، چې د هغوی فيصله وروسته شوې وه.

وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (118)

ژباړه: (او توبه يې قبوله کړه) د هغه درې کسانو چې وروسته کړی شوې وه معامله د دوی تر هغې پورې کله چې تنګه شوه په دوی باندې ځمکه سره د پراخوالي نه، او تنګ شو په دوی باندې زړونه ددوی او دوی يقين وکړو چې نشته دی ځای د پناهې د عذاب د الله تعالی نه مګر هغه ته دی، بيا توفيق د توبې ورکړو دوی لره لپاره ددې چې دوی توبه وباسي، يقينا الله تعالی توبه قبلونکی رحم کونکی دی.

تفسير:
[وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا]:

فتح القدير ليکي: [أَيْ: وَتَابَ عَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا، أَيْ: أُخِّرُوا، وَلَمْ تُقْبَلْ تَوْبَتُهُمْ فِي الْحَالِ كَمَا قُبِلَتْ تَوْبَةُ أُولَئِكَ الْمُتَقَدِّمِ ذِكْرُهُمْ.] ژباړه: مهرباني يې وکړه په هغه درې کسانو چې وروسته کړی شوي وو. او هغه وخت يې توبه قبوله نشوه لکه څنګه چې د نورو پاتې کيدونکو توبه قبوله شوه، چې مخکې يې ذکر تير شو. [قَالَ ابْنُ جَرِيرٍ: مَعْنَى: خُلِّفُوا تُرِكُوا] ژباړه: ابن جرير وايي: خُلفوا معنا ده: پريښودل شوي وو. [وَقَرَأَ جَعْفَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ: خَالَفُوا] ژباړه: جعفر بن محمد دا خالفوا لوستلی و، معنا يې رازي: هغه کسان چې پاتې شوي وو، يا يې خلاف کړی و. [خُلِّفُوا: فَسَدُوا، مَأْخُوذٌ مِنْ خُلُوفِ الْفَمِ.] د خلفوا معنا چا دا هم کړې ده، چې دوی فساد کړی و، دغه معنا مطابق خُلفوا د خولې بوي خُلُوف مادې څخه اخستل شوی دی.

راجح قول دا دی چې ددې نه مراد دا ده چې توبه يې وروسته کړې شوی وه، نور د جهاد څخه وروسته پريښودل د منافقانو صفت وو د صحابه وو لپاره دغه محمل غوره نه دی. او همدا د کعب رضي الله عنه تفسير دی.

او دا درې کسان كَعْبُ بْنُ مَالِك، وَمُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْعَامِرِيُّ او هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الْوَاقِفِيُّ وو، درې واړه انصار وو، نبي عليه السلام د دوی توبه قبوله نه کړه تر دې چې قرآن کريم نازل شو او د الله عزوجل لخوا ددوی توبه قبوله شوه.

[حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ]:

ددوی د توبې قبوليت تر هغه وخت پورې وروسته کړی شو چې دوی باندې ځمکه د پراختيا سره راتنګه شوه، د نبي عليه السلام او صحابه وو اعراض له امله، د خلکو خبرې نه کولو له امله ځمکه پرې تنګه شوه.

[الرَّحْبُ: الْوَاسِعُ، يُقَالُ: مَنْزِلٌ رَحْبٌ وَرَحِيبٌ وَرِحَابٌ] الرحب پراخه ته وايي، يعني پراخه کور.

فايده: دا آيت پدې خبره دليل دی چې ګناه ګار کس ته د ادب ورکولو په پار هغه سره خبرې بندول جايز دي.

[وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ]:

ددوی زړونه هم تنګ شو، ځکه وحشت او ځانله والی يې محسوو، خلکو ورسره هجران کړی و.

[وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ]:

دلته يې د علم څخه تعبير په ظن او ګمان سره وکړو، يعني هغوی پوهه شو چې الله ته توبې ويستلو او استغفار کولو پرته بله چاره نشته.

[ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا]:

راوګرځيدو په هغوی باندې په قبوليت او رحمت سره، او په قرآن کې يې ورله توبه ذکر کړه، دې لپاره چې استقامت اختيار کړي، او يا دا معنا چې مستقبل کې يې ورته د توبې توفيق ورکړو، کچيرې بيا ترې کومه خطايي وشي نو الله تعالی ته رجوع وکړي او په خپلو کړنو پښيمان شي.

[إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ]:

[التَّوَّابُ أَيِ: الْكَثِيرُ الْقَبُولِ لِتَوْبَةِ التَّائِبِينَ]. ژباړه: د توبه ويستونکو توبه زياته قبلوي. [الرَّحِيمُ أَيِ: الْكَثِيرُ الرَّحْمَةِ لِمَنْ طَلَبَهَا مِنْ عِبَادِهِ.] ژباړه: زيات رحم کونکی دی په هغه بندګانو چې رحمت طلب کوي.

ددې آيت کريمه خه وضاحت کعب رضي الله عنه حديث کې شوی، حافظ ابن کثير وايي: [فَقَدْ تَضَمَّنَ هَذَا الْحَدِيثُ تَفْسِيرَ هَذِهِ الْآيَةِ الْكَرِيمَةِ بِأَحْسَنِ الْوُجُوهِ وَأَبْسَطِهَا] ژباړه: دې حديث کې ددې آيت کريمه ښايسته طريقې سره او تفصيلي تفسير پروت دی.

راځئ چې د هغه د خولې يې واورو. دا هغه حديث دی، هغه واقعه ده، چې ټول سورت ددې وجې نه په سورت التوبه ونومول شو، چې درې صحابه فقط د يوې غزوې څخه وروسته پاتې شوي وو، او رب العالمين د هغوی په اړه اول د عذاب ورکولو يا توبه قبلولو ذکر وکړو او بيا پنځوس ورځې هجران څخه وروسته يې توبه قبوله کړه، نو د هغه خلکو به څه حال وي، چې په کلونو کلونو هم چيرته جهاد ته نه ځي، د اسلام نصرت نه کوي ؟ يا هغه خلک چې د اسلام په نوم کفر ته خدمت کوي ؟ هدف يې سيکولري اسلام وي، او د امريکا لخوا ورته هره اونۍ ۴۰ مليون امريکايي ډالر ورکول کيږي ؟ بيا دا حديث په ډيرو فوائدو هم مشتمل دی، خو مونږ به يې اختصارا ذکر کړو، ان شاء الله.

کعب بن مالک رضي الله عنه وايي: زه د رسول الله عليه السلام څخه د تبوک غزا پرته په بله هيڅ غزا کې وروسته نه يم پاتې شوی، هو، د بدر غزا کې وروسته پاتې شوی وم، خو رسول الله عليه السلام په هيچا باندې ملامتيا نه وه ويلې چې د بدر څخه پاتې شوي وو، ځکه رسول الله عليه السلام د قريشو د قافلې په نيت وتلی و، تر دې چې الله تعالی د وعدې پرته د دښمن سره مخامخ کړ.

او يقينا زه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ليلة العقبه ته حاضر شوی وم، چې مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په اسلام باندې لوظ کولو، او زه دا نه خوښوم چې زما لپاره دې د هغې په بدله کې د بدر غزا [ترلاسه کول] وي، اګر که بدر په خلکو کې د عقبې شپې څخه زيات مشهور دی.

زما کيسه دا وه چې هيڅکله دومره قوي او مالداره نه وم په کوم وخت چې زه د ددې غزوې څخه پاتې شوم، په نورو جهادونو کې ما سره دوه سپرلۍ نه وې، او پدې غزوې کې دوه سپرلۍ تيارې کړې وې. د نبي عليه السلام عادت مبارک دا و چې کله به يو جهاد ته تللو نو توريه به يې کوله او تبوک ته چې تللو نو خلکو ته يې ښکاره خبره وکړه، دې لپاره چې خلک بشپړ تياری ونيسي، ځکه چې دا غزا رسول الله صلی الله عليه وسلم په سخته ګرمۍ کې کوله او د لرې سفر سره مخامخ و، او دښمن شمير هم زيات و، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مسلمانان هم دومره زيات وو چې لوی دفتر [راجستر] نشو راجمع کولاوی.

که يو تن به د پټيدو اراده وه نو دا ګمان به يې کاوه چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې به پټ پاتې شي ترڅو چې د هغه په اړه د الله تعالی وحي نه وي نازله شوي. او رسول الله عليه السلام دا غزا په هغه وخت کې کوله چې ميوې او سيوري خوندور شوي وو. نو رسول الله عليه السلام او هغه سره مسلمانانو تياری شروع کړ، نو زما کلکه اراده وه چې دې جهاد ته زم، نو زه به هم بازار ته لاړم چې هغوی سره ځان مجهز کړم، خو بيرته به راوګرزيدم او هيڅ به مې هم وانخستل، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د روانيدلو په مهال مې له ځانه سره وويل : نن به په بازار کې دسفر

پوره توښه واخلم او که سبا روان شم هم په لښکر پسې رسيدلی شم ، دڅه نوري بوختيا له امله مې دسفر توښه وانه خيستله خبره بلي ورځې ته وځنډيدله ، تربلي ورځې خبره تيره او څو شپو ته ورسيدله اخر دتبوک له غزانه پاته شوم ... کعب بن مالک وايي په دي شپو ورځو کې به چې کله د مديني ښار ته ووتلم يواځي هغه کسان به مې ليدل چې هغوی به يا منافقان وو او يابه يې له جهاد نه دپاته کيدلو له پاره شرعي عذر لاره.

کعب بن مالک او ملګري يې له غزا نه پاته شول ، رسول الله صلی الله عليه وسلم له ديرش زره ملګرو سره تبوک ته ورسيد ، يوه ورځ يې په صحابه کرامو کې يو بل خوا کتل خو کعب بن مالک يې تر سترګو نشو ، هغه خو صالح مسلمان هم و د العقبه دبيعت برخه وال هم و او د تبوک دغزا په ملګرو کې يې تر سترګو نشو ! ، پوښتنه يې وکړه : کعب بن مالک څه وکړل ؟ يو چا د کعب په باره کې بدګوماني ښکاره کړه ، معاذ بن جبل رضی الله عنه يې خبره په ستوني کې ور وچه کړه او ورته کړه يې : ته سمه خبر نه کوې او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل :

ای د الله رسوله ! قسم په الله په کعب کې موږ له خير او ښو پرته بل څه ندي ليدلي ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم چوپ پاته شو .

کعب رضي الله عنه وايي : کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبوک له غزا نه راستون شو او مديني ته را ورسيدو ، ماله ځان سره فکر کاوه چې اوس به دهغه له غوسي نه څنګه ځان ژغورم اوپه دي اړه مې له خپلوانو سره مشوري هم کولي اخر مې له ځان سره پريکړه وکړه چې له رښتيا پرته په بل شي ځان نشم خلاصولی ، هغه چې مديني ته را ننووت لومړی خپل جومات ته ولاړ هلته يې دوه رکعته لمونځ وکړ او وروسته له خلکو سره کيناست ، کوم خلک چې له غزا نه پاته شوي وو هغوی ورته راټول شول او هر يوه له غزا نه د پاته کيدلو عذرونه بيانول او قسمونه يې ورته کول ، څه باندي اتيا کسان له غزا نه پاته شوي وو ،رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغوی ښکاره عذرونه ومنل اود ښني دعاوي يې ورته وکړي او د هغوی دزړونو حالت يې الله ته وسپاره.

کعب وايي : زه ورمخته شوم ، مخامخ ورته کيناستم ،سلام مې ورته وکړ ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ترخه غوندي موسکا راته وکړه او راته کړه يې : تا دسفر له پاره سپرلۍ نه وه اخيستي ؟ ماورته وويل : هوکي اخيستي مې وه ، ده راته وويل : بيا ولې پاته شوي ؟! ما ورته وويل : يارسول الله ! په الله قسم که زما داحالت له تا پرته له بل چا سره رامنځته شوی وی يعني د دنيا له خلکو سره نو ما به ډير په اسانه د هغوی له غوسي نه ځان خلاص کړی وی ، او له تا نه که په کوم دروغژن عذر ځان خلاص هم کړم خامخا به دي الله جل جلاله راته په غوسه کړي ، او که تا ته رښتيا خبره وکړم نو ته راته په قهر کيږې او رانه خپه کيږې خو د الله تعالی د عفوې اميد لرم. يا رسول الله ما هيڅ عذر هم نه لاره ، روغ رمټ وم سپرلي مې هم تياره کړې وه او اراده مې هم وه يواځي زما غفلت و چې په غزا کې د برخې اخيستلو خنډ وګرځيد .

کعب چوپ شو ، رسول الله صلي الله عليه سلم خپلو ملګرو ته وويل : ده رښتيا وويل ، بيا يې کعب ته وويل : څه پورته شه ! ګورو به چې ستا په اړه الله جل جلاله څه پريکړه کوي. کعب بن مالک رضي الله عنه ولاړ شو او له جومات نه ووت ، هغه ډير خپه او خواشيني و او نه پوهيدی چې الله جل جلاله به يې په اړه څه پريکړه کوي.

کعب بن مالک رضی الله عنه ښه شاعر اوډير هوښيار سړی و او په خپل قوم کې يې ښه درونډ مقام لاره ، کله يې چې دقوم ځيني کسانو دا حالت وليد دی يې ملامت کړ چې ښه کار دي ونکړ ، هغوی ورته ويل : له دي مخکې موږ ته نه يې ليدلی چې کومه ګناه دي کړې وي ، ته ښه شاعر او پوه سړی يې تا دومره نشوی کولی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دي د هغو نورو خلکو په څير کومه بهانه او عذر جوړ کړی وی ؟! هغه به درنه خوشاله شوی و او وروسته به دي توبه او له الله نه ښښنه غوښتې وه ، کعب وايي : زه خپلو تربرونو ډير وهڅولم آن تر دې چې زه دې ته تياريدونکی وم چې کومه دروغو بهانه جوړه او په کوم نوي عذر سره له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ځان خلاص او هغه خوشاله کړم ، له هغوی نه مې پوښتنه وکړه چې ايا زما په څير کار بل چا کړی دی ؟ هغوی راته وويل : هوکي ! دوو نورو کسانو هم رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ستا په څير رښتيا خبره وکړه او کوم عذر يې وړاندې نکړ ، ما ورته وويل هغه دوه کسان څوک دي ؟ دوی راته وويل هغه دواړه مراره بن الربيع او هلال بن اميه دي ، کعب وايي چې پام مې وکړ هغه دواړه صالح او ښه مسلمانان وو او د بدر دغزا برخه وال کسان وو ، [(حافظ ابن کثير نقل کړي: ددغه دوه صحابه وو بدر ته حاضريدل دا د امام زهري خطا ده، ځکه هغه دواړه بدريان نه وو، والله أعلم)] په دي سره زما هوډ کلک شو او خپلوانو ته مې وويل : همدا دواړه زما له پاره ښه لاربښوونکي دي، قسم په الله زه به له خپلي خبرې په شا نشم او دروغ به ونه وايم، کعب په کور کيناست ډير غمژن او سخت خپه و، څو ورځې لا نه وې وتلې رسول الله صلی الله عليه وسلم ټولو خلکو ته امر وکړ چې له کعب او ملګرو سره يې هر ډول خبرې بندې کړئ ، کعب وايي : ټول خلک رانه پردي شول ، اوله موږ سره يې چلند بدل کړ ، ښار ته به ووتلم هيچا به خبرې نه راسره کولې، دنيا بدله شوه او پيژاند خلک داسي وګرځيدل لکه يومې چې هم نه پيژني، زما نور دوه ملګري (مراره بن الربيع او هلال بن اميه) دواړه په کورونو کيناستل او شپه ورځ به يې ژړل ، هغوی دواړو عبادت ته زور ورکړ، زه په خپلو ملګرو کې ځوان هم وم او تکړه هم ، زه به بهر وتلم ، له مسلمانانو سره به مې يوځای لمونځ هم کاوه اوپه ښار کې به هم ګرځيدلم خو هيچا به خبرې نه راسره کولې، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به ورغلم سلام به مې ورته وکړ په زړه کې به مې ووېل چې ته ځير شه ايا دسلام په ځواب به يې شونډې ښوروللي وي که نه ؟ په لمانځه کې به يې څنګ ته ودريدلم پټ به مې دسترګو تر کونجونو په پام کې لاره کله به چې زه لمانځه ته ځير وم راته کتل به يې او چې ورته وبه مې کتل مخ به يې بل خواته واړاوه.

په کعب بن مالک رضي الله عنه باندې سختي شپې ورځې تيريدلې ، او د ورځو په تيريدلو سره دردونه او ويرونه زياتيدل ، دی په خپل قوم کې د ډير عزت خاوند و ، دی خورا وتلی او بليغ شاعر و، پاچاهانو او اميرانو پيژاند ، ډيرو لويو لويو خلکو يې شعرونه اوريدلي وو او د ده د ليدلو هيله يې لرله ، خو نن په خپل ښار مدينه کې خپلو خلکو نه پيژانده ، هيچا خبري نه ورسره کولي او نه يې دهغه ليدل خوښول ، په ده باندې يواځيتوب ډير سخت شو سينه يې تنګه شوه او غمونه يې زيات شول ، په دي سخت حالت کې له يوې بلې سختې ازموينې سره هم مخامخ شو ، يوه ورځ دی په مدينه کې ګرځيدی چې دشام يو نصراني ورته راغی ، هغه په ښار کې پوښتنه کوله چې کعب بن مالک به څوک راوښيي ؟ خلکو کعب ور وښود او هغه راغی له خپل خورجين نه يې د غسان دپاچا يو ليک را وايست ، کعب هک پک پاته شو چې خبره يې تر شامه رسيدلي ده !! دی نه پوهيدی چې د غسانيانو پاچا به څه ورته ليکلي وي ؟!!

د غسان دپآچا ليک يې خلاص کړ او هغه ورته ليکلي و : کعبه ! زه خبر شوی يم چې ستاسو مشر له تاسره سم چلند نه کوي او ډيره سختي درسره کوي ، ته خو دومره ټيټ او سپک سړی نه يې ، موږ ته راشه موږ به دي ونازوو ، کعب رضي الله عنه چې ليک ولوست ، ويې ويل : انا لله ... ماته دکفارو تمه پيدا شوه !! دا هم دالله امتحان او شر دی ، دغسان دپآچا ليک ته يې تنور بل او په هغه کې يې وسوځاوه ، په خپل ښار کې خپلو او پيژاندو ټولو پري ايښی دی له چا سره چې دخبرو نيت وکړي هغه ورته شا کړي، بل لورته يې د يوې پراخې او ښايسته سيمې (شام)واکمن ملګرتيا او ماڼيو ته وربولي خو دهغه بلنليک په اور کې سوځوي. الله

أکبر، نآشنا ايمان دی! نن سبا دغه شان امتحان سره څوک مخ شي نو فورا به ورته لبيک اووايي، الا ما شاء الله. لکه طالبانو ته داسې خط له کوم کشور څخه راشي چې مونږ مو په رسميت پيژنو، نو دوی يې هر نوعه خبره منلو ته تيار وي!!

د کعب او ملگرو يې دا سختې شپې يوه په بل پسې تيريدلې، او په دې ډول يوه مياشت پوره شوه، د خلاصون لوری لودن نه معلوميدی او آن سختې اوبنديزونه لا نور زياتيدل او سختيدل، نه درسول الله صلی الله عليه وسلم له لوري کومه عفوه او آسانتيا تر سترگو کيدله او نه اسماني وحي راتله، ترڅو څلويښت شپې پوره شوې، دکعب او ملگرو يې انتظار خورا سخت او تريخ شو چې په دې سختيو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم استازی د کعب کره راغی، دروازه يې وټکوله، کعب په منډه ور ووت، استازي ورته وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم امر کړی دی چې ښځه دې له ځانه لرې کړه، کعب وويل: طلاق يې کړم که څنگه؟ هغه ورته وويل: نه له ځانه يې بيله کړه او ورنږدې کيږه مه، کعب کور ته ننوت او خپلې ميرمنې ته يې وويل: دپلار کره ولاړه شه! او تر هغه انتظار کوه څو دالله له لوري کومه پريکړه نه وي راغلې، رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل استازی د کعب نورو دواړو ملگروته هم ور وليږه چې ورته امر ورته وکړي، د هلال ابن اميه ميرمن رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله او ورته ويې ويل: يارسول الله! هلال سپينږيری او کمزوری دی ماته اجازه راکوې چې د خدمت له پآره يې ورسره پآته شم؟ هغه ورته وويل: هو اجازه ده خو په هيڅ صورت بايد درنږدې نشي، هغې ورته وويل: د الله رسوله! په الله قسم ترکومې ورځې چې د دوی ستونزه پيل شوی ده هغه شپه او ورځ ژاړي او له ډير غم او خپگان نه يې هيڅ شي ته هم توجه نشته.

کعب اوملگري يې که څه هم ظاهرا ازاد او هرځای گرځيدلی شوی خو د دوی روحونه سختي بنديانې او دوی ترسخت دردونکې روحي پشار لاندې و، سختې خو ځکه زياته وه چې دوی دخپلو دردونو شريکولو له پاره هيڅوک نلرل، آن خپلې ميرمنې يې هم ورنه بيلې کړل شوې، اخر کعب دې حالت ته ورسيد چې خپل ايمان ته به يې بيا بيا توجه کوله او ويره ورسره پيدا شوه چې هسې نه ايمان کمزوری شوی نه وي، که له يو چا نه دمشورې نيت وکړي څوک خبرې نه ورسره کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم ته سلام وکړي هغه ځواب نه ورکوي، آخر له چا سره مشوره وکړي او چيرته ولاړ شي ؟! کعب وايي: زموږ د ازموينې او ابتلاء ورځې چې اوږدې شوې، زه خپل د تره زوی ابو قتاده ته ورغلم، هغه په ما ډير زيات گران و، دهغه په باغ کې مې پيدا کړ او ورننوتلم، سلام مې ورته وکړ، په الله قسم د سلام ځواب يې رانکړ، بيا مې ورته وويل: ابوقتاده تاته په الله قسم درکوم، ته خو پوهيږې چې زه له الله او دهغه له رسول سره مينه لرم؟ ابوقتاده چوپ پاته شو دا خبره مې په قسم سره ابو قتاده ته څو ځله تکرار کړه په اخر کې يې راته وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، عجيبه ده د کعب خوږ د تره زوی ابو قتاده هم دده دايمان په اړه چوپ پآته شو!! د کعب تکړه توب او پوهه هم د دې ستونزو په وړاندې بيسيکه شوه، کور ته ولاړ، هغه هم تش ديوالونه دي، دژوند ملگرې يې نشته، کعب هم د انسان د لږ ځواکې دمهال ښه ملگري ژړا او اوښکو ته پناه يو وړه. دا وخت نو د دوی د ابتلاء پنځوس ورځې پوره شوې.

پنځوسمه شپه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې د دوی توبه نازله شوه، او دا مهال د شپې وروستۍ دريمه برخه وه، رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې شپه د ام سلمه رضي الله عنها کره و. او نازل شوي ايتونه يې تلاوت کړل، ام سلمه رضی الله عنها ورته وويل: يارسول الله! کعب بن مالک ته مو زيری ورکړی وی ؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: خلک به مو له پښو لاندې کړي او ټوله شپه به يې له لاسه خوب ونکړئ. دسهار له لمانځه وروسته يې خلکو ته د دوی د توبې خبره وکړه او خلک هغوی ته د زيري ورکولو له پاره روان شول، کعب وايي: دخپل کور په بام مې دسهار لمونځ وکړ، له لمانځه وروسته په هماغه حالت ناست وم چې الله يې يادونه کړې ده، زړه مې په تنگ و او ځمکه سره له خپلې پراخې ماته تنگه شوې وه، زه په دې سوچونوکې وم چې يوه کړيکه مې غوږونو ته ورسيدله، يا کعب بن مالک أبشر، يعني د مالک زويه زيری درکوم، دی وايي زه پوه شوم چې د الله له لوري خلاصون او نجات راغی، او په سجده شوم، کعب وايي ماته د زيري له پاره دوه کسان راغلل يوه د غره له سره اواز راوکړ او بل په اس را روان و خو له اس نه د غره والا اواز تيز و هغه دواړه جامې چې زما په تن وې يوه مې يوه او بله بل ته ورکړه او د ځان له پاره مې له بل چا نه په سوال وغوښتلې ځکه نوري مې نه لرلې.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ور روان شوم او په لاره کې ډله ډله خلک مبارکې ته مخې ته راتلل، او راته ويل به يې دالله له لورې د توبې دقبليدلو مبارکې درته وايو ترڅو چې جومات ته ننوتلم، رسول الله صلی الله عليه وسلم له صحابه کرامو سره ناست و، هلته چې څومره مهاجرين ناست وو په هغو کې يواځې طلحه بن عبيدالله زما مخته راولاړ شو، غيږ يې راکړه او مبارکي يې راته وويله، او بيا بيرته په خپل ځای کيناست، کعب وايې په الله قسم د طلحه هغه ښيگڼه به ترمرگه هم هيره نکړم، ترڅو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ور ورسيدلم، او سلام مې ورته وکړ. دهغه مخ له خوشالۍ نه داسې ځليدی، لکه دسپوږمۍ تکړه چې وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې خوشاله شو مخ مبارک به يې ځلا کوله، کله چې زه وليدلم راته ويې ويل: ستا په ژوند کې تر ټولو د ښې ورځې مبارکي درته وايم، ما ورته وويل: يارسول الله دا زيری ستا له لوری دی که دالله لخوا؟ هغه راته وويل: دا د الله له لوری دی، او بيا يې هغه ايتونه تلاوت کړل. کعب وايي: زه درسول الله صلی الله عليه وسلم مخته کيناستلم او ورته ومې ويل: يارسول الله! زه خپل ټول مال هم دالله او د هغه درسول په لاره کې خيرات کوم، هغه راته وويل: نه يو څه مال دې له ځانه سره وساته ټول مه خيرات کوه، ما ورته وويل د خيبر برخه زما لپاره کافي ده. وروسته مې ورته وويل: يارسول الله ماته الله په رښتيا سره نجات راکړ نو زه به په خپل ټول ژوند کې رښتيا وايم. کعب وايي چې رښتيا ويلو کې چې ما ته څومره تکليف رسيدلی دومره بل هيچاته ندی رسيدلی، او ما د هغه ورځې راهيسې تر ننه پورې د دروغو اراده هم نه ده کړه او نور هم د الله تعالی څخه اميد لرم چې ما به ترې وساتي.

نو دا ددوی د واقعې خلاصه وه. سبحان الله، د يو تشکيل څخه وروسته پاتې کيدو له امله پرې نبي عليه السلام سلام هم پريږدي، هغه رؤوف او رحيم نبي دومره خفه دی، هغه رب دومره خفه دی چې بندگانو باندې څومره مهربانه دی، خو پنځوس ورځې يې دغه مبارکه صحابه وو ته تاديب ورکړو.

نن سبا تشکيل ته نه تللو له امله د يو چا څخه د مسلمانانو امير خفه شي او ټولو ملگرو ته امر وکړي چې فلاني مسلمان سره خبرې بندې کړئ، او زنانه هم ترې پلار کره وليږي، دغه شان سخت حالت کې ورته د يو اروپايي ملک پاچا خط راوليږي، چې راځه زما خواته او اکرام به دې وکړم، نو خلک به ورته ټينگ شي؟ ډير کم کسان به وي، چې دې امتحان ته ټينگ شي نور خو خلک ورته زارۍ کوي چې مونږ درته تسليميږو مونږ قبول کړئ. لکه طالبان چې د رسميت غوښتنې سوالونه کوي.

او مراره بن الربيع او هلال بن أميه ته وگورئ چې سپين گيري دي، کارونه نشي کولای خو جهاد څخه پاتې کيدل ورته روا نه شول.

[هر کله چې ددغه درې صحابه وو حالت بيان شو، چې سختې پرې راغله خو آخر هم ددوی صدق او رشتيا ورته نجات ورکړو نو وس مومنانو ته وايي چې تاسې هم ريشتينې شئ، او ترغيب دی جهاد ته چې د رشتيني مجاهدينو ملگري شئ]

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ (119)

ژباړه: اې مومنانو د الله تعالی

څخه ويره وکړئ او ربښتينو خلکو ملگري شئ.

تفسير:
[اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ]:

يعني هميش ريشتيا واياست، همدا ريشتيا به تاسې ته نجات درکوي، د هلاکت څخه به مو ژغوري، کارونه به درته آسانيږي.

عَبْدِ اللَّهِ ابْنُ مَسْعُودٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ؛ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا، وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ، فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الكذب، حتى يُكْتَبُ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا".أَخْرَجَهُ الصَّحِيحَان.

ژباړه: ريشتيا لازم ونيسئ، يقينا ريشتيا د نيکۍ په لور ښودنه کوي، او نيکي د جنت په لور ښودنه کوي. او هميش يو سړی ريشتيا وايي او ريشتيا لټوي تر دې چې د الله په نزد ريشتونی انسان وليکل شي. او له دروغو څخه ځان وژغورئ، ځکه دروغ گناهونو په لور ښودنه کوي، او گناهونه اوور په لور ښودنه کوي، او يو کس هميش دروغ وايي او دروغ لټوي تر دې چې د الله تعالى په نزد دروغجن وليکل شي.

او عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما وايي: {وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ} څخه مراد مُحَمَّد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغه ملگري دي، چې هغوی سره شئ.

ضَحَّاكُ وايي: أَبو بَكْر او عُمْر او د دوی دواړو ملگرو سره شئ.

او حَسَن بَصْرِي وايي: کچيرې ته غواړې چې د صادقينو سره شې نو دنيا کې زهد پيدا کړه او خپل ضرر دې له مسلمانانو څخه بند کړه.

[دې آيت کې ترغيب دی جهاد ته، چې نبي عليه السلام سيد البشر او رب ته محبوب شخصيت بنفس نفيس جهاد ډگر ته ځي، نو تاسې ولې پاتې کيږئ، آيا ستاسې علم زيات دی، عمل مو زيات دی، خدمت مو د نبي عليه السلام څخه لوي دی ؟ مصروفيات مو د هغه څخه زيات دي ؟ ستا نفس د نبي عليه السلام د نفس څخه زيات قيمتي دی ؟ که عالم يې، که طبيب يې، که عامي يې ټول ووځئ. دويمه طريقه د ترغيب دا ده چې د جهاد په هر عمل کې اجر ميلاويږي]

مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (120)

ژباړه: نه ده مناسب مديني خلکو لره او هغه چا لره چې ددوی چاپيره دي د بانډچيانو څخه، چې وروسته پاتې شي د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه او نه دې غوره کوي خپل ځانونه د هغه د ځان څخه. دا حکم پدې وجه دی چې نه رسيږي دوی ته تنده او نه ستړيا او نه ولږه په لار د الله تعالى کې او نه گرځي دوی په يو لار چې غصه کوي کافرانو لره او نه ترلاسه کوي دوی د دښمن څخه يو شی مگر ليکلې کيږي دوی لره په بدله د هغه نيک عمل، يقينا الله تعالى نه بربادوي ثواب د ښايسته عمل کوونکو.

تفسير:
[مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ]:

دې جمله کې د مديني خلکو او شاوخوا اوسيدونکو بانډچيانو لپاره تاکيدي ترغيب دی، چې تاسې لپاره دا جايز نه دي چې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم غزا ته زي او تاسې ترې وروسته پاتې شئ، بلکې دا وروسته والی حرام دی. د مديني شاوخوا بانډچيانو څخه مراد د مُزَيْنَة ، جُهَيْنَة ، أَشْجَع ، أَسْلَم او غِفَار قبيلې دي.

[وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ]:

دوی لپاره جايز نه دي چې خپل ځانونه او نفسونه د نبي عليه السلام ځان او نفس څخه غوره وگڼي، د خپلو نفسونو د ساتنې کوشش کوي او دې باب کې بخيلان دي او د نبي عليه السلام د نفس ساتنه د خپل ځان په څير نه کوي، خپل ځانونو باندې زيات حريص دي، او د پيغمبر په ذات باندې دا بعضې خلک دومره حريصان نه دي. لکه نن سبا هم بعضي ملايان په خپلو ځانونو باندې زيات حريص وي، خو په حق باندې حرص نه لري، د حق پروا نه کوي، د حق دفاع نه کوي، خپل مفاد نشي قرباني کولای. والله المستعان. دغه رنگ طالبان دي چې د شرعي نظام نفاذ لپاره خپله چوکۍ نشي پريښودای، نور له جنگ څخه ستړي دي نو امريکايانو ته يې تسليمي ورکړه. [ولا يرغبوا]دلته خبر صيغه ذکر شوې ده، خو مراد ترې امر دی، او خبر راوړلو کې زيات وعيد، توبيخ، رټنه او زجر دی.

[ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ]:

[ذَلِكَ] اشاره ده وجوب ته، چې د نبي عليه السلام سره د جهاد په سفر کې وتل تاسې باندې ځکه لازم دي، چې تاسې ته پدغه لار کې راپيښېدونکي ټولو تکليفونو، کړاوونو او مصيبتونو باندې اجر ترلاسه کيږي. [الظَّمَأُ] تنده. [النَّصَبُ] ستړيا. [الْمَخْمَصَةُ] هغه ولږې ته وايي چې د انسان خيټه ورسره وړه شي.

جهاد کې دا ولږې، تندې او ستړياوې خامخا راځي، نو الله عزوجل دوی ته ترغيب ورکوي چې دغه ظاهري تکليفونو له امله جهاد څخه وروسته مه پاتې کيږئ.

[وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ]:

يعني دوی د کفارو په سيمو کې په قدمونو سره گرزي، مزلونه کوي، يا اسونو سره گرزي، يا اوښانو خپو سره دغه سيمې لاندې کوي، چاپې وهي، اقتصادي کارونه کوي او دغه کار سره کفار سخت خفه کيږي، غوسه کيږي، چې خبر شي مجاهدين دې سيمې ته راغلي وو، کار يې کړی دی، يا يې عمليات کړي دي. نو ډير زور ورته ورکوي، او هغوی چې څومره زيات زوريږي، دومره مسلمانانو ته اجر زيات ميلاويږي. دغه رنگ پدې کې د پرمختگ گامونه هم مرادولی شي، چې کله مومنان د ټيکنالوجی، اختراع او تصنيع په برخه کې گامونه واخلي، د دښمن تکتيکونو پر وړاندې جديد تکتيکونه وکاروي، دښمن سره خدعه وکړي، دښمن څخه د خپل ځان امنيت ساتلو کې مزل وکړي نو دغه مزل او گامونه هم دښمن سخت غصه کوي.

[وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ]:

دوی به دښمن ته تاوان او ضرر رسوي، په وژلو سره، يا اسيرولو سره، يا شکست سره او يا هم غنيمت سره. او يا مونږ وويل چې د جنگ طرحه، پلان، تکتيک، پاليسي، استراتيجي وغيره کې پرمختگ سره دښمن ته قوي ضربه ورکوي. [الْعَمَلُ الصَّالِحُ] څخه مراد هغه نيکي ده چې قبوله شي.

[إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ]:

مجاهدينو ته يې محسنين وويل، ځکه د جهاد عمل چې وي، دا اکثر د احسان درجه کې کيږي، د چا ايمان چې احسان لوړه درجه کې نه وي، نو هغه جهاد نشي کولای. والله أعلم.

[دې آيت کې هم دوی ته ترغيب دی او د مجاهدينو نور اعمال ذکر کيږي، مخکې يې مصيبتونه او تکاليف بدني ذکر کړل وس دلته مالي عبادت او جهاد هم ذکر کوي]

وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (121)

ژباړه: او دوی نه مصرفوي لږ خرچ يا ډير او نه سفر کوي دوی په يو ميدان مگر ليکلې کيږي دوی لره دې لپاره چې بدله به ورکړي دوی لره الله تعالى ډيره ښايسته د هغه عملونه چې دوی يې کوي.

تفسير:
[وَلاَ يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً]:

دلته يې جهاد بالمال هم ذکر کړو، چې وړه صدقه يا غټه صدقه باندې هم دوی ته اجر ميلاويږي، بيا وړه صدقه يې مخکې کړې ده، دا ځکه چې هغه مجاهدين چې په نفسونو سره جهادونه کوي، دوی سره اکثر مال کم وي، نو هغوی ته هم ترغيب دی، چې دغه لږ مال څخه هم خرچه کوئ. او دويمه طريقه د ترغيب دا هم ده چې تاسې چې لږ مال هم مصرفوئ گورئ د رب په نزد باندې دا ډيره لويه مرتبه لري. او بيا وروسته لويه صدقه د مالدارو مسلمانانو سره مناسب ده،

هغه مسلمانان چې رب العالمين پرې د خپل مال پراخي کړي وي، لکه عثمان رضي الله عنه. تبوک کې چې کله نبي عليه السلام د مالي کومک غږ وکړ نو عثمان رضي الله عنه يوه قافله شام لپاره تياره کړې وه، چې په دوه سوه د سامان څخه بار اوښانو او دوه سوه اوقيه سره زر باندې مشتمله وه، دا يې جهاد لپاره ورکړه، بيا يې سل اوښان نور صدقه کړل چې هغه هم د سامان د تجارت نه ډک وو، بيا يې زر دينار (د سرو زرو روپۍ) نبي عليه السلام غيږ ته ورواچولې، تر دې چې نبي عليه السلام دومره خوشحاله شو، هغه يې اړولې راړولې، او بيا يې وفرمايل : «ما ضر عثمان ما عمل بعد اليوم» جامع الترمذي. مناقب عثمان بن عفان 2/ 211.

وايي نن نه پس به عثمان ته هيڅ قسم عمل ضرر ورنه کړي. بيا يې نور مال صدقه کړ، نور يې صدقه کړ، تر دې چې نهه سوه اوښان او سل اسونه يې د الله په لار کې ورکړل او نغدې پيسې يې هم صدقه کړې.

الله اکبر ! دې ته وايي صدقه، چې د ټول جنګ مصرف برداشت کړي. عثمان رضي الله عنه ميليونونه پيسې صرف په يوه ورځ د الله په لار کې ورکړې. او مخکې وروسته يې چې کوم کومکونه کړي وو، د هغې خو حساب نه وو.

د تبوک غزا لپاره عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه دوه سوه اوقيې سپين زر صدقه کړل.

ابو بکر رضي الله عنه د خپل کور ټول سامان راوړو. الله أکبر. چې دا څلور زره درهم وو، او خپل اهل لپاره يې هيڅ هم پرېنښودل. صرف الله او د هغه رسول مينه يې پريښوده. او ابو بکر رضي الله عنه تر ټولو مخکې مال راوړو. نو دې نورو صحابوو د تحريض باعث هم وګرځيد.

وس ګورو چې مونږ او تاسې د الله لپاره څومره صدقه ورکوو ؟

نو ورونو ! د خير په کارونو کې سبقت پکار دی. او نورو ، ملګرو ، اهل و عيال ته هم دعوت پکار دی. بايد د مياشتې مقرر حد د جهاد لپاره وټاکو، چې زه به دومره صدقه د زکات نه علاوه جهاد کې مصرفوم. ان شاء الله.

تبوک غزا لپاره عمر رضي الله عنه د کور نيم سامان راوړو. عباس رضي الله عنه ډير زيات مال راوړو. طلحه، سعد بن عباده، محمد بن مسلمه ټولو د جهاد لپاره مال راوړو. عاصم بن عدي ۹۰ وسقه قجورې راوړې، او هر سړي خپل وس مطابق اخلاص وکړو.

تر دې چې هغه غيرت مندو زنانوو خپل د لاس بنګړي، پازيبونه ، د غوږونو والۍ ، ګوتمې او نور څه يې چې وس وو، هغه يې جهاد لپاره راوليږل.

دې ته وايي ايمان !!! دا زمونږ او ستاسې سلف دي، ځکه خو الله جل جلاله د خپل پيغمبر ملګرتوب لپاره غوره کړي وو.

[وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا]:

وادي، د غرونو او غونډيو ترمنځ پراخه ځای ته وايي، چې سيلابونه پکې زي رازي، چې مراد ترې خوړ هم دی. دا خوړونه او غرونه اکثر د مجاهدينو مسکن وي، ځکه الله عزوجل دلته دا ذکر کړي، او دا مزلونه هم غرونو او صحراګانو پورې لازم وي او دې غرونو کې الله عزوجل د مجاهدينو نآشنا حفاظت کوي، چې د بمونو مور پورې په خراسان کې ګزار شو، خو د الله شان وو، هغه غرونو کې يې دومره اثر نه وو کړی، لکه څومره چې دې کفارو يې دعوه کوله چې بمونو مور داسې تلفات اړولې شي. او نور خوړونو او کورونو کې بيا دغه بمونو لوي لوي کندې جوړې کړې وي.

نو دې صدقو او مزلونو باندې الله عزوجل مومنانو ته لوي اجرونه ورکوي.

[دې آيت کې ترغيب دی علم ته، چې جهاد سره سره علم هم زده کوئ، په فرض کفايي جهاد کې ټول مه وځئ، بلکې بعضې خلک دې علم ته پاتې شي، دا د فرض کفايي قيد مونږ نه لګوو بلکې دا مفسرينو لګولی دی]

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ (122)

ژباړه: او نه ده مناسب چې مومنان دې ټول ووځي (د جهاد يا د علم لپاره) نو ولې نه وځي د هرې ډلې ددوی نه څه کسان دې لپاره چې پوهه حاصل کړي په دين کې او چه ويره ورکړي دوی خپل قوم ته (په بيان ددغه علم) کله چې هغوی راوګرځي دوی ته، دې لپاره چې هغوی ځان بچ کړي د ګناهونو څخه.

فتح القدير کې ليکي: ددې ايت په معنا کې د مفسرينو اقوال دي: اول: دا آيت کريمه هم د جهاد اړوند احکامو پورې مربوط دی، کله چې د جهاد په اړه کلک اوامر وشول، نو کله به چې نبي عليه السلام د کفارو مقابلې ته سريه ليږله نو ټول به وتل، او مدينه به يې تشه پريښوده، نو الله تعالی خبر ورکړو چې داسې مه کوئ، بلکې يوه ډله جهاد ته وځئ او بله ډله پاتې کيږئ. نو پاتې کيدونکې ډله دې علم ترلاسه کړي. او کله چې غازيان راوګرځي نو دوی دې ورته علم ورسوي، يا هم هغه ځای ته ولاړ شي چې هلته د دين معلم وي.

دويم قول: دا دی چې دا آيت د جهاد د باقي احکامو څخه نه دی، بلکې دا مستقل حکم دی چې د علم زده کولو او دين کې فقاهت په پار وتلو امر پکې شوی دی، نو اوس سفر په دوه قسمه شو: د جهاد سفر او د علم د زده کولو سفر.

بيا ددې آيت څخه بعضې علماء د خپل قعود لپاره استدلال کوي او جهاد څخه مانع ذکر کوي، چې رب فرمايي ټول مه وځئ.

جواب: دا بالکل قرآني حکم دی، خو د دې په تطبيق کې تاسې خطاء ياست، هغه داسې، چې آيا ته به په خپله خوښه پاتې کيږې او که نه امير به مناسب خلک ګوري، هغوی ته به دغه دنده ورسپاري؟

او دا صرف د غزوې نه پاتې کيدل دي او که نه جماعت د مسلمانانو به هم پريږدی؟

تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ. [متفق عليه] دا او د جماعت په اړه چې څومره روايات راغلي، د دې محمل بيا څه دی ؟

د دې آيت عملي تفسير نبي عليه السلام څنګه کړی؟ آيا داسې يې کړي چې تبوک غزوې نه يې عبد الله بن مسعود، أبي بن کعب، ابو هريره، معاذ بن جبل رضي الله عنهم وغيره صحابه يې پاتې کړي وي چې تاسې دلته مدينه کې مدرسې جوړې کړئ، او تاسې څخه جهاد ساقط شو ؟

همدغه رنګه دغه آيت سره هجرت خو منسوخ نه دی، هجرت به کوې، امير ته به ځان سپارې.

۲ـ مونږ خو هم ټول مجاهدين يوې غزوې او جنګ ته نه بوځو، هر چا ته خپل مناسب کار ورکول کيږي، دا خو خلافت دی، يو نظام دی، پخواني تنظيمونو په څير بې نظمي نشته، والحمد لله. خلافت هره اداره لري، او نظم وايي همدې ته چې هر سړی خپل مناسب ځای کې مقرر شي، اګر که نوبت باندې د جنګ ميدان ته تګ هم لوي سعادت دی، او مومن ترې نه وروسته کيږي.

۳ـ لکه څنګه مو چې مخکې وويل د دې آيت شان نزول کې دوه اقوال دي، چې دغه مراد ترې بالکليه نه فهم کيږي. امام طبري د دې آيت خلاصه او راجح مقصد دا بيانوي: تر ټولو صحيح قول دا دی چې مومنانو ته نه دي په کار چې ټول جنګ ته لاړ شي او نبي عليه السلام يواځې پريږدي. بايد دوی هم نبي عليه السلام سره پاتې شي چې دين زده کړي. او زمونږ دا قول تر ټولو صحيح دی، ځکه بغير د عذره پاتې کيدونکو په اړه وعيدات راغلي.

[تفسير الطبري ج 14 صـ 573]

امام طبري وايي: د دې مقصد دا دی چې ټول د نبي عليه السلام څخه مه ځئ، غرض نبي عليه السلام سره پاتې کيدل دي، خو بيا حکم عام دی ”العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب ” خو مخکې ذکر شو چې جماعت او امير اجازه شرط ده.

۴ـ بله دا چې د قرآن ټول آيتونو ته به ګورو بيا به يوه نظريه او فکره اخلو، ټول سورت توبې پدې موضوع وه چې جهاد ته ووځئ، مه پاتې کيږئ، آيا آخر د سورت کې الله عزوجل فرمايي چې ټول جهاد ته مه وځئ ؟

نو دا واضحه ده چې دلته فرض کفايي جهاد مراد دی، لکه محدثينو چې کفايي جهاد کې درسونه کول او علمونه به يې بيانول خو دا کارونه هم د امير په اجازه مراد دي.

نو زمونږ هدف د علماؤ اهانت ندی، حق پرسته علماء زمونږ د سر تاجونه دي خو کوم خلک چې خپل جزوي او فرض کفايي دعوت لپاره فرض عين جهاد، جماعت، هجرت، د کفارو ذليله کول، د مسلمانانو نصرت کول، د بنديانو

خویندو ورونو او مظلومینو راخوشې کول، د اسلامي نظام قیام لپاره سعي کول، د قرآن او رسول انتقام اخستل وغیره لسګونو فرائضو څخه ځان بندوي او د قرآن غلط مقصد ذکر کوي، نو هغه خلکو باندې مو رد مقصود دی. او د نفس مسئلې وضاحت مو مطلوب دی.

[ددې آیت کریمه ربط د مخکې سره دا دی چې مخکې د علم ذکر وشو، نو وس به څوک داسې نه کوي چې فقط مدرسې ته به کار وواېي او قتال به نه کوي، بلکې الله عزوجل فرمایي، علم هم زده کوئ خو قتال هم کوئ. علم او قتال دا منافات نه لري. کتاب یهدي وسیف ینصر او د جهاد یو ادب به ذکر شي چې نږدې کافر نه شروع وکړئ.]

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ (123)

ژباړه: اې مومنانو جنګ وکړئ د هغه کسانو سره چې نږدې دي تاسې ته د کافرانو څخه او ودې موندي په تاسې کې کلکوالی او پوهه شئ یقینا الله تعالی خاص ملګری دی د متقیانو.

تفسیر:

[يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً]:

دلته الله تعالی مومنانو ته د نږدې کفارو په خلاف د کلک جنګ حکم کړی دی. جهاد خو ټولو کفارو په خلاف لازم دی خو د نږدې کفارو په خلاف اهم دی، بیا أقرب فالأقرب قاعدې مطابق به جهادونه پرمخ وړلی شي.

دې آیت کې هم د جهاد دوه مهم اصله بیان شو:

اول: نږدې کفارو پر خلاف جګړه.

دویم: کفارو پر خلاف کلک دریځ.

نو دلته رد شو په هغه کسانو باندې چې وایي نږدې کفارو سره جنګ مه کوئ، او لرې کفارو په خلاف جنګ ته لاړ شئ، لکه د پاکستان بعضې ډیموکراتیک ملایانو به دا چیغې وهلې چې افغانستان ته امریکا راغلې ده نو جهاد ورسره فرض دی، او وایې پاکستان کې جهاد ناروا دی. او دې لپاره به یې مختلفه حیلې لټولې، نو دغه نظر ددې آیت کریمه خلاف دی. د هرې سیمې مسلمانانو باندې د نږدې کفارو په خلاف په ټول توان سره جګړه فرض ده.

او بعضې ملایان دا خبره کوي چې ګورئ نبي علیه السلام اول هجرت کړی بیا یې جهاد شروع کړی دی، نو ددې په اړه به لنډ دا ووایو چې هغه وخت خو جهاد فرض نه و، نو آیا اوس هم فرض نه دی ؟ بلکې اوس خو جهاد فرض عین دی، نو هر سړی به امیر ته ځان حواله کوي او د خپل وسع مطابق جهاد به کوي. او هجرت خو په دوه قسمه دی، یو تمکین ته هجرت دی او بل د ښاري شازلمو هجرت دی. کله چې ورته ښار کې د کار امر وشي کار کوي، او کله چې تمکین ته د تګ امر ورته وشي نو بیا تمکین ته ځي. لکه حدیث د سننو کې رازي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْهِجْرَةُ هِجْرَتَانِ: هِجْرَةُ الْحَاضِرِ، وَهِجْرَةُ الْبَادِي، فَأَمَّا الْبَادِي، فَيُجِيبُ إِذَا دُعِيَ وَيُطِيعُ إِذَا أُمِرَ، وَأَمَّا الْحَاضِرُ، فَهُوَ أَعْظَمُهُمَا بَلِيَّةً، وَأَعْظَمُهُمَا أَجْرًا " سنن النسائي.

ژباړه: هجرت په دوه ډوله دی، هجرت د حاضر سړي، او هجرت د بانډې والا، هر چې بانډې والا دی، هغه دا چې کله پرې غږ وکړی شي نو قبلوي، او امر چې ورته وشي نو اطاعت کوي. او هر چې حاضر مهاجر دی، دا په دواړو کې د لوي تکلیف او لوي اجر خاوند دی.

نو هجرت خو دا هم دی چې ښار کې انسان د امیر په امر خپل استوګنځای بدل کړي، چې نن سبا همدا هجرت باقي دی، او تمکین کې د حاضر مهاجر په څیر حسابیږي.

بعضې ذهنونو کې به دا اشکال رازي چې نبي علیه السلام د مدینې یهودو سره جګړه پیل نه کړه، بلکې له مدینې یې بهر جنګ شروع کړ.

ددې خبرې هم زیات جوابات دي، خو لنډ به داسې ووایو چې مدینه کې د نبي علیه السلام دولت قایم و، تمکین و، نظام و، نو نظام قیام نه وروسته حاکم خپل جنګ استراتیجي جوړوي، دغه وخت یهود د نبي علیه السلام دولت څخه مرعوب و، نو نبي علیه السلام د جنګ ضرورت نه و محسوس کړی، او نبي علیه السلام په مکه باندې حمله ونه کړه بلکې د مکې اقتصادي قافلې باندې یې حملې نیت وکړو، دا اقتصادي جګړه وه، چې مدینې سره نږدې وه. او مهاجرینو ته دغه وخت د اقتصادي مرستې زیات ضرورت و، نو د وخت اړتیا موافق د مسلمانانو امیر دغه تصمیم ونیوو، بیا دا خو د رب خوښه وه چې ددې له امله د بدر غزا رامنځ ته شوه، او مشرکان الله عزوجل ذلیله کړل. خو کله چې نږدې دښمن یهودو ورانې شروع کړو، نبي علیه السلام فورا محاصره کړل. او نن سبا صورت حال جدا دی، د کږو منهجونو لارویان او تنظیمونه د یو طاغوت په غیږ کې پناه واخلي، د هغه په امکاناتو او طرحې بل کافر سره جنګیږي، د اسلامي نظام قیام غم ورسره نه وي، د خپل بادار طاغوت ساتنه کوي، کلونه کلونه پرې تیر شي خو دوی په یوه لویشت ځمکه کې شرعي محکمه نشي نافذولی، خو د مخالف لور پر کولو په پار لنډ دلیل نیسي چې ګورئ نبي علیه السلام په ابتداء کې یهودو سره جګړه نه وه کړې!! چې حقیقت کې دا تطبیق خطا دی، نبي علیه السلام خپل نظم درلود، خپله واکمن و، خپل تمکین یې و، اسلامي نظام قایم و، حدود نافذ و، آیا تاسې هم داسې یاست ؟ جواب منفی دی، نو د داسې تمکین لپاره به خواري کوئ، چې کله مو داسې تمکین ترلاسه کړو، او د نبوي اصولو موافق مو د لرې پروت دښمن اقتصادي او تجارتي قافلې باندې برید وکړو او هغې د وجې مو دغه کفارو سره جنګ راغی نو څوک به دربانډې د اعتراض حق نه لري.

هغه ملایان چې دې آیت کریمه په بناء ځانونه د جهاد څخه مستثنی معرفي کوي، هغوی څخه یوه پوښتنه دا ده چې اسلامي نظام قیام خو فرض دی، دار الکفر کې مسلمانان اوسیږي، قوت او غلبه نشته نو اسلامي نظام لپاره مبارزه نږدې کافرو سره جهاد کولو سره پیل شي او که نه بله کومه طریقه یې هم شته ؟ که وي نو تاسې یې مونږ ته راوښایست، ځکه تاسې وایاست چې نږدې کفارو په خلاف مه جنګیږئ، صبر وکړئ تر دې چې الله عزوجل یوه لار خلاصه کړي ؟ نو آیا د جهادي فعالیتونو او حرکتونو او د اسبابو استعمال پرته به اسلامي نظام نافذیږي ؟ آیا نبي علیه السلام طریقه همدا وه چې فقط دعاګانې یې غوښتې او یوازې نرم دعوتونه یې کول ؟ دا خو د ګمراهه تبلیغیانو منهج دی، چې ټوپک ته لاس مه واچوه، ټوپک سره ورانې رازي، کورونه او کلي ویجاړیږي، بچیان یتیمانیږي، ښځې کنډیږي، مینډې بوریږي، بلکې یوازې په جماتونو ګرځئ او د ذکر اذکارو دعوت کوئ، نور قرآن کریم چې د نظام په اړه کوم اوامر دي، کوم احکام دي هغه مه بیانوئ ؟؟

نو کچیرې تاسې سره هم د اسلامي نظام د قیام بله لار نه وي، نو بیا ولې خلک د جهاد څخه کینوئ، که خپله جهاد نشئ کولای، نو په کور کینئ، خو د جهاد څخه مانعین مه جوړیږئ. کفري نظامونو مدافعین مه ګرځیږئ، داسې نه چې ستاسې له امله کفري نظامونه باقي پاتې شي، ستاسې له امله په ځمکه اسلامي قانون مخنیوی کیږي، ستاسې د مبارزې حاصل هم دا راوځي چې د کفارو ظلمونه او وحشتونه دوام وکړي، زندانونو کې عفت مندې خویندې مینډې ټکول کیږي، ځورول کیږي، د پاک لمنو مسلمانو پیغلو عزتونو سره لوبې کیږي، نو خیال کوئ چیرې د امریکا، پاکستان، طالبانو او نورو طاغوتي نظامونو تلې درنې نه کړئ!!

[وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ]:

دې جمله کې د یو سوال جواب دی، چې یا الله نږدې کفار خو ډیر پیاوړي دي، پرمختللي وسایل لري، او مونږ سره هیڅ نوعه اسباب نشته، او بعضې ملایان هم راته وایي چې جهاد مه کوئ، تکلیفونه به درته ورسیږي، شهیدان به شئ، اسیران به شئ، زنانه به مو اسیرانې شي، د دنیاوي مفاداتو لالچ او طمعه راکوي نو مونږ څنګه جهاد شروع کړو ؟

الله عزوجل جواب کوي، چې اې بنده تقوا ځان کې پیدا کړه، زه درته ټولې لارې برابروم، د اسبابو پیدا کول، د اقتصاد، د ملګرو، اسلحې او هر نوعه تجهیزاتو لاس ته راوړلو لارې درته ښایم، خو شرط تقوا او حرکت دی. نو دې سره یې مومنانو ته د نصرت داډ ورکړو چې الله درسره دی نو بیا د څه شي پروا کوئ ؟

[تر دې ځای پورې د جهاد تفصيلي احکام بيان شول، انذار او تبشير، وعد او وعيد ذکر شو، نو منافقانو ته دې سورت سخت درد او زورونه ورکړه، هغوی ويل چې دا سورت ولې نازل شو، او په طريقه د استهزاء يې ويل چې تاسې کې يې د چا ايمان زيات کړو ؟ يو بل ته يې د استهزاء په شکل دا ويل او يا يې مومنانو ته ويل دې لپاره چې هغوی په اسلام کې شکيان کړي. نو الله عزوجل به جواب وکړي، چې دا د مومنانو ايمان زياتوي]

وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ (124)

ژباړه: او کله چې نازل کړی شي يو سورت، نو بعضې ددې خلکو هغه څوک دي چې وايي دې سورت په تاسې کې د کوم يو ايمان زيات کړ. نو هر چې هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی نو زيات يې کړو هغوی لره په ايمان کې او هغوی خوشحالي کوي (ددې سورت په نازليدو).

تفسير:
[وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا]:

د مومن ايمان سورت توبې سره زياتيږي او جهاد شروع کوي خو د چا ايمان چې سورت توبې سره نه زياتيږي، نو هغه کسانو کې صفت د نفاق دی. هر سړی دې ځان وتلي. والله المستعان.

ايمان زيادت او نقصان قبلوي، همدا د سلف صالحينو عقيده ده، بار بار قرآن کريم کې راغلې ده، احاديثو کې راغلې ده، د صحابه وو او تابعينو نه هم نقل ده، برابره خبره ده که دا زيادت په تصديق او يقين کې وي او که نه دا په نفس اعمالو کې وي.

او قرآن کريم کې د جهاد په باب کې د ايمان زيادت څو ځايه ذکر شوی، يو خو د سورت توبې همدا آيت مبارکه شو، دغه رنګ سورت آل عمران، الأنفال، الأحزاب، الفتح او داسې نور.

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ (173) سورة آل عمران.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (2) سورة الأنفال.

وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا (22) سورة الأحزاب.

هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوا إِيماناً مَعَ إِيمانِهِمْ وَلِلَّهِ جُنُودُ السَّماواتِ وَالْأَرْضِ وَكانَ اللَّهُ عَلِيماً حَكِيماً (4) سورة الفتح.

نو اشاره ده دې خبرې ته چې جهاد زيات ايمان غواړي، د ايمان تجديد غواړي، په کمزوري ايمان جهاد نه کيږي، لکه مخکې دا نکته بيانه شوه چې احسان درجه کې د انسان ايمان نه وي نو هغه جهاد نشي کولای. الله عزوجل دې مونږ تاسې ته استقامت راکړي. آمين.

نو دې منافقانو ايمانونه هم تش د خولې دعوې وې، نو ځکه جهادونو ته نه حاضريدل، ډاريدل او د پاتې کيدو لپاره به يې هره ناممکنه لار لټوله. خپله خو يې حقيقي ايمان نه درلود نو ځکه به يې مومنانو پسې هم ټوقې کولې چې سورت توبې مو کوم ايمان زيات کړی او که نه ؟ هدف يې استهزاء وه.

[مخکې د مومنانو حال ذکر شو چې د قتال سورت سره يې ايمان زياتيږي، او وس ددې منافقانو حال ذکر کوي، چې د قتال سورت سره ددوی نفاق او کفر زياتيږي]

وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ (125)

ژباړه: او هر چې هغه کسان دي چې په زړونو کې يې مرض د نفاق دی نو زياتوي دا سورت هغوی لره په ناولتوب کې سره د مخکني ناولتوب د هغوی، او مړه کيږي دوی په داسې حال کې چې کافران وي.

تفسير:
[وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَى رِجْسِهِمْ]:

هغه کسان چې زړونو کې يې مرض دی، مراد ترې منافقان دي چې زړونو کې يې د شک او نفاق مرض دی، نو دا سورت مبارکه يې په خباثت کې زياتوي. علامه شوکاني ليکي: [خُبْثًا إِلَى خُبْثِهِمُ الَّذِي هُمْ عَلَيْهِ مِنَ الْكُفْرِ وَفَسَادِ الِاعْتِقَادِ، وَإِظْهَارِ غَيْرِ مَا يُضْمِرُونَهُ وَثَبَتُوا عَلَى ذَلِكَ وَاسْتَمَرُّوا عَلَيْهِ إِلَى أَنْ مَاتُوا كُفَّارًا مُنَافِقِينَ.] ژباړه: خباثت يې د مخکني خباثت سره زياتيږي، هغه چې دوی پرې مخکې نه و، د کفر، د عقيدې د خرابوالي او د دوی د پټو خبرو خلاف ښکاره کول او پدې باندې کلکوالی او دوام تر دې چې کفار او منافقان مړه شي.

قرآن کريم خو د هدايت کتاب دی، اما څوک چې ضديان وي، معاندين وي، مستکبرين وي هغوی ترې هدايت نه اخلي. نو دغه رنګ دا منافقان هم دي، چې څومره د جهاد آيتونه راځي او دوی ترې انکار کوي، نه يې مني، جهاد ته نه وځي، وسوسې اچوي مومنانو ته، صحابه وو او مجاهدينو پسې استهزاء کوي نو هغومره ددوی کفر، منافقت او خباثت کې زيادت رازي. د يو آيت څخه انکار هم کفر دی، خو د سلو او زرو آيتونو څخه انکار لوی کفر دی.

[اوس دې آيت کريمه کې د جهاد په وخت د منافقانو نور قباحتونه ذکر کيږي، او دې کې به ضمنا ددوی د مرض علاج هم بيان شي، چې توبه ويستل، نصيحت قبلول او د جنګ ډګر ته تلل دي]

أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ (126)

ژباړه: آيا دوی سوچ نه کوي چې يقينا په دوی باندې امتحان راځي، په هر کال کې يو ځل يا دوه ځل، بيا دوی توبه نه کوي او نه دوی نصيحت قبلوي.

تفسير:
[أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ]:

امام ابْنُ جَرِير وايي د [يُفْتَنُونَ] معنا ده [يُخْتَبَرُونَ]، امتحان پرې کولای شي. الله عزوجل دې منافقانو باندې هر کال يوځل يا دوه ځل لوي امتحان راولي، دې لپاره چې دوی به د خپل کفر، نفاق او د جهاد څخه وروسته پاتې کيدو څخه توبه وباسي. خو دوی د ايمان او اسلام په شان قيمتي جوهر لايق نه و، ځکه همداسې ناولي ګرځيدل.

امام مجاهد معنا کوي: [يَبْتَلِيهِمُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ بِالْقَحْطِ وَالشِّدَّةِ]. ژباړه: الله تعالی يې په قحط او سختۍ سره امتحانوي. ابن عطية وايي: بالأمراض والأوجاع. ژباړه: الله تعالی يې په مرضونو او تکليفونو امتحانوي. امام قَتَادَةُ او حَسَن وايي: [بِالْغَزْوِ وَالْجِهَادِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى الله عليه وَسَلَّمَ وَيَرَوْنَ مَا وَعَدَ اللَّهُ مِنَ النَّصْرِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ بِسَبَبِ ذَلِكَ]. ژباړه: د نبي عليه السلام په ملګرتيا کې جهاد او غزا سره يې امتحانوي. او دوی د الله تعالی لخوا د نصر وعده هم ګوري خو بيا هم ددې له امله توبه نه وباسي.

او همدا معنا راجحه ښکاري، ځکه د سياق او سباق مناسب ده، د منافقانو د جهاد سره سخته ورانه وه، اګر که قحطونو او مرضونو څخه به هم ډاريدل، ځکه د دوی مقصود مال، مکان او نفس و، خو جهاد کې به د نفس ضياع ورته يقيني ښکاره کيده، ځکه به چې کله د غزا اعلان وشو دوی باندې به ډيره سخته تماميده. او چې دوی به غزا کې ارجاف کوو، دروغو خبرونه به يې خپرول، مسلمانانو صفونو کې به يې اختلاف او فساد کوشش کاوه، الله تعالی به يې په اړه قرآن کريم کې بيان راوليږو او خه به يې وشرمول. نو دا هم دوی لپآره لوي امتحان و، په کور کلي کې به يې بيا چاته مخ نشو ښکاره کولای، ځکه د منافق په نوم به مشهور شو.

په [أو لا يَرَوْنَ] کې همزه د توبيخ، انکار او رټنې لپاره ده، او واو په مقدر عبارت باندې عطف دی، نو عبارت به داسې شي: [لَا يَنْظُرُونَ وَلَا يَرَوْنَ] ژباړه: دوی نه ګوري او نهويني ؟

او دا د الله تعالی لخوا د مومنانو لپاره د منافقانو حال څخه تعجب دی او د هغوی په نفاق کې د پوخوالي او د عبرت او حقيقي نظر کولو پريښودلو بيان دی.

[اوس په دې آيت مبارکه کې د منافقانو بل بد خصلت ذکر کيږي، چې دوی د قرآن مجلس څخه تښتي]

وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ نَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ هَلْ يَرَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوا صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ (127)

ژباړه: او کله چې نازل کړی شي يو سورت نو ګوري بعضې ددوی نه بعضو ته (اشاره کوي يو بل

ته په سترګو) آيا ويني تاسې لره څوک، بيا وګرځي د مجلس ستاسې څخه او ګرځوي الله تعالی زړونه ددوی د حق نه، پدې وجه چې دا داسې قوم دی چې نه پوهيږي.

تفسير:
[وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ نَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ هَلْ يَرَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوا]:

کله به چې نبي عليه السلام په مجلس کې قرآن کريم بيانوو، نو دې منافقانو به يو بل ته وکتلې، او دا خبره به يې يو بل ته وکړه، چې آيا مومنان مونږ ته ګوري ؟ دې لپاره چې مونږ دې مجلس څخه وتښتو، مونږ دا وحې نشو اوريدلای، او دې لپاره چې هلته خپل مجلس کې خبرې وکړو، پيغورونه او ټوقې وکړو، زړه آزاد کړو.

داسې بدبخته خلک وو چې د الله د نبي په مبارکه خوله به قرآن کريم بيانيدو او هغوی به ورته تنګيدل، او صحابه کرامو به د نبي عليه السلام په مجلس کې لاندې کتل او ټوله توجه به يې د هغه مبارکې وينا ته وه نو ځکه به دې منافقانو د تيښتې کوشش کاوه.

يا دا معنا يې هم شوې چې کله به قرآن کريم د منافقانو بد صفتونه او عيبونه بيانول نو دوی به سترګو کې يو بل ته وکتلې او په سرونو به يې اشارې وکړې، ځئ چې ځو، نو ايسته به کورونو ته لاړل.

او دا د باطل نښه وي، چې حق ته نشي ټينګيدای، اذان چې شروع شي نو شيطان بيا تښتي، او د اجتماعي کار پر مهال د مجلس څخه پرته له اجازت وتل د منافقانو ناکاره صفت دی. سورت النور کې رازي:
قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (63) سورة النور.

ژباړه: الله په تاسې کښې هغه خلك ښه پيژني چې يوبل ته ځانونه پناه کوي او غلي غونډې په سکېدلو وځي. دپيغمبر عليه السلام له حکم څخه سرغړوونکي بايد ووېرېږي چې په کومه فتنه کښې اخته نه شي يادردناك عذاب پرې رانشي.

بل ځای کې يې الله عزوجل داسې مثال بيان کړی دی لکه څنګه چې خره د زمري څخه تښتي. دغه شان دا باطل پرسته خلک د قرآن کريم څخه تښتي.
فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ (49) كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُسْتَنْفِرَةٌ (50) فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ (51) سورة المدثر. ژباړه: نوپه دغو خلکو څه شوي دي چې دوي له دې نصيحت نه مخ اړوی. ګواکې دوي ځنګلي خره دي. چې د زمری له ويرې وتښتيدل.

نن سبا زمانه کې هم ددې آيتونو مصداقات زيات دي، د تبليغيانو په شان داسې خلک هم شته چې قرآن کريم درس نه همداسې د خرو په څير تښتي، او فضائل أعمال په نوم کتاب درس او د دروغو واقعاتو ته خه خوشحاليږي.

همدغه رنګه طالبان، د پاکستان حکومت او د نړۍ نور تش په نوم اسلامي دولتونو حاکمان او پلويان دي، چې د الله نظام ته يې راوبلې، چې تاسې د الله کتاب ولې نه حاکموئ، ولې حدود نه جاري کوئ، ولې شرعي محاکم نه نافذوئ ؟ ولې د الولاء والبراء عقيده نه ساتئ ؟ ولې تاسې د انګريزانو غلام اتاترک او امان الله خان کليزې لمانځئ ؟ ولې تاسې د مسعود، عبد العلي مزاري او نورو طواغيتو په قبرونو د غير شرعي ابادي او شرکي مزارونو ساتنه کوئ ؟ نو زر به درته شروع شي چې تاسې خوارج ياست، ستاسې مرګ پکار دی !! الله أکبر، بالفرض که يو خارجي دا پوښتنه وکړي نو آيا جواب يې همدا جوړيږي ؟ آيا د يو کس په خارجيت سره د امريکا په اشاره تعطيل شوي حددود او د شريعت د تعطيل کړنه روا ګرځي ؟ او د خوارجو صفات هم بايد وکتل شي چې څوک مسلمانان وژني او کفار پريږدي ؟ آيا همدې طالبانو ونه ويل چې د اسرائيل يهودو سره مشکل نه لرو، هندوانو سره يې کلکې اړيکې دي، دوستي ورسره لري، روافضو په اقتداء کې مونځونه کوي، او بل خوا دوحه قطر کې د باداري امريکا سره د اسلامي خلافت مجاهدينو او موحدينو د قتل پلانونه مطرح کوي.

[ثُمَّ انْصَرَفُوا]: دوی به وګرځيدل ددغه مجلس څخه خپلو کورونو ته. او يا د هدايت او ايمان څخه به کفر او نفاق ته وګرځيدل. په ځای ددې چې دوی ايمان راوړی وی نو دوی کفر ته وګرځيدل.

[صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ]:

منافقان د نبي عليه السلام مجلس څخه وګرځيدل، جزاء من جنس العمل وي، نو الله عزوجل ورله زړونه هم وګرځول. دا بيا د رب له لورې ښيرې دي.
[صَرَفَهَا عَنِ الْخَيْرِ وَمَا فِيهِ الرُّشْدُ لَهُمْ وَالْهِدَايَةُ] ژباړه: الله تعالی ددوی زړونه د خير او هغه څه څخه وګرځول چې دوی لپاره پکې لارښودنه او هدايت و.

او الله عزوجل خو د زړونو اړونکی راړونکی دی، ځکه به نبي عليه السلام عليه السلام دعا کوله:
«يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» سنن الترمذي. ژباړه: اې د زړونو اړونکيه زما زړه ستا په دين باندې کلک کړه.

ډير ويره پکار ده، ځکه هسې نه چې يو عمل د انسان څخه ترسره شي او دا به پرې باک هم نه کوي، خو الله عزوجل به يې ددغه عمل له امله د حق څخه زړه واړوي. معاذ الله. طالبانو هم د شريعت څخه اعراض وکړو، د قطر سياسي دفتر جوړوني پر وخت ورته مخلصو مجاهدينو وويل چې دا څه کوئ ؟ آيا تاسې د همدې بين الملل په سر امريکا سره جګړه رانغله ؟ اوس بيرته همدې بين الملل قانون ته تسليمي ورکوئ ؟ خو دوی تکبر کې و، او د حق څخه يې سرغړونه وکړه نو الله عزوجل هم ورله زړونه کاږه کړل، او هغه کشران چې په لومړيو کې به يې کله نا کله د شريعت شعارونه ورکول، اوس هغوی هم د ښار په عياشيو او مزو روږدي شوي دي، د شريعت او اسلامي نظام د تنفيذ خبرې ترې هيرې دي.

[قوم لا يفقهون] دا علت ددوی د ګمراهۍ دی، چې دوی ولې د نبوي مجلس څخه اوړي، دوی ولې د توحيد څخه کفر ته اوړي ؟ نو جواب وشو چې په دين کې پوهه نه لري. او ځان هم پرې نه پوهه کوي. د جهل او حق څخه د اعراض مرض پکې پروت دی.

[دې آيت کريمه کې الله عزوجل د نبي عليه السلام صدق او عظمت شان بيانوي، دې لپاره د چا دا فکر رانشي چې نبي عليه السلام مونږ ته جهادونه او هجرتونو مشکلات راوړي، لکه دا منافقانو به دا ګمان کوو.]
لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (128)
ژباړه: يقينا راغلی دی تاسې ته رسول صلی الله عليه وسلم چې ستاسې د جنس څخه دی، ګران دی په هغه باندې تکليف ستاسې، حرص کونکی دی په راوړلو د ايمان ستاسې، خاص په مومنانو باندې ډير مينه کونکی او رحم کونکی دی.

تفسير:
[لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ]:

آخر د سورت کې الله عزوجل د نبي عليه السلام عظمت شان بيانوي.

فتح القدير ليکي: [مِنْ أَنْفُسِكُمْ: مِنْ جِنْسِكُمْ، فِي كَوْنِهِ عَرَبِيًّا] ستاسې د جنس څخه دی، په عربي النسل کيدو کې. او د جمهورو مفسرينو په نزد دا قول راجحه دی چې دا قول عربو ته خطاب دی چې اې عربانو! تاسې ته خو الله تعالی د لوي شان والا نبي راليږلی دی. خو زَجَّاج وايي: [هِيَ خِطَابٌ لِجَمِيعِ الْعَالَمِ] دا ټول عالم ته خطاب دی. بيا به معنا دا شي: [لَقَدْ جاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ جِنْسِكُمْ فِي الْبَشَرِيَّةِ] يقينا تاسې ته ستاسې د جنس څخه بشر رسول راغلی دی.

نو دلته رد دی په هغه بريلويانو، سيفيانو او نورو هغه ډلو باندې چې وايي نبی عليه السلام بشر نه دی. قرآن کې الله تعالی وايي ستاسې د جنس څخه دی، خو دوی يې نه مني، چې نه زمونږ جنس څخه ندی، باطل تاويلات ورته لټوي، سره ددې چې قرآن کريم به په ظاهر حمل کولای شي ترڅو چې مضبوطه قرينه صارفه نه وي. خو دا باطل پرسته قرآن کريم آيتونه تاو راتاو کړي، بيا ترې خپل استدلال ثابتوي، لکه د سيفيانو يو غټ مشر و، الله عزوجل د اسلامي خلافت مجاهدينو په لاس پيښور کې هلاک کړو، هغه وايي چې څوک د مړي خيرات نه مني دا کافر دی ؟ غيرشرعي کوم خيراتونه چې دوی کوي، هغه يادوي !! وايي زه يې د قرآن کريم څخه ثابتوم، خلک هم حيران شي چې دا قرآن کې کوم ځای کې ليکل شوي ؟ خو سړی لګيا شي، د سورت

بقرې ابتدايي آيتونه ولولي. [الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (3)] ژباړه: هغه کسان چې پر ناليدلو ايمان راوړي، لمونځ قائموي او کومه روزي چې مونږ هغو ته ورکړېده له هغې نه يې د الله په لاره کښې لګوي.

حاضرين او سامعين معطل وي چې اوس به مفتي صيب نآشنا استدلال کوي، وايي ګورئ د مومنانو او متقيانو صفات الله عزوجل ذکر کوي، چې ايمان به په غيبو راوړي، مونځ پابندي به کوي، او خيراتونه به کوي، نو څوک چې خيراتونه نه کوي، هغه مومن نه دی، متقي نه دی، او چې مومن نشو نو کافر شو!! لاندې ناست خلک ورته داسې خوشحاله شي! سبحان الله ، دا صغری کبری يې وجنګوله او نتيجه يې ترې راوويستله. نو د الله کتاب وايي نبي بشر دی، خو د مکې مشرکانو هم ويل چې نه، بشر نبي نشي کيدای، بايد ملائک نبي وای او د نن زمانې مشرکان هم وايي چې نبي بشر نشي کيدای، څومره مشابهت دی د دواړو ډلو ترمنځ ؟ سورت ابراهيم کې انبياء کرام وايي:

قالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِنْ نَحْنُ إِلاَّ بَشَرٌ مِثْلُكُمْ (11)

سورت کهف کې هم الله تعالی لخوا نبي عليه السلام ته ويل شوي چې دې خلکو ته واضحه اعلان وکړه چې زه بشر يم:

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلهُكُمْ إِلهٌ واحِدٌ (110)

سورت فصلت کې هم فرمايي:

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلهُكُمْ إِلهٌ واحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِلْمُشْرِكِينَ (6)

نو دا د ټولو انبياؤ عقيده ده چې نبي بشر دی، خوراک څښاک ته حاجت لري، قضاء حاجت ته ضرورت لري، بيبيانې او اولاد لري، زمونږ په څير ژوند کوي نو دا نور نشي کيدای بلکې بشر دی. خو سابقه مشرکانو، بيا د مکې مشرکانو او د هغوی تابعدارنو مشرکانو نن زمانه کې هم دا عقيده ده چې نه نبي به بشر نه وي، نبي به نور وي.

[عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ]

دا مَا مَصْدَرِيه ده، معنا دا چې ستاسې تکليف په هغه باندې سخت تماميږي. ځکه هغه ستاسې د جنس څخه دی او ستاسې د هدايت لپاره راليږل شوی دی.

ملائکو د جنس نه ندی، جني ندی. همدا ستاسې په شان جسم لري، دې ځمکه کې بشر اوسيږي نو ځکه بشر نبي ورته پکار دی، چې د بشر حالات درک کړي، د بشر تقاضاؤ ته رسيدګي وکړي، کچيرې دلته ملائک اوسيدای، نو بيا به الله تعالی د ملائکو څخه نبي راليږلی. نبی عليه السلام بشر و، د جهادونو مزلونه، ولږې، تندې، زخم، شهادت او اسارت وغيره دې ټولو تکاليفو کې د صحابه وو په څير انسان و، نو ځکه يې د هغوی اوضاع او احوال خه درک کولای شول.

[وَالْعَنَتُ: التَّعَبُ لَهُمْ وَالْمَشَقَّةُ عَلَيْهِمْ بِعَذَابِ الدُّنْيَا بِالسَّيْفِ وَنَحْوِهِ، أَوْ بِعَذَابِ الْآخِرَةِ بِالنَّارِ، أَوْ بِمَجْمُوعِهِمَا] ژباړه: عنت څخه مراد د هغوی سترپا يا په هغوی باندې دنيا کې د تورې وغيره د عذاب سختوالی مراد دی، يا په اوور سره د آخرت عذاب سختوالی مراد دی، او يا دواړه مراد دي. يعني نبی عليه السلام باندې دنيا کې د صحابه وو زخمونه، دردونه او تکليفونه سخت لږيدل، او دا خو هيڅکله هم نه غواړي چې زما موحد امتيان دې جهنم ته داخل شي

.

[حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ]:

[شَحِيحٌ عَلَيْكُمْ بِأَنْ تَدْخُلُوا النَّارَ، أَوْ حَرِيصٌ عَلَى إِيمَانِكُمْ. وَالْأَوَّلُ أَوْلَى وَبِهِ قَالَ الفَرَّاءُ] ژباړه: ستاسې جهنم ته تګ باندې بخيل دی، يا ستاسې ايمان راوړلو باندې حريص دی، اوله معنا غوره ده، او دا د فراء قول دی.

[رؤوف رحيم]: اې عربانو يا اې ټولو خلکو، دا نبي عليه السلام ستاسې کې مومنانو سره زياته مينه لري او په هغوی زيات مهربانه دی.

د محمد رسول الله عليه السلام خپل امت سره احسانونه له شميره وتلي دي، ددې امت د نجات په پار چې هغه کومې ژړاګانې کړي دي، شپې يې په ويښه تيرې کړې دي، په ژړا به يې ځمکه لمده شوه، ګيره به يې هم لمده شوه، جبرائيل به راغی چې د آسمانونو مالک رحمان ذات وايي ولې ژاړې اې محبوبه ؟ محمد رسول الله عليه السلام به ورته وفرمايل: أمتي أمتي. د امت د غمه ژاړم. داسې خيرخواه نبي الله عزوجل راکړی و، خو افسوس چې نن مرتد حاکمانو نظامونو کې ددغه نبي عزت کنځل کيږي، خو دوی پرې پروا هم نه کوي هغه طالبان چې ځانونه تر ټولو سوچه مسلمانان او خپل نظام سوچه اسلامي نظام بولي خو زمونږ د خوږ نبي د عزت دښمنانو سره يې دوستي وکړه، د عائشه مور په عزت يې معامله وکړه، د روافضو په اقتداء کې مونځونه کولو سره يې ځانونه امت مسلمه ته پاتې راوستل. والله المستعان. نو نبي عليه السلام به کوم کوم احسان سړی ياد کړي، د قريشو لخوا ددې توحيد دعوت په پار له مرۍ څخه زندۍ شوی دی، درې کاله بند يې تير کړی دی، بد رد يې اوريدلي دي، ليونی، شاعر او کاهن ورته ويل شوي دي، په سجده کې پرې ناولتوب اچول شوی دی، په طائف کې په کاڼو ويشتل شوی دی، تر دې چې د بدن مبارک څخه يې وينې روانې شوې، په احد کې يې غاښونه شهيدان شوي دي، په احزابو غزا کې يې خيټې پورې کاڼي تړلي دي، د تبوک په دشتو او ډاګو کې يې مزلونه کړي دي، او ټول ژوند يې امت ته خير رسولو کوشش کړی دی، د مريضانو پوښتنه يې کړې ده، تنګدستو سره يې مرسته کړې ده، د ظالم لاس يې نيولی دی، د استئصالي عذاب څخه يې زمونږ لپاره پناه غوښتې ده، آخري زمانه کې دين باندې کلک پاتې کيدونکي مومنان يې خپل ورونه بللي دي، او آن تر دې چې کله د قيامت سخته ورځ وي، لمر د يو ميل په اندازه راښکته شوی وي، الله عزوجل مخې ته د آدم عليه السلام نه تر عيسی عليه السلام پورې هيڅ يو نبي هم نشي ورتللای، دغه وخت چې محمد رسول الله عليه السلام خپل سر مبارک د الله په دربار کې په سجده کيږدي، او اله العالمين لخوا ورته غږ وشي چې اې محمده، صلی الله عليه وسلم، سر دې راپورته کړه، ته غوښتنه کوه مونږ يې درپوره کوو، ته شفاعت کوه مونږ يې قبلوو، دغه وخت به نبي عليه السلام همدا غږ کوي أمتي أمتي، يا الله زما امت سره د احسان معامله وکړه. الله أکبر، دا دی خيرخواه نبي. خلک به د ځان په غم کې وي، حتی انبياء به هم لړزيږي، د خپل ځان غم به ورسره وي، خو محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه شخصيت دی چې دغه ورز به هم زما او ستا غم کوي! آيا دغه نبي سره وفاداري نده پکار ؟ آيا ددغه نبي راوړې شريعت نفاذ ندی پکار ؟ آيا داسې نظام قيام لازم ندی چې ددغه نبي عزت پکې خوندي وی، او ددغه نبي سپکاوی کونکي پکې ذليله شي ؟

[د سورت مبارکه آخري آيت کې داعي ته تسلي ورکوي، مجاهد في سبيل الله ته ډاډ ورکوي، چې اې مجاهده، ډيره مبارزه دې وکړه، خو چا درسره خبره ونه منله، نو خفه کيږه مه، ته چې د کوم ذات لپاره کوششونه کوې، هغه ستا خواری وينې]

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ (129)

ژباړه: نو که دوی مخ واړوو نو ته ورته اووايه چې کافي دی زما لپاره الله تعالی، نشته هيڅوک مددګار سيوا د هغه نه، خاص په هغه باندې ما ځان سپارلی دی او هغه خاوند د عرش لوي دی.

تفسير:

[فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ]:

دا نبي عليه السلام ته تسلي ده، کچيرې د مکې مشرکانو د توحيد منلو څخه انکار وکړو، دې منافقانو حقيقي اسلام راوړلو څخه انکار وکړو، ستا شريعت نه مني، د الله احکامو ته يې شاه واړوله نو ورته اووايه زما لپاره الله کافي دی. نشته حقدار د بندګۍ سيوا د هغه څخه. يعني چې خالق او اله زما سره مل دی نو بيا زه نور څه غواړم ؟

چې ددغه مشفق نبي خبره هم د امت بدبخته خلک نه مني نو الله تعالی هم مستغني ذات دی، دوی ته حاجت نه لري، الله کافي دی. لکه په غار ثور کې چې ورله کافي شوی و، لکه بدر، احد، احزاب، حنين او تبوک کې ورله کافي شوی و.

او بيا دا تسلي هر امير او هر مجاهد ته شامله ده، چې تا خو د خلکو زياته خيرخواهي وکړه،

شپه او ورز دې په ځان يوه کړه، کله يو خوا د اسلام نصرت په پار کوشش کوې، او کله بل خوا، کله اقتصاد ته توجه کوې، او کله امنيت ساتنه کوې، کله د اسيرانو غم دې قرار نه پرېږدي نو کله د يتيمانو په پار سوچونه او فعاليتونه کوې، کله د الله دښمن وهلو په پار نقشې او پلانونه مطرح کوې، ځلوريشت ساعته دې ځان د الله د دين نصرت په پار وقف کړی، خو بيا هم خلک ستا خبره نه مني، خلک حق نه قبلوي، خلک د باطلې عقيدې څخه نه اوړي، د دومره واضحه حجتونو څخه وروسته هم د طالبانو کشران حق نه درک کوي نو خير دی مه خفه کيږه، ستا لپاره الله کافي دی، الله به ستا کومک کوي، دا خلک به لرې کړي، نور صالحه خلک به راولي، يا که ته دغه مبارزه کې شهيد هم شوې ستا کړې محنت له برکته به ستا د شهادت نه وروسته يو پياوړی اسلامي نظام قايم شي، چې تا ته به يې قبر کې اجرونه درسيږي. او که داسې هم ونشوه نو تا خپل مسؤوليت ادا کړو، د قيامت په ورز به رب العالمين ددې خلکو څخه پوښتنه کوي. الله تعالى داعي ته تسلي ورکوي:

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ عَلَى مَا يَفْعَلُونَ (46) سورة يونس.

وَإِنْ مَا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ (40) سورة الرعد.

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ (77) سورة غافر.

[عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ]:

[أَيْ: فَوَّضْتُ جَمِيعَ أُمُورِي] يعني ما خپل ټول کارونه هغه ته وسپارل. توکل يو ځانګړی عبادت دی، چې جهاد او د نبوت منهج موافق دعوت کې زيات پکارېږي، او دلته د کافر او مومن فرق راوځي، اسباب دواړه استعمالوي خو چې اسباب ختم شي، کافر نااميده شي، خپلو باطلو معبودانو څخه د کومک طمعه نه لري او مومن بيا په رب توکل کوي.

او پرته له اسبابو توکل بيا غير شرعي توکل دی، اسباب به مجاهد ټول استعمالوي بيا به په الله توکل کوي.

[وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ]

دې جمله کې د تسلي مزيد تاکيد دی، چې اې نبي عليه السلام، اې جهادي رهبره، اې مجاهده ته هغه ذات ته ځان وسپاره چې د لوی عرش مالک دی. ځکه عرش أعظم المخلوقات دی، ټولو مخلوقاتو کې ستر مخلوق دی، د مخلوقاتو لپاره د بام مثال لري، د ځمکو او آسمانونو او ددوی ترمنځ ټولو شيانو څخه غټ دی، هغه ذات چې علم يې د ټولو شيانو احاطه کړې ده، قدرت يې په هر مخلوق باندې نافذ دی. او دلته رد دی په هغه ډلو او افرادو باندې چې ځانونه مخلوقاتو ته حواله کوي لکه د مکې قريشو به د مزل پرمهال په دشتو کې د پيريانو مشرانو څخه پناه غوښتله او ځان به يې ورته حواله کوو، او نن سبا هم د طالبانو په نوم او نورو نومونو باندې مختلف تنظيمونه خپل ځانونه او واکونه د بين الملل کفارو ته حواله کوي چې دوی پدې کار سره دا کفار رب العالمين شريکان وګرځول او دا کار کفر دی.

[الْعَظِيمِ]

دې کې دوه اعرابات دي، جمهور وايي دا مجرور دی او د عرش صفت دی. او ابن محيصن وايي دا مرفوع دی او د رب صفت دی.

بيا دا دعا لوستل د ابو درداء رضي الله عنه څخه ثابت دي، چې اوه ځل سهار او اوه ځل ماښام ولوستل شي الله عزوجل به يې د غمونو څخه کافي شي. البته د سنن أبي داود وغيره حديث متن منکر دی، او موقوف اثر د ثقه رجالو سره ثابت دی، نو ويل به يې روا وي. ان شاء الله. والحمد لله رب العالمين.

پدې ځای باندې د سورت توبې تفسير پای ته ورسيدو، الله عزوجل دې ليکوال، تصحيح کونکي، ناشرينو او ټولو لوستونکو مسلمانانو لپاره دنيا او آخرت کې د نجات سبب وګرځوي. آمين. وصلى الله على النبي محمد.

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

دولسم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته و جلاله و لا يخفى عليه شئ من أمور العالم و أفعاله و عليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمولوستونکو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع کړې وه، تير درس کې مونږ د الله تبارک و تعالى د ساق صفت د اثبات متعلق دلائل ذکر کړي وو اوس دې درس کې د لوی الله په توفيق الله تبارک و تعالى ته د هغه د شان او جلال موافق د قدم په اثبات دلائل ذکر کوو

البحث الأهمّ في إثبات الرجل والقدم

دا چې د تمهيدي بحث د ضرورت موافق د الله تعالى د ذاتي صفت د ساق په اثبات کې په تير باب کې بحث وکړی شو نو راځو د لوی الله په فضل په دې باب کې د الله تبارک و تعالى د يو بل ذاتي صفت په اثبات کې دلائل ذکر کوو چې هغه قدمونه د الله متعال دي، عزتمندو مسلمانانو ورونو!

الله تبارک وتعالى ته د قدمونو صفت کمايليق بذاته و جلاله د هغه قبيلې څخه دی چې اثبات يې په صحيح احاديثو کې شوی البته لوازم د قدمونو يې ځانته په قران کې هم ثابت کړی لکه (مجئ) او (إتيان) چې په خپل مقام کې به ذکر شي ان شاءالله.

اوس راځو د قدمونو په اثبات مرفوع أحاديث ذکر کوو

(۱) صحيح البخاري کې روايت دی فرمايي عن أنس رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يلقىٰ فى النار و تقول: هل من مزيد، حتى يضع قدمه، فتقول قط قط.

ژباړه: انس بن مالک رضی الله عنه د نبي صلی الله عليه نه روايت کوي فرمايي چې هغه وفرمايل غورځولی به شي (جهنميان) په اور کې او وايي به دغه اور (جهنم) ايا نور زيات شته ؟

تر دې چې کيږدي په دې باندې (الله تعالى) قدم خپل پس دغه اور به ووايي بس دی بس دی [رقم الحديث ۴۴۹۵].

دلته هم د حديث نور فوايد صَرْفِ نظر کوو البته د موضوع متعلق فايده باندې خبره کوو. او هغه مسأله د قدم ده دلته جهنم باندې قدم ايښودل شوی دغه قدم چا ايښی د دې تفصيل او وضاحت په دې حديث کې نشته نو د الحديث يفسر بعضه بعضا د قاعدې موافق بل حديث ذکر کوو.

(۲) په همدې صحيح البخاري کې په رقم ٦٦٦١ او صحيح مسلم کې په نمبر ۲۸۴۸

حديث دی د همدې انس رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل لا تزال جهنم تقول: هل من مزيد، حتى يضع رب العزة فيها قدمه، فتقول: قط قط وعزتك، ويزوي بعضها إلى بعض.

ژباړه: هميشه وي جهنم چې وايي به ايا نور څوک نه شته (چې راوې غورځوې) تر دې چې رب العزت په هغې قدم کيږدي پس دا جهنم به وايي بس بس ستا په عزت مې دې قسم وي او بعضې څنډې به يې د بعضو نورو سره يو ځای شي.

عزتمندو دې حديث د مخکې حديث معنا واضحه کړه چې قدم ايښودونکی په جهنم خپله الله متعال دی نو معلومه شوه چې الله متعال قدم لري بيا دغه حديث په محضر عام کې صحابه اوري خو د يو صحابي نه په دې کې د الله متعال د دې ذاتي صفت تأويل تحريف او يا هم د تجسيم متعلق څه ذهن ته نه راځي خو چې د خير القرون د انقطاع سره فورا د متکليمينو فلاسفه او جهميه وو ناکاره ډلې راووتلې نو د الله تعالى د کمال نه د ډکو ښکلي او ښايسته د صفاتو پورې ملنډې شروع شوې انا لله وانا اليه راجعون.

(۳) دغه حديث ابو هريره رضی الله عنه هم له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه نقل کړی کما فى صحيح البخارى رقم الحديث ۷۴۴۹

(۴) په صحيح البخاري کې په رقم ۴۸۵۰ او صحيح مسلم کې په رقم ۲۸۴٦ د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت نقل دی هغې کې الفاظ داسې دي فرمايي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل فأما النار فلا تمتلئ حتى يضع الله، تبارك وتعالى، رجله، تقول: قط قط، فهنالك تمتلئ، ويزوي بعضها إلى بعض،

ژباړه: بهر حال اور (جهنم) چې دی نو هغه به نه ډکيږي تر دې چې الله تبارک و تعالى په هغې پښه کيږدي نو وايي به دغه جهنم بس بس نو دغه وقت به را ډک کړی شي او چيتې به شي بعضې څنډې د هغې بعضو نورو ته، واللفظ لمسلم نو دلته دې حديث د قدم نور وضاحت هم وکړ، چې هغه پښه د الله تعالى ده څنگه چې د هغه د ذات سره لائقه ده چې په دې سره د هر جهمي صفته د تاويل مخه ونيول شوه والحمد لله رب العالمين بيا دا هم واورئ چې دغه احاديث د امام بخاري او امام مسلم نه بغير امام ترمذي په نمبر ۳۲۷۲ امام نسايي په الکبرى کې په نمبر ۷٦۷۲ او په ۷٦۷۸ او په ۷٦۹۳ او په ۱۱۴۵۸ امام ابن حبان په خپل صحيح کې په نمبر ۲٦۸ او ۷۴۴۷ امام احمد په خپل مسند کې په نمبر ۷۷۱۸ او په ۱۰۵۸۸ او په ۱۳۴۰۲ او په ۱۳۴۵۷ او په ۱۳۹٦۸ کې نقل کړي نور هم ډير محدثينو په خپلو کتابونو کې نقل کړي چې د حديثو په مطالعه کونکي او د هغې سره شوق لرونکو باندې پټ نه شي پاتې کيدی.

(۵) امام ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير ۷/۴۰۵ کې د مسند ابى يعلى په حوالې سره د أبي بن كعب رضى الله عنه نه او ابو عاصم په السنه ۱/۲۳٦ کې هم دغه حديث ذکر کړی چې د أُبى بن کعب رضی الله عنه نه نقل دی چې هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې جهنم به نور خلق غواړي حتى“ يضع تبارك وتعالى قدمه فيها” تر دې چې الله تبارک وتعالى به خپل قدم په هغې کيږدي ”فينزوي بعضها إلى بعض وتقول: قط قط ”نو راټول به شي بعضې برخې د جهنم د بعضو نورو سره او وايي به بس بس ”وانا على الحوض“ او زه به دغه وقت پر

حوض يم .... الحديث

(٦) امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې په نمبر ۱۱۰۹۹ او په ۱۱۷۴۰ او امام ابو يعلى په خپل مسند کې په نمبر ۱۳۱۳ باندې د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت نقل کړی فرمايي چې بې شکه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل افتخرت الجنة والنار فقالت النار يا رب يدخلني الجبابرة والمتكبرون والملوك والأشراف، وقالت الجنة أي رب يدخلني الضعفاء والفقراء والمساكين فيقول الله تبارك وتعالى للنار أنت عذابي أصيب بك من أشاء، وقال للجنة أنت رحمتي وسعت كل شيء ولكل واحدة منكما ملؤها فيلقى في النار أهلها فتقول هل من مزيد، قال ويلقى فيها وتقول هل من مزيد، ويلقى فيها وتقول هل من مزيد، حتى يأتيها عز وجل فيضع قدمه عليها فتنزوي وتقول قدني قدني ، وأما الجنة فيبقى فيها ما شاء تعالى أن يبقى فينشئ الله سبحانه وتعالى لها خلقا ما يشاء

ژباړه: جنت او جهنم خپلو کې د يو بل سره دعوه وکړه اور (جهنم) وويل اى ربه ماته ظلم کوونکي تکبر کوونکي بادشاهان (او دنيا کې) د عزت والا راننوځي او جنت وويل اى ربه ماته ضعيفان کمزوري فقيران او مسکينان راننوځي نو الله تبارک وتعالى جهنم ته وفرمايل ته زما عذاب يې زه په تا باندې رسَول کوم هغه چاته چې زما خوښه وشي او جنت ته يې وفرمايل ته زما هغه فراخ رحمت يې چې هر څه ته رسيدلى يې (او زما په ذمه) ډکيدل د ستاسو هر يو دي، پس بيا به واچول شي اور ته اهل د هغې نو دغه اور (جهنم) به وايي ايا نور نه شته او بيا به نور وروغورځول شي بيا به وايي ايا نور نه شته بيا به نور وروغورځول شي

نو وايي به نور نه شته تردې چې رابه شي هغې ته الله عزوجل پس کيږدي په هغې باندې قدم خپل نو راغونډ به شي وبه وايي بس دی زما بس دی زما او کوم چې جنت دی نو پاتې کيدی به شي (ځای تش) په هغې کې څومره چې الله غواړي پاتې به کړی شي نو پس پيدا به کړي هغې ته الله سبحانه وتعالى نور خلق چې څنګه او څومره وغواړي.

(٧) دغه ډول بل مرسل روايت دی راشد بن سعد فرمايي چې بې شکه نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل "إن الله يطوي المظالم يوم القيامة فيجعلها تحت قدميه، إلا ما كان من أجر الأجير، وعقر البهيمة وفض خاتم بغير حق.

(ژباړه: بې شکه الله ټول ظلمونه به راجمع کړي د قيامت په ورځ او هغې لره به د قدمونو نه لاندې کړي مګر هغه ظلم چې هغه د مزدور مزدوري ده او د څاروي زخمي کول دي او بکارت په ناحقه څيرې کول دي دغه روايت امام دارمي په نقض ابي سعيد على المريسي الجهمي العنيد کي په ١/٤٠٩ کی ذکر کړی البته بن فورک په مشکل الحديث وبيانه ص٢٣٢ او ابن منده په الرد على الجهميه ص٢٠ د (قدميه) پر ځای د (قدمه) الفاظ نقل کړي دي.

ياد!! دې وي چې د محدثينو په نزد دغه حديث ضعيف دی ځکه ارسال په کې ظاهر دی او هغه داسې چې راشد بن سعد د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل کوي او هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دی ليدلی والله اعلم خو مونږ دغه حديث محض د متابعت په مرتبه کې ذکر کړ بل دا چې امام دارمي امام بن منده وغيرهم اهل علمو د الله تبارک وتعالى د قدمونو د اثبات لپاره پيش کړی دی والله اعلم

إثبات العقيدة المعروفة بعدالمرفوعات بأحاديث الموقوفه

اوس دې فصل کې د مرفوع رواياتو نه بعد غواړو چې د الله تبارک وتعالى د قدمونو متعلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو اعتقاد هم ذکر کړم دې باب کې اګر چې د کرسۍ د اثبات متعلق مو هغه په (الخير الصميم) باب کې ذکر کړي خو دلته به يې د موضوع سره د ژور مناسبت په بناء اختصارا دوباره نقل کړم.

(١) عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دا عقيده وه چې الله متعال دوه قدمو نه (پښې) لري. تفسير بن ابي حاتم ١/١٩٤ دغه ډول وګوره تفسير بن جرير ٢١/٤٤٥ تر دې چې ابن عباس رضی الله عنهما نه دا هم نقل دي فرمايي ولم يكن يملأها شيء حتى وجدت مس قدم الله تعالى ذكره، فتضايقت، فما فيها موضع إبرة"

(ژباړه: يو شی به هم دغه جهنم ډک نه کړي تردې چې ولګږي ورسره قدم د الله بس دومره به راتنګ (ډک) شي چې پاتې به نه شي په هغې کې د يوې ستنې په مقدار ځای [تفسير بن جرير٢٢/٣٦٠] ، [تفسيربن كثير٧/٤٠٦]

(٢) د ابو موسىٰ الاشعری رضی الله عنه دا عقيده وه چې الله تبارک وتعالى قدمونه لري. کتاب السنه لابن احمد بن حنبل رحمهما الله ص٧٩ و ص١٤٧ تفسير ابن جرير الطبری ٥/٣٩٨

(٣) د ابو هريرة رضي الله عنه دا عقيده وه چې الله متعال قدم (پښه) لري صحيح مسلم رقم الحديث ٢٨٤٦ صحيح البخاري رقم.الحديث ٤٨٥٠

(٤) انس بن مالک رضی الله عنه عقيده لرله چې الله متعال قدم لري صحيح البخاري رقم الحديث ٦٦٦١

صحيح مسلم رقم.الحديث ٢٨٤٨ تفسير بن جرير٢١/٤٤٥

(٥) ابي بن کعب رضی الله عنه دا عقيده لرله چې الله تبارک و تعالى قدمونه لري السنه لابي عاصم ١/٣١٣ تفسير ابن کثير ٧/٤٠٥

(٦) ابو سعيد الخدري رضی الله عنه دا عقيده لرله چې الله متعال قدم لري تفسير ابن کثير ٧/٤٠٥ مسند احمد حديث نمبر ١١٠٩٩ — ١١٧٤٠ مسند ابی يعلىٰ حديث نمبر٣١٣ .

دې باب کې د نورو صحابه کرامو نه د دې صفت متعلق د تعطيل او تأويل عدم نقل دليل دی په اجماع د صحابه او تابعينو په منلو د دې صفت د الله متعال کې والحمد لله رب العالمين.

التاييد المكيث بأقوال اهل العلم بالسنة والحديث

مخکې دا خبر بار بار تيره شوې چې د صحابه کرامو نه واخله تر دې نن زمانې پورې د کتاب او سنت د هيڅ يو متبع نه د الله تبارک وتعالى د صفاتو متعلق لکه څنګه چې تشبيه تمثيل او کيفيت نه دی نقل همدغه ډول د هغوی نه د دې صفاتو متعلق انکار او تعطيل هم نه دي نقل د هيڅ صحابي هيڅ تابعي او د هيڅ امام او هيڅ عالم نه به دا څوک ثابت نه کړی شي چې الله تبارک و تعالى ځانته او يا هم د الله رسول صلى الله عليه وسلم هغه ته کوم صفت ثابت کړی وي او دوی کې چا يا د هغې تشبيه او تمثيل بيان کړی وي او يا يې دا ويلي وي چې د دې نه ظاهر مراد نه دی.

علامه ابن القيم رحمه الله د دې متعلق فرمايي تنازع الناس في كثير من الأحكام ولم يتنازعوا في آيات الصفات وأخبارها في موضع واحد، بل اتفق الصحابة والتابعون على إقرارها وإمرارها مع فهم معانيها وإثباتحقائقها

(ژباړه: اختلاف کړی خلقو په ډيرو احکامو د دين کې خو په يو ځای کې هم اختلاف نه دی کړی د صفاتو په اياتونو کې او دغه ډول د صفاتو په احاديثو کې بلکې صحابه کرامو او د هغوی تابعينو اتفاق کړی د دې په منلو او د دې په ظاهر حمل کولو باندې سره د فهم د معنا او اثبات د حقيقت د هغې.

[مختصر الصواعق المرسله ص٢٨]

(٢)القاضي أبو يعلى الفراء المتوفى ٤٥٨ هـ فرمايي : "وأعلم أنه لا يجوز رد هذه الأخبار على ما ذهب إليه جماعة من المعتزلة، ولا التشاغل بتأويلها على ما ذهب إليه الأشعرية والواجب حملها على ظاهرها، وأنها صفات لله تعالى لا تشبه سائر الموصوفين بها من الخلق، ولا نعتقد التشبيه فيها

(ژباړه: او پوه شه چې جايز نه دي رد کول د دغه احاديثو په هغه طريقه چې معتزله وو ورته ذهاب کړی او نه مشغوليدل په تأويلونو د دې په هغه ډول چې اشاعره وو ورته تلل کړي او واجب دي حمل کول د دې په خپل ظاهر باندې او بې شکه دا د الله صفات دي په ټول مخلوق کې د هيڅ چا د اوصافو سره مشابهت نه لري او نه مونږه د دې په اثبات کې د تشبيه عقيده لرو [ابطال التأويلات ص ٤٣]

بيا فرمايي دليل آخر على إبطال التأويل: أن الصحابة ومن بعدهم من التابعين حملوها على ظاهرها ولم يتعرضوا لتأويلها، ولا صرفها عن ظاهرها، فلو كان التأويل سائغا لكانوا أسبق لما فيه من إزالة التشبيه، ورفع الشبهة، بل قد روي عنهم ما دل على إبطاله

(ژباړه: او بل دليل په بطلان د تأويل دا دی ځکه چې صحابه کرامو او له هغوی بعد تابعينو دا په خپل ظاهر باندې حمل کړی او د دې تاويل ته يې هيڅ وړاندې والی نه دی کړی او نه يې دغه (صفات) د خپل ظاهر نه اړولي دي؛ نو که تأويل جايز وي نو دوی به هغې ته له ټولو نه ور مخکې شوي ول ځکه چې تأويل کې د مشابهة ازاله (حتما) او د شبهې ختم والی راځي (خو داسې نه ده) بلکې د هغوی نه هغه څه روايت شوي چې د تأويل په بطلان دليل ګرځي [ابطال التأويلات ص٧١].

(٣) دغه ډول امام أبو القاسم إسماعيل بن محمد التيمي ٥٣٥ هـ رحمه الله نه امام ذهبي رحمه الله نقل کړی چې هغه نه د الله تعالى د صفاتو متعلق تپوس وکړی شو نو هغه جواب کې وفرمايل "مذهب مالك، والثوري، والأوزاعي، والشافعي، وحماد بن سلمة،

وحماد بن زید، وأحمد بن حنبل، ويحيى بن سعیدوعبد الرحمن بن مهدي، وإسحاق بن راهويه، أن صفات الله التي وصف بها نفسه، أو وصفهبها رسوله، من السمع، والبصر، والوجه، واليدين، وسائر أوصافه، إنما هي على ظاهرها المعروف المشهور، من غير كيف يتوهم فيه، ولا تشبيه ولا تأويل، قال سفيان بن عيينة: "كل شيء وصف الله به نفسه فقراءته تفسيره أي على ظاهره، لا يجوز صرفه إلى المجاز بنوع من التأويل

(ژباړه: مذهب د امام مالک سفیان الثوری امام اوزاعي امام شافعي حماد بن سلمه حماد بن زید احمد بن حنبل یحیٰ بن سعید عبدالرحمن بن مهدي اسحاق بن راهویه دا دي چې هغه صفات چې الله تعالی وربانديې ځان موصوف ګرځولی او یا ورته دغه د هغه رسول بیان کړي، لکه (سمع) اوریدل، (بصر) لیدل، مخ، لاسونه او نور ..

دغه ټول صفتونه دا به په خپل ظاهر باندې حمل کیدلی شي چې معروف او مشهور طریقه ده بغیر له کیفیت نه چې وهم په کې وکړای شي بغیر له تشبیه او تأویل نه او سفیان بن عیینه به فرمایل: هر هغه څه چې الله پرې ځان موصوف ګرځولی، نو د دي قرأت کول د دي تفسیر دی، یعني ظاهر باندې حمل کول د دي جایز نه دي، اړول د دي مجاز ته د هیڅ تأویل په مرسته

العلو للذهبي ص۲۸۲ العرش للذهبی۲/۴۶۰ دا شو د اهل السنه والجماعه د معظمو امامانو عقیده د الله متعال د صفاتو متعلق چې دا تأیید شوو د مخکي پورته ذکر شوي دعوه او اقوالو چې د الله هر ثابت صفت به الله ته منلی شي انکار تاویل، تشبیه، تکییف او تمثیل په کي حرام او اتباع د غیر سبیل المؤمنین ده. باقي په امت مسلمه کې څوک د یو معتمد عالم او امام نه، نه شي ثابتولای چې هغوی د الله تبارک تعالی د قدمونو نه انکار او یا هم په هغه کې تاویل کړي وي، د یو څو هغو اهل علمو اسامی ګرامي وراندي کوو چې هغوی الله تبارک وتعالی ته قدمونه بغیر له تشبیه کیفیت تاویل او تعطیل نه منوونکي دي.

۱: ابوبکر بن ابي عاصم احمد بن عمر الشیباني المتوفي ۲۷۸ هـ وګوره السنة لابن ابي عاصم ۱/۱۲۳.

۲: امام ابو بکر البزار متوفی ۲۹۲ هـ وګوره مسند البزار ۱۷/۲۰۷ او ۱۳/۴۲۷.

۳: امام نسایي الخراساني المتوفی ۳۰۳ هـ وګوره.

۴: امام ابویعلی المتوفي ۳۰۷ وګوره مسند ابی یعلی ۵/۴۳۸.

۵: ضیاءالدین المقدسی المتوفي ۶۴۳ هـ وګوره الاحادیث المختارة کې په ۷/۷۶ کې د قدم حدیث ذکر کوي او فرمایي قال الحافظ إسماعيل هذا حديث صحيح و ذكر القدم فيه مما يجب الإيمان به ولا يتعرض له بالتأويل والتكييف.

۶: امام بخاری رحمه الله المتوفی ۲۵۶هـ وګوره صحیح البخاری باب قوله تعالى (وتقول هل من مزيد).

۷: ابو الحسن علي بن عمر الدار قطني المتوفی۳۸۵هـ
وګوره الرؤية د ده کتاب

۸: امام مسلم ۲۶۱ هـ صحیح مسلم

۹: امام ترمذي المتوفي ۲۹۷هـ جامع الترمذی.

۱۰: امام ابن جریر الطبري المتوفی ۳۱۰ هـ وګوره تفسیر الطبري تحت قوله تعالى (وتقول هل من مزيد).

۱۱: محمد بن إسحاق بن يحي بن منده- المتوفی۳۹۵هـ) وګوره دده کتاب التوحید او الصفات.

۱۲: محمد بن إسحق ابن خزيمة المتوفي ۳۱۱هـ) وګوره التوحيد وإثبات صفات الرب عز وجل.

۱۳: ابو محمد عبد الرحمن بن أبي حاتم الرازي- المتوفی ۳۲۷ هـ وګوره د ده کتاب الرد على الجهمية

۱۴: عثمان بن سعيد الدارمي المتوفی ۲۸۰هـ وګوره د ده کتاب الرد على بشر المريسي او الرد على الجهمية.

۱۵: عبدالله بن الإمام أحمد بن حنبل المتوفي ۲۹۰هـ وګوره د ده کتاب .السنة.

۱۶: ابو بكر أحمد بن محمد بن هارون الخلال المتوفی ۳۱۱هـ وګوره د ده کتاب السنة.

۱۷: ابو القاسم سليمان بن أحمد الطبراني المتوفی ۳۶۰ هـ وګوره د ده کتاب السنة

۱۸: ابوبكر أحمد بن عمرو بن أبي عاصم- المتوفی ۲۸۷هـ وګوره د ده کتاب السنة

۱۹: ابو عبد الرحمن أحمد بن شعيب النسائي المتوفی ۳۰۳هـ وګوره سنن النسائی.

۲۰: اسماعيل بن يحي المزني المتوفی ۲۶۴هـ وګوره شرح السنة.

۲۱: ابو بكر محمد بن الحسين الآجري- المتوفی ۳۶۰هـ وګوره دده کتاب الشريعة

۲۲: ابو إسماعيل عبد الله بن محمد الأنصاري الهروي المتوفی ۴۸۱هـ کتاب الصفات.

۲۳: ابو الحسن علي بن عمر الدارقطني المتوفی ۳۸۵هـ وګوره د ده کتاب الصفات.

۲۴: ابو جعفر محمد بن عثمان بن أبي شيبة المتوفي ۲۹۷هـ وګوره د ده کتاب العرش وما ورد فيه.

۲۵: ابو بكر أحمد بن إبراهيم الإسماعيلي المتوفی ۳۷۱ هـ وګوره د ده کتاب عقيدة أئمة الحديث.

۲۶: ابو الحسن محمد بن عبد الملك الكرجي المتوفی ۵۳۲ هـ وګوره د ده کتاب عقيدة أصحاب الحديث.

۲۷: ابو عثمان إسماعيل بن عبد الرحمن الصابوني المتوفی ۴۹۴ وګوره د ده کتاب عقيدة السلف وأصحاب الحديث

۲۸: علامه تقی الدین شیخ الاسلام ابن تیمیه المتوفی۷۲۸ هـ وګوره مجموع الفتاوی.

۲۹: علامه محمد بن ابي بکر ابن القیم الجوزیه المتوفی ۷۵۱ هـ وګوره الصواعق المرسله

۳۰: علامه شمس الدین ابوعبدالله الذهبی المتوفی۷۴۸ هـ وګوه العرش والعلو

الغرض داسی په زرهاوو امامان د دین شته چې هغوی د الله تبارک وتعالی قدمونه د نورو جمله صفاتو غونډې په خپل حقیقت او ظاهر حمل کړی، د دي بـا وجود تشبیه او تمثیل، تعطیل، تکییف یې حرام او کفر ګڼلي، چې د ټولو اسمای ګرامي جمع کول د وسع نه بهر ده، خو د صفاتو متعلق دغه پورته ذکر شوي کتابونو کې هر یو کتاب زمونږ د دعوې دلیل دی خو که څوک یې مطالعه کړي.

تم الباب والحمد لله رب العالمين



ألفلاح والرشاد في مسائل الجهاد

دولسم درس: صحيح البخاري كتاب الجهاد

كتاب الجهاد، صحيح البخاري.
الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد
الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:
محترمو مسلمانانو ورونو او خوېندو مونږ مخکې درس کې د لوی الله په توفيق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ درسونو څخه په تير شوي درس کې د کتاب الجهاد د احاديثو څخه د ۲۹ نمبر حديث شرح ذکر کړی و، اوس دې درس کې د لوی الله په خاص فضل او توفيق ديرشم ۳۰ نمبر حديث ذکر کوو.

(حديث ۳۰) (رقم الحديث ۲۸۱۲)

عن عمرو سمع جابر بن عبد الله رضي الله عنهما يقول:اصطبح ناس الخمر يوم أحد، ثم قتلوا شهداء. فقيل لسفيان: من آخر ذلك اليوم؟ قال: ليس هذا فيه.
ژباړه: جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمايي: د أحد د غزوې په ورځ صحابه کرامو کې بعضو خلقو شراب وڅښل بيا وروسته جنګ کې قتل (شهيدان) شول نو سفيان ته وويلي شول چې ايا دوی د ورځې په اخر کې قتل شول؟ نو سفيان وويل دا جمله په دې حديث کې نه شته.

التفكر والمراقبه
فى ذكر التطبيق و المناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ هغه علی بن عبدالله المديني رحمه الله دی، چې د توثيق او تعديل په دنيا کې د "ثقةٌ ثبتٌ امامٌ أعلمُ اهلِ عصرِه بالحديث وعِلَلِه" په صفت سره ياديږي.
له هغه نه دغه حديث په سند سره د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه نقل کوي، بيا مناسبت د حديث د باب سره چې کوم دی، نو دې باره کې علامه قسطلانی د ابن المنير نه نقل کړی چې هغه فرمايي: د دې حديث مناسبت د باب سره ډير سخت او مشکل دی، البته مراد په دې حديث سره هغه تنبيه ورکول دي په دې چې دغه شراب چې دې مؤمنانو څکلی وو نو دا دوی ته ضرری تمام نه شو ځکه الله د دوی د قتليدو نه بعد د دوی مدح اوثنا وويله هدی الساری ۵/۵۱.

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(اصطبح الناس) اصطبح دا د افتعال له باب څخه دی او دا وايي هغه چا ته چې سهار کې شراب وڅکي او که چيرته ماښام کې شراب وڅکي نو هغه ته غبوق ويل کيږی. په ديوان معجم الأدب کې دي چې ويقال: اصطبح.أي: شرب صباحا وګوره [2/398]، دغه ډول په الصحاح تاج اللغة کې دي، چې واصطبح الرجل: شرب صبوحا، وګوره [1/380]، نو دلته هم دا مراد دی چې جابر رضی الله عنه فرمايي: چې خلقو يعنې صحابه کرامو سهار شراب وڅکل او بيا د احد غزا ته روان شول او دې کسانو کې د ده والد ګرامي عبدالله رضی الله عنه هم و، چې بيا تقريبا اويا کسان له دوی څخه شهيدان شول رضی الله عنهم (يوم أحد) د احد غزا د هجرت په دريم کال د شوال په اتمه د شنبې په ورځ واقع شوی چې، رسول الله صلی الله عليه وسلم دې غزا ته تلو نو عبدالله بن أم مکتوم رضی الله عنه چې دا يو ړوند صحابي وو دا يې په مدينه کې خپل جانشين (نائب) مقرر کړو. د مسلمانانو تعداد تقريبا زر (۱۰۰۰) کسان وو چې په دې کې سل زغرې او سل اسونه هم وو او د مشرکانو عدد تقريبا درې زره (۳۰۰۰) وو چې بغير له دې نه چې دوی سره دوه سوه (۲۰۰) اسونه او اوه سوه (۷۰۰) زغرې هم وې او له ځان سره يې تقريبا اولس (۱۷) قيناتي يعنې ګډيدونکې (رقاصې ښځې) او غزل ويونکې هم راوستې وې، چې د دې غزوې سبب هغه دا و چې په بدر کې دې مشرکانو نه اويا (۷۰) مهم سرداران د ابوجهل په شمول مردار شوې وو، نو دوی په دې کال د خپل مکمل زور او طاقت سره په تکبر راوتلي وو چې د هغوی بدله به اخلي.
الله تبارک وتعالی دوی په " أَوَّلُ الوَهْلَةِ " کې د شکست سره مخ کړلو خو وروسته چې له مومنانو څخه يوه وړه بې اطاعتي واقع شوه نو حال دا شو چې مؤمنان د شکست سره مخ شو، دغه واقعه الله تبارک وتعالی په سورة آل عمران کې ذکر کړی ده، بيا دغه غزوه د احد په نوم ځکه مشهوره ده چې دغه غزوه د احد د غره سره نږدې ميدان کې واقع شوې ده، نو ځکه ورته غزوه أحد وايي، او بيا د أحد غره ته ولې أحد وايي نو، ابن کثير رحمه الله د دې متعلق فرمايي:
سمي أحدُ أُحُداً لتوحده من بين تلك الجبال.
ژباړه: فرمايي أحد ته د أحد نوم ځکه ورکړل شوی دی چې، دا په نورو غرونو کې يو ځانګړی غوره

والي او حيثيت لري،[البدايه والنهاية ۳/۱۸] .

او د دې خبرې تأييد هغه احاديث هم کوي چې د أحد د فضيلت باره کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه صحيح ثابت دي، (ثم قتلوا شهداء) شهداء دلته نصبي حالت دی يا حال دی د هغه ضمير نه چې په(قتلوا) کې مستتر دي او يا تمييز دی والله اعلم.

(فقيل لسفيان من آخر ذالک اليوم)

دا اصل کې د راوي پوښتنه ده د سفيان رحمه الله نه او دا ضرورت يې ځکه محسوس که چې په نورو رواياتو کې دي چې د همدې سفيان نه په کې نقل دي، چې دوی د ورځې په اول کې شراب وڅکل او د ورځې په اخر کې شهيدان شول وګوره فتح الباری ۷/۳۵۳

شفاء الأمراض بدفع الشبهة الاعتراض

دلته حديث کې ثابت شو چې صحابه کرامو د أحد د غزا په ورځ شراب څکلي او بيا شهيدان شوي او حال دا چې قران او دغه ډول ډيرو احاديثو کې د شرابو حرمت او نجاست ذکر شوی نو صحابه کرامو د دې حرام کار ارتکاب ولې وکړ؟ (70)

قطف العنب والتَمْر بذكر بدء تاريخ تحريم الخمر

الجواب بعون الله الوهاب هغه دا دی چې شراب په عربو کې يو عام عادي معمول وو هر شريف او رزيل به په دوی کې د دي سره عادت وو حتی لکه د خوراک او څښاک په شان به يې استعمالول خو چې کله الله تبارک وتعالی د اسلام ځلانده لمر راوچت کړ نو تر يو وقته يې د دې د تحريم متعلق د بې شماره حکمتونو په وجه تأخير وکړو او تدريجا (اهسته اهسته) يې د شرابو مذمت او بدي د دوی په ذهن کې ورکوزه کړه، ان چې بيا يې حرام وګرځول او په څښونکو يې حد هم مقرر وګرځاوه ځکه د داسې يو عمل نه چې له پيړو پيړو په يو قوم کې عادي وي په يو ځل منع کول په هغوی ډير سخت تماميږي، نو په دې اساس سره يې اول د شرابو متعلق دا ايت کريمه نازل کړ. ﴿يسألونك عن الخمر والميسر، قل: فيهما إثم كبير ومنافع للناس وإثمهما أكبر من نفعهما﴾الاية

ژباړه: پوښتنه کوي دوی له تا نه ای پيغمبره د شرابو او قمار (جوارۍ) په باره کې نو جواب کې ورته ووايه چې په دې دواړو کې لويه ګناه ده او فائدې په کې هم شته د خلقو د پاره خو ګوره ګناه يې له فائدې څخه ډيره خطرناکه ده.

او د دې فرمان إلٰهی سره بيا خلق دوه قسمه شو بعضو قطعي ترک کړل نه به يې څښل او بعضو به بيا هم څښل حتا چې د مونځ په وقت کې به يې هم نه پريښودل نو دې سره دويم فرمان داسې نازل شو.

﴿يأيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون﴾ لاية

ژباړه: ای د ايمان والاوو مه نږدې کيږئ لمونځ ته په داسې حال کې چې تاسو نشه ياست تر دې چې داسې حال کې لمونځ وکړئ چې پوهيږئ چې تاسو په لمونځ کې څه وايې، نو عمر رضی الله عنه به چې بيا کله هم دغه دواړه اياتونه لوستل نو دا دعا به يې کوله:

اللهم بين لنا فی الخمر بيانا شافيا.

ژباړه: ای الله مونږ ته د شرابو باره کې واضح حکم بيان وفرمايه نو بيا د سورة المائدی دغه -۹۰ او ۹۱- نمبر اياتونه نازل شول چې په دې ډول دي.

﴿يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطانفاجتنبوه لعلكم تفلحون، إنما يريد الشيطان أن يوقع بينكم العداوة والبغضاء في الخمر والميسر، ويصدكم عن ذكر الله وعن الصلاة فهل أنتم منتهون﴾ الاية

ژباړه: ای د ايمان والاو بې شکه شراب قمار بُتان او د قسمت (معلومولو) والا غشي دا پلوته ګنده ګي او د شيطان عمل دی، پس ځانونه په ډډه کړئ له دې نه د دې د پاره چې کامياب شئ، بې شکه شيطان قصد لري د دې چې واچوي ستاسو ترمنځه دښمني او بغض د شرابو او قمار په وجه او بند کړي تاسو لره د ذکر (عبادت) د الله نه او د لمونځ کولو نه نو پس ايا تاسو له دې کار نه منع کيدونکي (بنديدونکي) ياست؟

نو چې کله دغه اياتونه نازل شول نو عمر رضی الله عنه راوغوښتل شو او دغه دواړه اياتونه پرې ولوستل شول نو چې هغه کله دا واوريده نو وې فرمايل : انتهينا انتهينا.

منع شو مونږ منع شو مونږ الغرض نو د احد د شهداوو په صفت کې چې د شرابو د څکلو کومه واقعه ذکر شوه نو دا د تحريم يعنې د شرابو د حرام والي نه مخکې وه. او دې سره په هغوی هيڅ ملامتيا او نکير نه راځي او نه هم د هغوو بې قدري واقع کيږي، بلکې قران کې د هغوو فضيلت هم ذکر شوی او د دې حديث غونډې يې نورو احاديثو کې هم فضيلت ذکر شوي چې دا به په خپل مقام کې ذکر شي ان شاء الله. نو خلاصه دا چې دغه وقت حرمت نه وو واقع شوی، نو دغه نهې د دغه وقت د شرابو حرمت ته نه وه متوجه، علامه قسطلاني رحمه الله فرمايي:

"فلم يمنعهم ما كان في علم الله من تحريمها ولا كونها في بطونهم من حكم الشهادة وفضلها لأن التحريم إنمايلزم بالنهي وما كان قبل النهي فغير مخاطب به".

ژباړه: پس منعه نه کړل دوی لره هغه څه چې په علم د الله کې و، د حرمت د شرابو نه، او نه هغه چې وو دغه شراب په خيټو د دې شهداوو کې، حکم د شهادت نه او نه د فضيلت د شهادت نه، ځکه حرمت چې واقع کيږي نو دا په نهی (منع کولو) سره د هغه کار نه واقع کيږي، نو چې دغه کار د نهی نه مخکې واقع شوې وي نو بيا دوی په دغه نهی سره مخاطب نه دي [هدی الساری ۶/۲۹۴]

فوائد الحديث:

۱: د حرمت د علم نه مخکې د يو محرم کار او امر په ارتکاب سره انسان عند الله مجرم نه ګرځي.

۲: که يو علاقه او منطقه کې بعضې خلک ابتداءً د بعضې منکراتو سره عادي وي نو تدريجا د هغوی مخنيوی په کار ده.

۳: شراب د احد د غزوی نه بعد حرام شوي دي.

۲۰: باب ظل الملائكة على الشهيد

باب ثابت دی به بيان د سيوری کولو د ملائکو په شهيد باندې.

حصول الاجر والثواب بتشريح الكلمات ما فى ترجمة الباب

(باب ظل الملائكة يعني هذا باب في بيان ظل الملائكة علي الشهيد):

نو دلته هم د باب د لفظ نه مخکې د نورو تيرو شوو بابونو غونډې دا عبارت مقدر دی، چې هغه هذا اسم اشاره ده چې مبتدا ده او ورپسې عبارت يې خبر دی.

الطريق السالك الى معرفة عباد الله الملائك

(الملائكة) دا جمع د ملك ده ملك په فتحې (زَبر) (د ميم او لام) دواړو سره دی چې اصل يې(مَـلأَكٌ) دی چې رسالت ته ويل کيږی نو له دې وجې ملائکو ته رسولان ويلې شي.

ځکه دوی د الله ﷻ له طرفه د ځمکې رسولانو ته مرسل (ليږل) کيږي او بعضې په نورو کارونو او فيصلو طرف ته ليږل کيږي او دا د (أُلُوكَةٌ) څخه مأخوذ دی بيا د تخفيف له وجې نه چې په ژبه درونډ تماميدلو او استعمال يې زيات وو نو (مَـلأَكٌ) شو بيا يې همزه حذف کړه او حرکت يې د هغې(لام) کلمې ته ورکړلو نو (مَلَكٌ) شوو نو جمع يې (ملائك او ملائكة) ده .

د دې تعريف علماء داسې کوي:

(الملائكة عالم غير عالم الإنس والجن وهو عالم كريم كله صفاء نقاء وهم كرام أتقياء يعبدون الله حق عبادته ويقومون بتنفيذ ما يأمرهم به ولا يعصون الله أبدا)

[ژباړه : ملائک يو عالم دی بغير د عالم انس او جن څخه او دا يو عزتمند عالم دی ټول په ټوله صاف پاک او پاکيزه دي.

او دا ډير عزتمند او د تقوا والا دي دوی د الله ﷻ حق او لائق عبادت کوي او دوی د هغه څه د عملي کولو پابند دي د کوم چې ورته امر شوی دی.

او دوی قطعاً د الله تبارک وتعالی نافرماني او سرکشي نه کوي.

بيا په ملايکو ايمان لرل دا د ايمان د اصولو څخه دي چې بغير له دې نه انسان مؤمن او مسلمان نه شي کيدلی او ايمان په دې څو أمورو کې په دوی راوړل ضروري دي.

کوم چې (علامه سيوطي رحمه الله)په [الحبائک] صفحه ۱۰ کې د امام بيهقي نه نقل کړي چې اختصار يې (مع تصرف يسير په دې ډول دي:

اول:

د دوی د وجود تصديق به کوې او يقيني باور به لرې چې دوی شته او د الله ﷻ عبادت کې مصروفې دي.

دوهم :

دوی به په خپلو مرتبو او منزلو کې ګڼې او دا عقيده به لرې چې دا د الله ﷻ مخلوق دی لکه څنګه چې الله ﷻ انسانان او پيريان پيدا کړي نو دغه ډول دوی هم الله ﷻ پيداکړي او په عبادت يې مکلف ګرځولي او قدرت نه لري، مګر چې الله ﷻ يې په څه قادر وګرځوي او مرګ وربانديې جائز دی خو دومره ده چې الله دوی ته موده د ژوند اوږده ورکړې او دوی ته به هغه صفات نه شي ثابتېدلی کوم چې د دوی حق نه وي او (مفضي الی الشرک) ګرځي.

او نه به د دوی عبادت کيدلی شي.

لکه څنګه چې مخکني امتونو کې بعضو داسې کول.

دريم

دا عقيده به لرې او اعتراف به کوې چې بعضې له دوی څخه هغه دي چې د الله ﷻ او د انبيآؤ تر منځه راليږل کيږي.

بعضې يې د عرش بار وړونکې، بعضې صف جوړونکې ،بعضې، قبر کې تپوس کوونکې، بعضې روح ويستونکي بعضې د جهنم بعضې د جنت دربانچيانې، او بعضې اعمال ليکونکې...... وغيره دي.

مطر الرحمة والسحاب بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب دی د کتاب الجهاد.

دا باب په اعتبار د نمبر د ابوابُ سره (20) باب دی.

په دې کې د(امام بخاري رحمه الله) دغه يو حديث د(جابر بن عبدالله رضی الله عنهما) ذکرکوي.

بيا مناسبت د باب د کتاب الجهاد سره ښکاره دی .

په دې ډول چې کتاب کې د جهاد اړوند احاديث راوړلو التزام شوی او په باب کې د دې متعلق احاديث ذکر شوي چې هغه دليل دی په فضيلت د جهاد، مجاهد او شهادت، والله اعلم.

(حديث ٣١) (رقم الحديث ٢٨١٣)

ابن عيينة قال: سمعت محمد بن المنكدر أنه سمع جابرا يقول: "جيء بأبي إلى النبي -صلى الله عليه وسلم- وقد مثل به ووضع بين يديه، فذهبت أكشف عن وجهه، فنهاني قومي، فسمع صوت نائحة، فقيل: ابنة عمرو -أو أخت عمرو- فقال: لم تبكي، أو لاتبكي، ما زالت الملائكة تظله بأجنحتها. قلت لصدقة: أفيه حتى رفع؟ قال: ربما قاله".

ژباړه : ابن عيينه فرمايي ما د محمد بن منکدر نه واوريده چې هغه (فرمايل ما) د جابر رضی الله عنه نه واوريدل چې فرمايل يې چې زما پلار (عبدالله رضی الله عنه) نبي صلی الله عليه وسلم ته راوستلې شو په داسې حال کې چې هغه مُثله شوی ؤ.

او د هغه (نبی صلی الله عليه وسلم) مخ ته کېښودلې شو.

بس زه ورغلم چې د هغه له مخ نه کپړه لرې کړم نو زه خپلوانو له دې نه منع کړم نو نبی صلی الله عليه وسلم د يوې چغې وهونکې زنانه اواز واوريده.

نو ده چې تپوس وکړو نو ورته وويل شول چې دا د عمرو لور او يا دا وويل شول چې د عمرو خور ده.

(چې دا شک د راوي دي) .

نو وي فرمايل چې ولې ژاړې؟

او يا يې داسې وفرمايل چې نه دی ژاړي (چې دا هم شک د راوي دی).

ملائکې مسلسل شروع دي چې په ده سيوری کوي د خپلو وزرونو په واسطه.

ما (بخاري) بيا صدقه (چې د ده استاذ دی)ته وويل:

آيا په دې روايت کې داسې شته چې تر دې چې د ملائکو وزرې پورته کړی شوې نو سفيان بن عيينه وفرمايل:

چې ډير ځل به جابر چې دغه حديث بيانولو نو دغه جمله (تر دې چې د ملائکو وزرې پورته کړې شوي) به يې په کې ويلې.

التفكر والمراقبه فى ذكر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه صدقة بن الفضل المروزي رحمه الله دی.

چې د "ثقةٌ " په صفت سره موصوف دی چې له ده نه دا حديث په سند سره د جابر رضی الله عنه نه نقل کوي. بيا مناسبت د حديث د باب سره هغه ښکاره دی په دې طريقې سره چې باب کې کومه دعوی' ذکر شوې نو دغه حديث پرې دليل راوړل شوی چې لفظي او معنوي دواړه قسمه مناسبت ورسره لري والله اعلم

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

يقول: جيء بأبي(عبد الله) چې د ده والد او دا واقعة په أحد کې مخې ته راغلې وه.

(وقد مثّل به) په پيش(ضمې) د ميم او تشديد د(ثاء) مكسوره سره دا ديته وايي چې پوزه غوږونه او دغه ډول نور اندامونه يې پرې شي.

(ووضع بين يديه) يعنې د نبي صلی الله عليه وسلم مخې ته کيخودل شو.

(فذهبت أكشف عن وجهه) يعنې هغه جامه او کپړه چې په هغه خوره وه هغه مې ترې لرې کوله.

(فنهاني قومي) يعنې خپلوانو منع کړم چې داسې مه کوه.

وجه يې غالباً دا وه چې د هغه مخ خراب کړی شوی وو.

او په دې سره اولاد ته درد رسي.

نو ځکه يې ورته څوی د ليدو څخه منع کړی شو.

(فسمع) يعنې نبي عليه الصلاة والسلام واورېده.

(صوت) امرأة (صائحة) اواز د يوې چغې وهونکې زنانه،

نو (فقال، من هذه؟) دا څوک ده؟

چې کله يې دا تپوس وکړو نو جواب کې ورته وويل شو (ابنة عمرو) چې د دې نه مراد فاطمة وه چې دا د جابرؓ ترور او د عبدالله شهيد خور وه.

نو راوي نه په دې کې شک واقع شوی. نو وويل چې او يا (-أخت عمرو-) د عمرو خور ده.

چې په دې اعتبار سره بيا د مقتول ترور راځي.

(فقال) عليه الصلاة والسلام:

(لم تبكي) لِمَ تبکی دا استفهام دی او خطاب دی نورو خلکو ته هغوی ته وايې چې دا نو ولې ژاړي؟

ځکه که خطاب همدې ژړيدونکې زنانه ته وې نو بيا به يې ويلي وی (لم تبكين)،

او دلته بيا له راوي نه شک واقع شوی، فرمايې:

چې يا يې داسې وفرمايل (لاتبكي) نه دې ژاړي چې دې سره بيا دا نهې د غايب واحد مونث صيغه ده.

يعنې هغه زنانه دې نه ژاړي.

نو يا يې استفهام ويلې او يا نهې.

خو يو په دې دوه وو کې وي خامخا فرمايلي.

(ما زالت الملائكة تظلّه بأجنحتها) يعنې دا ژاړي او حال دا چې ملائکې شروع دي په دې شهيد د خپلو وزرونو په واسطه سوری کوي نو د دومره عزت شرف او کرامت والا په حال خو دا ډول ژړا نه ده په کار لکه دا چې څنګه ژاړي.

قال البخاري -رحمه الله تعالى- (قلت: لصدقة): بخاري رحمه الله فرمايي ابن الفضل ته مې وويل، 'چې دا د ده شيخ دی' (أفيه) يعنې په دې حديث کې دا لفظ شته (حتى رفع؟ قال) نو سفيان بن عيينة وويل (ربما قاله) يعنې جابر به ډير ځل دا جمله هم ويله باقي دا حديث په مغايز کې هم راروان دی او جنائز کې هم تير شوی.

والحمد لله رب العالمين

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دی په فضيلت د جهاد او مجاهد باندې.

[٢] که اهل حق په ظاهر کی غوڅ غوڅ او ټوټه هم شي نو دا يې د ناکامی سبب نه شي کيدلی.

[٣] بغير د بدل او عوض کولو نه د مړي مثله کول دا د کفارو او مشرکانو کار دی.

[٤] په شهيدانو ملائکې سوری کوي.

[٥] د ناروا عمل کولو سره يو محفل نه خير او برکت کميږي دلته د نوحې په وجه ملائکو خپلې وزرې پورته کړي دي.

[٦] که چيرته د مړي بدن ظاهراً ډير خراب وي نو د هغه اولاد او نږدې خلک به يې له کتلو منع کولې شي ځکه دې سره د هغوی درد او مصيبت نور هم زياتيږي.

[٧] د خپلوانو خير خواهي او د هغوی خفګان کمَول دا د صحابه وو شان وو.

[٨] صحابه په خپل دين او عقيده دومره کلک ؤ چې که دې باب کې به ورته دنياوي څومره درد هم ورسيده نو بيا به هم په خپل دين کلک پاتې ؤ.

٢١ - باب تمني المجاهد أن يرجع إلى الدنيا

باب ثابت دی په بيان د تمنا(ارزو) کولو کې د مجاهد چې دا دې واپس دنيا ته راشي.

حصول الأجر والثواب بتشريح الكمات مافى ترجمة الباب

(باب) دلته هم د باب نه مخکې دا عبارت مقدر مقصود دی.

يعنى" هذا باب في بيان تمني المجاهد" دا باب دی په بيان د ارزو او اميد کولو د مجاهد (أن يرجع) په دې کې (أن) مصدريه دی.

نو معنا د دې ټول عبارت به داسې وي چې دا باب دی په بيان د اميد کولو د مجاهد د رجوع کولو (يعنې د واپسي راتللو) دنيا ته روسته له دې چې هغه قتل کړی شي او جنت ته لاړ شي د وجې د هغه کرامت نه چې ده ليدلی دی.

مطر الرحمة والسحاب بذکر مناسبة ترجمة الباب مع الکتاب

دا باب د کتاب الجهاد د أبوآبو د عدد او شمير په اعتبار سره يوويشتم ۲۱ نمبر باب دی.

په دې کې امام بخاري رحمه الله دغه يو حديث د انس بن مالک رضی الله عنه نه نقل کوي.

مناسبت د باب د کتاب الجهاد سره ښکاره په دې ډول دی چې په کتاب کی د جهاد متعلق د احاديثو التزام شوی او په باب کې په دغه مقصد باندې لفظا تصريح شوې چې هغه فضيلت د جهآد او مجاهد دی.

(حديث ۳۲) (رقم الحديث ۲۸۱۴)

قتادة قال: سمعت أنس بن مالك -رضي الله عنه- عن النبي -صلى الله عليه وسلم- قال:ما أحد يدخل الجنة يحب أن يرجع إلى الدنيا وله ما على الأرض من شيء، إلا الشهيد يتمنى أن يرجع إلى الدنيا فيقتل عشر مرات، لما يرى من الكرامة.

ژباړه: قتاده رحمه الله فرمايي: ما د أنس بن مالک رضی الله عنه څخه واوريده چې هغه د نبي صلی الله عليه وسلم نه نقل کوي چې هغه وفرمايل نشته يوکس له کسانو څخه چې هغه دي جنت ته داخل شي (او بيا دې دا) خوښه وګڼې چې دا دې واپس راشي دنيا ته او د ده دې شي ټول هغه څه چې په ځمکه کې دي، (يعنی دا به هيڅوک خوښه نه کړي) خو مګر شهيد چې دا به ارزو کوي د دې چې واپس دنيا ته راشي او لس ځله قتل کړې شي (چې دا تمنا به کوي) د هغه کرامت (عزت او اعزاز) له کبله چې ده ليدلې دی.

التفکر والمراقبة في ذکرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه محمد بن بشار البندار العبدى البصرى رحمه الله دی.

چی د"ثقةٌ حافظٌ " په صفاتو سره موصوف دی چې له هغه نه دغه حديث په سند سره د انس بن مالک رضی الله عنه څخه نقل کوي بيا مناسبت د حديث د باب سره مکمل لفظا ښکاره او موافق دی.

هغه په دې ډول چې باب کې کومه دعوی ذکر شوي د هغې صراحتاً موافق په دليل کی دا حديث راوړل شوی دی والله اعلم.

إغاثة المغيث في ذکر شرح الحديث

(ما أحد) دلته کلمه د(ما) نافيه ده او(أحد) نکره ده او نکره چې په سياق د نفې کې ذکر شي نو د حصر فايده ورکوي او په عموم دلالت کوي.

نودا معنا شوه چې يو کس هم نشته په کسانو کی او په بعضې رواياتو کې (مامن نفس) ذکر دی چې مقصد د دواړو يو دی. (يدخل الجنة) چې دغه کس يو ځل جنت ته داخل شي او د جنت نعمتونه او لذتونه ووينې.

(يحب أن يرجع إلى الدنيا) او بيا دې له هغې نه بعد دا د دې تمنا وکړي چې زه دنيا ته ځم. (وله) په دې کې واو حاليه دی.

يعنې:دې په داسې حال کې هم رجوع نه غواړي چې ده ته دي (ما على الأرض من شيء) ټول هغه څه ورکړی شي چې په ځمکه کې موجود دی او د مسلم په روايت کی الفاظ داسې دي چې (وأن له الدنيا وما فيها) او دا چې ده ته دي ټوله دنيا او هر هغه څه چې په هغې کې دي ور په برخه شي.

نو مقصد دا چې بيا به هم دا کس دنيا ته رجوع ونه کړي.

(إلا الشهيد) خو مګر شهيد دلته به د شهيد کلمه مرفوع ويلی شي.

ځکه دا استثناء مفرغ ده (عشر مرات) لس ځله يعنې د الله په لاره کی او بيا دا کنايه ده د ډيروالي د محبت نه د نعمتونو د جنت او هغه عزت نه چې ده په جنت کې ليدلی، نو ځکه يې لام اجليه د دې جملې په سر کې ذکر که چې (لما يرى من الكرامة). او بعضو نسخو کې د(لما) پر ځای (بما) ذکر دی چې بيا نو هلته دغه با سببه ده يعنې (بسبب ما يراه فى الجنة من النعيم والكرامة) والله اعلم

فوائدالحديث

[۱] حديث دليل دی په فضيلت د جهاد او مجاهد .

[۲] حديث دليل دی په فضيلت د شهيد او شهادت في سبيل الله کې.

[۳] يو شهيد او مجاهد ته چې الله تبارک وتعالی په جنت کې کوم عزت مقام او مرتبه ورکوي نو ټوله دنيا او د هغې مالونه او نعمتونه د هغې مقابل کې هيڅ او صفر دي.

[۴] شهادت د جنت او د الله په نزد د عزت او کرامت قوي سبب دی.

[۵] دنيا ته واپس انسان روسته له مرګ نه نه شي راتلی.

۲۲ - باب الجنة تحت بارقة السيوف

باب ثابت دی په بيان د دې کې چې جنت ته داخليدل د پړقيدونکو تورو نه لاندې دي.

حصول الأجروالثواب بتشرح الکلمات مافى ترجمة الباب

دلته هم د باب نه مخکې هذا اسم اشاره مقدره ده چې عبارت ټول داسې دی هذا باب (فى بيان أن الدخول الجنة تحت بارقة السيوف) بارق پړق وهونکي او ځليدونکي ته ويلې شي. جمع يې بوارق او ابارق راځي، دلته د سيوف صفت واقع شوی. نو د موافقت د موصوف صفت په وجه واحد مؤنث صيغه ذکر شوی چې بارقة ده. بيا دا د قبيلې د اضافت د صفت دی موصوف طرفته او کله عرب د بارقة نه نفس توره هم مراد کوي.

نو په دې اعتبار سره بيا دا د قبيلې د اضافت بيانيه څخه دی. لکه شجرالاراک او خاتم فضة

مطر الرحمة والسحاب بذکرمناسبة ترجمة الباب مع الکتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو څخه دوه ويشتم ۲۲ نمبرباب دی.

بيا امام بخاري رحمه الله په دې کې دوه معلق روايتونه يو د مغيرة بن شعبة او بل د عمر رضي الله عنهما ذکر کوي، او يو مرفوع روايت د عبدالله بن أبي أوفى رضي الله عنهما ذکر کوي او بيا مناسبت د باب د کتاب الجهاد سره لفظي او معنوي دواړو طريقو سره موافقت لري او هغه په دې ډول چې کتاب الجهاد کې التزام د هغو احاديثو د راوړلو شوی چې هغه د جهاد سره تعلق لري او په باب کې د هغې د کولو او په هغې کې د شهادت فضيلت ذکرشوی، والله اعلم .

(المعلق الأول) وقال المغيرة بن شعبة، أخبرنا نبينا صلى الله عليه وسلم عن رسالة ربنا: «من قتل منا صار إلى الجنة» (ژباړه) او مغيره بن شعبة رضی الله عنه و فرمايل مونږ ته زمونږ نبي صلی الله عليه وسلم زمونږ د رب له خوا نه خبر راکړی چې څوک زمونږ څخه قتل کړی شي نو دا جنت ته لاړ.

نجاة الغريق فى حصول فهم التعليق

د دې حديث د راوړلو نه مقصد د امام بخاري رحمه الله هغه دا ثابتول دي چې د الله په لار کې قتل دا د جنت سبب دی چې په دې اعتبار سره دا مناسبت لري د باب سره بيا دغه روايت امام بخاري رحمه الله دلته معلق او په کتاب الجزيه کې يې د الفضل بن يعقوب نه په سند سره موصولا ذکر کړی خو دغه روايت فى الجمله د مجاهد دپاره يو ښکلی بشارت او راحت ښونکي تسلي ده والحمد لله رب العالمين.

(المعلق الثانى) وقال عمر للنبي صلى الله عليه وسلم: أليس قتلانا في الجنة، وقتلاهم في النار؟ قال: «بلى»

(ژباړه) او عمر رضي الله عنه نبي صلی الله عليه وسلم ته وفرمايل: ايا داسې نه ده چې زمونږ نه قتل شوي به په جنت او د هغوی (کفارو) څخه قتل شوي به په اور کې وي نو هغه صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل "او ولې نه"

نجاة الغريق فى حصول فهم التعليق

دلته هم د امام بخاري رحمه الله د دې معلق روايت ذکر کولو نه دا ثابتول غرض دی چې په جهاد في سبيل الله کې قتليدل دا د جنت د دخول سبب دی، نو په دې اعتبار سره دا مناسبت دی د باب سره

هم او بيا دغه معلق بخاري رحمه الله په المغازي کې د عبدالله بن محمد نه په سند سره موصولا د سهل بن حنيف رضي الله عنه نه ذکر کړی دی.

(حديث ٣٣) (رقم الحديث ٤٨١٥) عن سالم أبي النضر مولى عمر بن عبيد الله وكان كاتبه قال كتب إليه عبد الله بن أبي أوفى رضي الله تعالى عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال واعلموا أن الجنة تحت ظلال السيوف..(ژباړه) د سالم ابو النضر چې مولی د عمر بن عبيدالله وو د ده نه روايت دی چې دا (عمربن عبيدالله) د هغه(يعنې) د (عبدالله بن ابی اوفی) کاتب و چې دې (عبدالله بن أبی اوفی) دی(عمربن عبيدالله) ته ليکلي وو چې بې شکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې پوهه شئ چې جنت د تورو د سيورو لاندې دی.

التفکر والمراقبة
فی ذکرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه عبدالله بن محمد رحمه الله دی چې په ابوجعفر البخاري المسندي سره مشهور دی چې د "ثقةٌ حافظٌ" په صفت سره موصوف دی چې له ده نه دا حديث په سند سره د عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنهما نه ذکر کوي بيا مناسبت د حديث د باب سره ښکاره په دې ډول دی چې باب کې ذکر شوي چې جنت د تورو د سيورو نه لاندې دی. او دليل يې په دې دغه حديث ذکر کړی چې لفظاً او معناً د ترجمة الباب سره موافقت لري.

شفاء الأمراض
بدفع الشبهة و الاعتراض

په ترجمة الباب کې ذکر دی چې "باب الجنة تحت بارقة السيوف" او حديث کې " تحت ظلال السيوف" راغلی نو ظاهر کې خو دا خلاف دی د ترجمة الباب نه؟! نو (١جواب)بعون الله الوهاب دا دی چې عرب تورو ته بارقة هم وايي او همدا معنا د عمار په حديث کې هم ذکر ده کوم چې طبراني په صحيح سند سره ذکر کړی، چې عمار رضی الله عنه د صفين په ورځ وويل الجنة تحت الأبارقة نو دلته گوره بارقه تورو ته وويل شو نو چونکه دغه روايت د امام بخاری په شروطو برابر نه وو نو لهذا دا مفهوم يې په ترجمة الباب کې ذکر کړو او همدا مقصود علامه قسطلاني د ابن المنير نه نقل کړی دی چې هغه عبارت دا دی فرمايي "ولم يذكر المؤلف من الحديث ما يوافق لفظ الترجمة وكأنه أشار بها إلى حديث عمار المذكور ولم يسقه لكونه ليس على شرطه، واستنبط معناها مما هو على شرطه فإنه إذا ثبت لها ظلال ثبت لها بارقة ولمعان قاله [ابن المنير هدی الساری ٥/٥٣] نو په دې اعتبار سره بيا دغه حديث د ترجمة الباب سره معناً موافق دی. والله اعلم.

خو زه وايم چې دا او د دې په شان د نورو باريکو نقطو متعلق د امام بخاري رحمه الله د فقاهت په مدح کې ويل شوی چې فقه البخاري فی تراجمه.

(٢جواب) بعون الله الوهاب دا هم کيدې شي چې که بارق د شعاع او بريښنا په معنا واخيستل شي، نو مقصد به بيا دا وي چې توره بريښنا لري او چې بريښنا لري نو سيوري خو خامخا لري او د دې متعلق علامه عيني رحمه الله فرمايي قيل: كأن البخاري أراد بالترجمة أن السيوف لما كانت لها بارقة شعاع كان لها أيضا ظل تحتها، ١٤ /١١٤ نو په دې اعتبار سره ترجمة الباب د حديث سره لفظا موافق دی والله اعلم.

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(وكان كاتبه) يعنې دغه سالم چې وو نو دا کاتب وو د عبد الله بن أبي أوفی، علامه عينی ليکلي چې د کرماني نه غليظه سهوه واقع شوی چې هغه ويلي چې سالم د عمر بن عبيد الله، کاتب وو خو داسې نه ده بلکې صحيح خبره هغه ده چې مونږ ذکر کړه [عمدة القاری ١٤ /١١٤]

(كتب إليه) يعنې عمر بن عبيد الله بن معمر التيمي، ته يې وليکه او هغه د مسلمانانو له طرف نه د خوارجو په مقابل کې د جنگ امير وو

(واعلموا) دا جمله دپاره د تنبيه او مهم مقصود ته د بيدارولو دپاره ويل شوی چې روسته را روانه جمله او د هغې په فايده او ثمره باندې ځان پوهه کړي، عبث يې مه گڼئ.

(أن الجنة تحت ظلال السيوف) يعنې هغه سبب او ذريعه چې جنت ته بوتلونکي او رسوونکي ده او هغه عمل چې اجر او بدله يې صرف جنت دی نو هغه د اعلاء کلمة الله د پاره جهاد کول دي نو هغه زمانه کې چونکه توره د نيزې، غشي او ليندۍ په مقابل کې زياته استعماليده نو ځکه يې دا ذکر کړه نور ولو که ته جهاد په سوک او سپيره هم وکړې، نو د دې کبله علامه ابن الجوزی رحمه الله فرمايي چې: "المراد أن دخول الجنة يكون بالجهاد" يعنې مراد له دې نه هم دا دی چې جنت په جهاد حاصليږي.

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دی په فضيلت او افضليت د جهاد او مجاهد.
[٢] جهاد به هميشه جاري وي.
[٣] جهاد د جنت سبب او لاره ده.
[٤] حديث بيانول پکار دي تر څو خلق له دين نه خبر شي.
[٥] صحابه وو د جهاد سره ډيره مينه وه.

سوال ځواب!

دې ګڼې ته هم ستاسې زياتې پوښتنې رارسيدلي چې ځېنو پوښتنو ته يې په همدې ګڼه کې زموږ د سنګرونو علماء کرامو ځواب ويلې او باقي پاتې به يې په راتلونکو ګڼو کې ځواب کړو ان شاء الله.

لومړی پوښتنه: ځېنې خلک وايي: "کله چې په جهاد کې يو مجاهد وژل کيږي، نو دوی وايي دا وژل شوی کس تر پاته شويو افضل دی، ځکه چې الله تعالی دا کس د خپلو ملګرو د مېنځه د شهادت لپاره غوره کړی، آيا دا وينا عموماً صحيح ده"؟

جَوَاب: په يوه معنا دا وينا صحيح ده ځکه چې دې شهادت کې يو نوعه اتخاذ الشهداء او مختاره کېدل د شهادت لپاره دي. لکه چې الله تعالی فرمايي :(ويتخذ منکم شهداء)

ژباړه :[او نيسي ستاسو د جملې څخه شهيدان]

قال الإمام الطبري : (أي ليکرم منکم بالشهادة من أراد أن يکرمه بها) ،

ژباړه: يعنې چې الله جل جلاله عزت ورکړي په شهادت سره هغه چا ته چې الله پاک يې په شهادت سره د عزت ورکولو اراده کړې وي.

ليکن دا قول پر خپل عموم ندی، ولې ګاهې ګاهې الله تعالی بعض انسانان ساتي، د دې لپاره چې د منطقو تمکين ورکړي، او دوی بيا د الله د دين نصرت وکړي، لکه يو شمېر لوی لوی صحابه وؤ ټولو غزواتو ته د رسول الله سره حاضر شول، بيا هم الله تعالی دا صحابه ژوندي پرېښودل د هغه کار او خدمت لپاره چې الله پاک ته معلوم ؤ. او په دغه معنا امام أحمد بإسناد فيه مقال غير أنه حسن لغيره، نقل کړی دی حديث د طلحه بن عبيد الله(د هغه سړي باره کې چې خپل تر ملګري مخکې شهيد شو، ليکن وروسته پاته ملګری يې په جنت کې تر مخکې شهيد شوي ملګري لوړې درجې ته ورسېدی، ځکه چې پاته ملګري تر ده ډېر د الله عبادت کړی ؤ) والله أعلم

دويمه پوښتنه: آيا يواځې د کافرانو په ملک کې په اوسيدلو يو مسلمان کافر کيږي؟

جواب: دا ښکاره ده-الله تعالی ښه پوهيږي- چې يواځې اوسيدل د کفر په ملک کې ذاتې کفر ندی، تر څو چې يې داسې يو عمل نه وي کړی چې سبب د کفر وګرځي، لکه د هغوی سره په کفري کارونو کې موافقت يا موالات دوستي کول، ځکه قرآني آيتونو او احاديثو د هغه شخص څخه ايمان ندی نفي کړی چې يواځې د مشرکانو په مېنځ کې اوسيږي، بلکې هغوی ته يې ايمان ثابت کړی دی، الله تعالی فرمايي: وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا [سُورَةُ الأنفَال : 72]

ژباړه: هغه خلك چې ايمان يې راوړی دی، خو (دار الاسلام ته يې) هجرت نه دی کړی، نو له هغو سره ستاسې کومه

دوستانه اړيکه نشته؛ تر څو پورې چې هجرت يې نه وي کړی.

او بل ځای کې فرمايي: وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ لِّيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ مَن يَشَآءُ لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا [سُورَةُ الفَتْح : 25]

ژباړه: که (په مکه کې) داسې مؤمن نارينه او مؤمنې ښځې موجودې نه وای چې تاسې يې نه پيژنئ؛ او که دا خبره نه وای چې په نا اګاهانه ډول به تاسې هغوی پايمال کړئ؛ او پدې سره به د بې علمۍ په حال کې پر تاسې پړه راشي (نو د جنګ مخنيوی به نه وای شوی. مخنيوی د دې لپاره وشو) چې الله چا ته وغواړي په خپل رحمت کې يې داخل کړي. هغه مؤمنان که بېل شوي وای، نو د مکې له خلکو څخه چې کوم کسان کافران ول، هغو ته به موږ هرو مرو دردناکه سزا ورکړې وای.

حديث دی: عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ ، قَالَ : قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: " أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ ؟ قَالَ : لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا "[رواه ابوداؤد٢/ ٥٢ رقم ٢٦٤٥ والترمذی ٤/ ١٥٥ ـ]

ژباړه: نبي عليه السلام فرمايي: کوم مسلمان چې د مشرکانو په مينځ کې اوسيږي زه ترې بيزاره يم، هغوی وويل: ولې د الله رسوله؟ ويې فرمايل: چې يو د بل اور ونه ويني.

نو پدې بناء د هجرت پرېښودل سره د قدرت لرلو په وخت د فرض کيدو کې دا ګناه او فسق دی او نفي د اصل ايمان ندی بلکې نفي د کمال واجبي دی، او علماؤ د هجرت په حکم کې تفصيل کړی دی، نو حالتونه يې ورته ذکر کړي دي، کله واجب وي او کله مستحب يا مباح.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: [فلا تجب الهجرة من بلد قد فتحه المسلمون، أما قبل فتح البلد فمن به من المسلمين أحد ثلاثة: الأول قادر على الهجرة منها لا يمكنه إظهار دينه ولا أداء واجباته، فالهجرة منه واجبة. الثاني قادر لكنه يمكنه إظهار دينه وأداء واجباته، فمستحبة لتكثير المسلمين بها ومعونتهم وجهاد الكفار والأمن من غدرهم والراحة من رؤية المنكر بينهم. الثالث عاجز يعذر من أسر أو مرض أو غيره، فتجوز له الإقامة فإن حمل على نفسه وتكلف الخروج منها أُجِرَ] [فتح الباری٩/ ٣٢٦]

ژباړه :هغه منطقه چې مسلمانانو فتحه کړي وي د هغې څخه هجرت فرض ندی، مګر مخکې د فتحې نه به يو حالت وي په مسلمانانو باندې د درې حالتونو نه:

١ - د هغې منطقې نه په هجرت کولو قادر وي، خو طاقت نلري د دين د ښکاره کولو او فرائضو اداء کولو، نو په داسې انسان هجرت فرض دی.

٢ - په هجرت قادر دی او د دين ښکاره کولو او د فرائضو اداء کولو توان هم لري، نو د ده هجرت کول مستحب دي چې جماعت د مسلمانانو زيات شي، او د کافرو سره جهاد وکړي، او د هغوی د خيانت نه په امن کې شي او راحت حاصل کړي کله چې د هغوی منکرات نه ګوري.

٣ - عاجز وي په عذر سره، نو اوسيدل ورته جائز دي، خو که په ځان يې بوج راوست او تکليف سره راووت نو دا مأجور دی.

او هر چې د بعض علماؤ څخه نقل دي، لکه ابن حزم وغيره نه په مطلق کافر کيدو د هغه شخص چې هجرت نه کوي يا کفري ملک ته ځي ،نو دا حکم به په هغه چا تطبيقيږي چې د هغوی سره موالات او دوستي کوي ـ والله اعلم

دريمه پوښتنه: جهاد په اعتبار د حکم سره په څو قسمه دی؟

جواب: جهاد په اعتبار د حکم سره په دوه قسمه دی.

١ـ فرض کفايي 2 ـ فرض عين .

د فرض کفايي جهاد پيژندنه: فرض کفايي جهاد ديته وايي چې کله د مجاهدينو يو کافي کيدونکې ټولګی جهاد ته لاړ شي نو وروسته پاتې کيدونکې خلک ګناهګار نه وي، چې ديته جهادالطلب او اقدامي جهاد هم ويل کيږي؛ د دې په فرضيت دليل الله تعالی فرمايي: [كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ... [سُورَةُ البَقَرَة : 216]

ژباړه: په تاسو جهاد فرض کړی شوی دی.

او په حديث کې نقل دي :عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ " صحيح مسلم

ژباړه: " د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې مړ شو او غزا يې نه وه کړې او نه يې د غزا فکر کړی وو نو د منافقت په يوه حصه به مړ شي.

او دا چې جهاد الطلب فرض عين ندی دليل پرې دا ايت دی الله فرمايي: [وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ [سورة التوبة : 122]

ژباړه: او نده مناسب چې ټول مؤمنان دې جهاد يا علم لپاره ووځي پس ولې نه وځي د هرې ډلې د دوی نه څه کسان د دې لپاره چې پوهه حاصله کړي په دين کې او چې ويره ورکړي دوی خپل قوم ته " په بيان د دغه علم " کله چې هغوی واپس شي دوی ته دې لپاره چې هغوی ځان بچ کړي د ګناهونو څخه.

د فرض عين جهاد پيژندنه: فرض عين جهاد ديته وايي چې په هر مسلمان باندې جهاد ته وتل لازم وي تر دې چې د دښمنانو شر دفعه شي چې ديته دفاعي جهاد هم وايي.

شيخ الاسلام ابن تيمية ـ رحمه الله فرمايي: [وأمَّا قتال الدفع فهو أشدُّ أنواع دفع الصائل عن الحرمة والدِّين فواجبٌ إجماعًا، فالعدوُّ الصائل الذي يُفسد الدينَ والدنيا لا شيءَ أوجبُ من دفعِه، فلا يُشترط له شرطٌ، بل يُدفع بحسب الإمكان، وقد نصَّ على ذلك العلماء: أصحابُنا وغيرهم، فيجب التفريق بين دفع

الصائل الظالم الكافر وبين طلبه في بلاده][المستدرك لابن قاسم: 3/315]

ژباړه: او هر چې دفاعي جهاد دی نو دا د سختو انواعو د دفع کولو د حمله کوونکي دښمن دی، د عزت او د دين نه، نو په اجماع سره واجب دی پس هغه حمله کوونکي دښمن چې دين او دنيا خرابوي د دې دفاع او مخنيوي نه بل غټ واجب نشته نو هيڅ شرط ورته نشته؛ بلکې مخنيوی به يې کيږي څومره چې ممکن وي او په دې خبره زمونږ د مذهب علماؤ او نورو تصريح کړی ده، نو فرق واجب دی په مينځ د دفعه کولو د حمله کوونکي ظالم کافر کې او په مينځ د هغه جهاد کې چې د دښمن په علاقو کې پرې حمله کوي.

د فرض عين جهاد احوال :

څلورمه پوښتنه : جهاد په کومو حالاتو کې فرض عين دی؟

جواب: جهاد په درې حالاتو کې په اجماع د علماؤ فرض عين دی .

١ـ کله چې مجاهد د جنګ ميدان ته حاضر شي نو جهاد پرې فرض عين دی : الله تعالى فرمايي:[يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا زَحفا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلأَدبَارَ [15] وَمَن يُوَلِّهِم يَومَئِذ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفا لِّقِتَالٍ أَو مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَة فَقَد بَآءَ بِغَضَب مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأوَىٰهُ جَهَنَّمُ وَبِئسَ ٱلمَصِيرُ [سورة الأنفال: 16]

ژباړه: ای د ايمان والا کله چې تاسو مخامخ شئ د کافرانو سره په وخت د جنګ کې پس مه ګرځوئ هغوی ته شاګانې، او چا چې وګرځوله دوی ته په دغه ورځ شا خپله مګر که هنر کوونکی وي لپاره د جنګ يا يو ځای کيدونکی وي د ډلې خپلې سره پس يقيناً اخته شو دې په غضب د الله تعالى او ځای د ورتلو د ده جهنم دی، او بد دی ځای د ورګرځيدو.

نو پدې ايت کې دوه حالته مستثنى دي:

اول حالت: هغه خلک چې د جنګ لپاره هنر او چل جوړوي چې دښمن ته شا کړي او ناڅاپه بيرته واپس شي او حمله پرې وکړي.

دويم حالت: هغه مجاهد چې د خپلې ډلې څخه يواځې پاتې شوې وي، نو ځان د خپلې ډلې يا بلې ډلې ته د مدد حاصلولو لپاره رسوي.

نو د دې دوه حالاتو څخه سيوا نورو حالاتو کې دښمن ته شا ګرځول حرام دي او ګناه کبيره ده. په حديث د ابو هريره رضي الله عنه کې دي چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي:

[اجتَنِبوا السَّبْعَ المُوبِقاتِ......، والتوَلِّي يومَ الزَّحفِ...]متفق عليه

ژباړه : ځان وساتئ د اوو هلاکوونکو ګناهونو څخه..... چې يو د هغې څخه د ميدان جنګ نه تښتيدل دي.

2ـ کله چې دښمن د مسلمانانو په ملک او علاقه حمله وکړي: نو جهاد په ټولو مسلمانانو فرض عين کيږي لپاره د دفعه کولو د دښمن او د حفاظت د مسلمانانو، او دا حکم اول نزدې مسلمانانو ته متوجې دی، الله فرمايي:[انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُوا بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ [سُورَةُ التَّوبَة : 41]

ژباړه: که سپك ياست که درانه (غزا ته) ووځئ او د الله په لار کې په خپلو مالونو او په خپلو سرونو سره جهاد وکړئ، دا ستاسې لپاره ډېره ښه ده که پوهيږئ.

3ـ کله چې خليفة المسلمين يا د هغې نائب والي د نفير (وتلو) أمر وکړي :نو چا ته چې أمر شوی وي په هغوی باندې جهاد ته وتل فرض عين دي، که عام امر وي نو په ټولومسلمانانو وتل لازم دي او که خاص امر وي نو په خاص خلکو وتل لازم دي، الله فرمايي: [يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا مَا لَكُم إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُوا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلتُم إِلَى ٱلأَرضِ ... [سورة التوبة: 38]

ژباړه: ای د ايمان والاو څه وجه ده تاسو لره کله چې تاسو ته وويلى شي چې د الله په لاره کې وځئ نو تاسو زمکې ته درانه درانه کيږئ.

نفير په دوه قسمه دی:

١ـ نفير عام: چې عام امر وکړي او څوک پکې خاص نکړي، نو په ټولو وتل لازم دي.

2ـ نفير خاص: چې خاصو مجاهدينو ته امر وکړي نو په دغه معين اشخاصو باندې جهاد ته وتل فرض عين کيږي.

دليل: حديث کې دي نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: [وإذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا] متفق عليه

ژباړه: کله چې تاسو ته د وتلو امر وشي نو جهاد ته وځئ.

بعضې أهل علمو نور حالات هم د فرض عين جهاد لپاره ذکر کړي دي لکه:

4ـ کله چې د فرض کفايې جهاد لپاره کافي خلک ونه وځي نو جهاد فرض عين کيږي.

5ـ کله چې مسلمانان د کفارو سره په زندانونو کې بنديان وي، همدارنګه په علماؤ باندې او په رأيه او نظرلرونکو خلکو او بهادرو خلکو باندې چې د جهاد په سنګرونو کې ورته ضرورت وي، جهاد فرض عين دی.

د غنیمت

فيء او احتطاب احکام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف المرسلين وآله وصحبه أجمعين، أمابعد:

درباري دجالو ملایانو هوډ کړی چې د جهاد فقه کې بدلون راولي، لکه څرنګه چې هغوی دپیغمبرانو راوړی توحید بدل کړی، دغو درباري ملا یانو اهل کتاب، مجوس او مشرکین د مسلمانانو ورونه ګرځولي، دینونه یې یو بل ته رانږدې کړي او ملتونه یې سره یو کړي او بیل اخیره یې دکفارو وینې او مالونه په خپلو فتواګانو حرامې ګرځولې، د دغو ملایانو مثال دهغو یهودو په څېر دی چې الله عزوجل یې په اړه فرمایي } : مِنَ الَّذِينَ هَادُو يُحَرِفُونَ الكَلِمَ عن مَواضِعِهِ){ النساء (۴٦:

ژباړه :ځینې له یهودانو هغه دي چې کلمات دخپلو ځایونو څخه بدلوي.

دکفارو مرموزې وژنې او د هغوی څخه په غلا او پټه مال اخیستل دپخوانو فقهاؤ په نزد یوه مشهوره مسئله وه، خو طواغیتو دبې غیرتۍ فقه مشهوره کړه او کوښش یې وکړ چې دفقهاؤ په نزد دغه مشهور فقهي مسائل د اسلام څخه وباسي او د ذلت او د کفارو دتابعیت په منهج یې بدل کړي، بیا خلک د هغه نوي دین تابعدارۍ ته اړ کړي چې د هغې په بنسټو کې " د دینونو ترمنځ د ګډ ژوند "بنسټ هم دی، طواغیت غواړي چې "دسولې قوانین "په خلکو پلي کړي، خلک د کفارو له وژنې لاس ونیسي او جهاد معطل کړی شي.

نو اوس داسې وخت را رسېدلی چې ته به ډېر اسلام او علم ته منسوب خلک وګورې چې دیوې داسې مسئلې په تحریم به راغونډیږي چې دهغې په جواز مخکې امت اجماع کړې ده، خو دا خبره بیا هغه مهال کومه نا اشنا نه ده، چې مونږ دانس رضي الله عنه په هغې وینا کې سوچ وکړو چې هغه په دمشق کې فرمایلي و :امام زهري — رحمة الله — په دمشق کې دهغه خواته ورغی، نو هغه یې دژړا په حالت کې ولید، پوښتنه یې ترې وکړه چې ولې ژاړې؟ هغه ورته وویل " :کوم دین چې مونږ درسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې راګېر کړی و، د هغه څخه هیڅ ماپه دې زمانه کې ونه لیدل مګر لمونځ؛ او لمونځ هم ضایع کړی شوی، ("صحیح البخاري)

دانس رضي الله عنه به څه حال وای که هغه زمونږ دغه زمانه راګیره کړې وای، چېرته چې د قرآن او سنت او اجماع السلف واضحه مسائل له منځه وړل شوي؟ له دغو ویجاړو کړی شویو مسائلو څخه یوه هم دحربي کفارو د وینو او مالونو حکم دی او دامسئله چې دکفارو وینې او مالو نه به یواځې په ایمان او یا په شرعي معتبره لوظنامه خوندي کیږي،

نو بناءً مسلمان ته جائز دي چې دکفارو وينې توی کړي، مالونه يې واخلي او په دغې کار کې درسول الله صلى الله عليه وسلم ــــ او صحابه کرامو ــــ رضي الله عنهم ــــ تابعداري وکړي.

عجيبه دا ده چې درباري ناکاره ملايان او دگمراهۍ داعيان په موحدينو هغه مهال داسلام دبد نامولو او بد رنګه کولو تهمتونه لګوي چې هغوی کله کټ مټ هغه کارونه وکړي چې ابو بصير او ابو جندل ــــ رضي الله عنهم ــــ به کول، خو بلمقابل دغه درباري چاپلوسان هغه مهال ګونګيان وي چې کله د دوی باداران او دشرق او غرب طواغيت دمسلمانانو مالونه لوټي.

خو اسلامي دولت) الله عزوجل دې ورته په توحيد نور هم عزت ورکړي (په خپله اوږه د دې خبرې ذمه واري اخيستې چې د کفارو او مرتدينو په مقابل کې به په توره او نېزه، دليل او بيان سره جنګيږي، تر دې چې ټول دين دالله ــــ عزوجل ــــ شي او مسلمانان بېرته پاک او ستره دين ته راستانه شي، لکه چې الله ــــ عزوجل ــــ فرمايي: ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَاتكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُوْنَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلهِ فَاِن نتَهَوْ فَاِنَّ اللّه بِمَا يَعمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ (الأنفال: ٣٩)

ژباړه :او د دوی سره وجنګيږئ تر دې چې هيڅ فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله ــــ عزوجل ــــ لپاره شي ، که دوی دجنګ څخه منعه شول نو الله ــــ عزوجل ــــ د دوی په عملونو ليدونکی دی.

مونږ به په دې رساله کې کوښښ وکړو چې په ديار الکفر کې دحربي کفارو د مالونو حکم بيان کړو او دهغوی څخه اخيستل شوی مال به يا غنيمت وي، يا به فیء وي او يا به غلا او احتطاب وي، ورسره به مونږ دځينو علماوو ويناوې هم په دې مسئله کې ذکر کړو او په يو شمېر شبهاتو به رد هم وکړو، د دې ترڅنګ به داخبره هم ذکر کړو چې دخلافت پر خلاف د کفارو د ټولو ملتونو د دغه هر اړخيزه جنګ په چوکاټ کې دکفارو د مال اخيستنې څه اهميت او ګټه ده. والله الموفق والهادي اِلى سواء السبيل.

دحربي کافر وينه او مال حلال دی

داهل الحرب په وينو او مالونو کې اصول دا دي چې دغه هيڅ خونديتوب نه لري، ټول اهل علم په دې متفق دي چې دحربي کفارو وينې او مالونه دمسلمانانو لپاره مباح او هيڅ خونديتوب نه لري، امام ابن تيميه ــــ رحمه الله ــــ وايي ” :کفر او محاربت په هر کافر کې موجود دی، نو د هغه غلام کول داسې جائز دي لکه چې د هغه وژنه او جنګ جائز دی .“ (مجموع الفتاوى)

حربي کفار دفقهاؤ په اصطلاح کې يواځې هغو کفاروته نه وايي چې دهغوی او مسلمانانو تر منځ جنګ روان وي، بلکې حربي کفار هغه دي چې هغوی ته اهل الاسلام د لوظنامې، امان او سولې په ترڅ کې امن نه وي ورکړی، بيا برابره خبره ده که دغه حربي کفار عسکري کارمندان وي، که ملکي وګړي وي او يا عام کفار وي، د دغو ټولو وينې او مالونه دمسلمانانو لپاره مباح دي او دغه حکم په هر ځای کې مشرکينو او کفاروته شامل دی، الله ــــ عزوجل ــــ فرمايي } :فَقتُلُوالمُشْرِكِينَ حَيثُ وَ جَدْ تمُوهُم وَخُذُوهُم وَحصُرُوهُم وَقّعُدُولَهُم كُلَّ مَرصَدّ فاِنْ تَابُو وَأقَامو الصلاةَ و اَ توُالزَكَاتَه فَخَلُّو سَبِيلَهُمْ اِنَ اللّه غَفُورٌ رَّحِيم) {التوبة (٥ :ژباړه : دمشرکينو سره وجنګيږئ هرچېرته چې مو وموندل دوی ونيسئ، کلابند يې کړئ او په هر ښار ځای کې ورته کېنئ، که چېرته بيا دوی توبه وويستله، د لمونځ پابندي يې وکړه او زکات يې ورکړ، نو د دوی لاره خوشې کړئ، يقيناً الله ــــ عزوجل ــــ ښښونکی مهربان دی .او بل ځای فرمايي: ﴿ فَاِنْ تَابُو وَ اَقَامُو الصَلاةَ وَ اَتَوُ الزَكَاةَ فَاِخّوانُكُمْ فِي الدِّين ﴾ (التوبة : ١١)

ژباړه :که چېرته بيا دوی توبه وويستله، دلمونځ پابندي يې وکړه اوزکات يې ورکړ، نو بيا دوی په دين کې ستاسې ورونه دي.

نو دمشرکينو د وينو د مباح کېدو سبب شرک دی، که بيا دوی د شرک څخه توبه وويستله، نو وينې يې خوندي دي، ابن قدامه ــــ رحمه الله ــــ وايي“:دحربي کافر په قاتل هيڅ قصاص نشته، ځکه چې الله ــــ عزوجل ـ فرمايي“:﴿فَقتُلو الّمُشركِينَ حَيثُ وَجدتمُوهُم﴾ (التوبة : ٥)

ژباړه :مشرکين چې چېرته هم ومومۍ ويې وژنئ .همدا ډول دمرتد په قاتل هم قصاص نشته، ځکه دهغه وينه مباح ده او دحربي کافر سره ورته والی لري).“الکافي في فقها الاِمام احمد(

په نبوي سنت کې دعبدالله بن عمر ــــ رضي الله عنه ــــ څخه روايت دی چې رسول الله ــــ صلى الله عليه وسلم ــــ فرمايي ”: ماته امر شوی چې زه دخلکو سره تر هغې وجنګيږم چې د لا اله الاالله محمد رسول الله ګواهي وکړي، دلمونځ پابندي وکړي او زکات ورکړي، که دغه کاريې وکړ، نو زما څخه يې خپلې وينې او مالونه بچ کړل مګر د اسلام په حق اوحساب يې په الله ــــ عزوجل ــــ دی. ”(متفق عليه)

نو د وينو او مالونو خونديتوب به هله وي چې په اسلام کې داخل شي.

امام طبري رحمه الله وايي“:دټولو علماوو په دې خبره اجماع ده چې د اهل حرب مشرکينو په اړه د الله ــــ عزوجل ــــ حکم دهغه وژل دي.(جامع البيان في تأ ويل القرآن)

امام شافعي رحمه الله دکفارو دوينو دخونديتوب په اړه وايي ”:الله عزوجل دکافر وينه او مال مباح کړی، مګر هغه مهال چې جزيه ورکړي او يا يو وخت پورې امان ورکړل شي. (الأم للشافعي)

دارالکفر د اباحت دار

دارالحرب او دارالکفر د اباحت کور دی معنا دا چې په دارالحرب او دارالکفر کې دکفارو وينې حلالې او مباحې دي، ځکه مخکې په دې خبره دلائل تېر شول چې د الله ــــ عزوجل ــــ سره شرک کول مال او وينه حلالوي، نو په دې بناء دمسلمانانو لپاره دکفارو وينې حلالې دي .امام شافعي ــــ رحمه الله ــــ وايي“ :يو دار هغه مهال مباح وي چې دشرک دار وي .(الأم)

جصاص حنفي وايي“ : کوم چې په دارالحرب کې وي هغه صحيح ملکيت دی، ځکه دغه دار مباح دی او دهغې د اهل شتمنۍ هم مباح دي . ” (احکام القران)

ابن ابي زيد القيرواني المالکي وايي :سحنون ويلي ”:که يو قوم په دار الحرب کې اسلام راوړي، نو دهغوی لپار د هر هغه کافر وژل او مال اخيستل حلال دي چې لاس يې پرې بر شي . (النوادر والزيادات)

شيخ حمد بن عتيق ــــ رحمه الله ــــ وايي“ : چاچې دمحقيقينو علماوو

مسائل ليدلي وي، نو هغه به په دې هم خبر وي چې کله په يو ښار کې شرک بر لاسی شي، محرمات پکې ښکاره کيږي او د اسلام احکام پکې معطل شي، نو هغې ته دارالکفر وايي؛ د دغه دار دخلکو مالونه غنيمت او وينې يې حلالې دي) .“ الدررالسنيه في الأجوبة النجدية (

دکفارو مالونه به يا غنيمت وي، يافيء او يا احتطاب

ابن تيميه ــــ رحمه الله ــــ وايي :هرچې غنيمت دی نو هغه، هغه مال ته ويل کيږي چې دکفارو څخه په جنګ اخيستل شوی وي).“ مجموع الفتاوی(

الله ــــ عزوجل دمسلمانانو لپاره غنيمت حلال کړی دی، الله سبحانه وتعالی فرمايي :﴿فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (الأنفال: ٦٩) ژباړه :تاسې له هغه څه خوراک کوئ چې تاسې غنيمت کړي دي حلال او پاک او د الله عزوجل څخه وېرېږئ، يقيناً الله عزوجل بښونکی مهربان دی.

په صحيح البخاري او مسلم کې دجابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :(ماته پنځه داسې شيان راکړل شوي چې زما څخه پخوا هيچاته نه دي ورکړل شوي، زما سره ديوې مياشتې په اندازه د رعب مرسته شوې، زما لپاره ځمکه مسجد او د پاکی سبب ګرځول شوې؛ که په هرسړي دلمانځه وخت راغی نو همالته دې لمونځ وکړي، زما لپاره غنيمت حلال کړی شوی؛ چې زما څخه پخوا دهيچا لپاره حلال نه و او ماته شفاعت راکړل شوی او پخوا به يو نبي يو ځانګړي قوم ته لېږل کېده او زه ټولو خلکوته استول شوی يم).

هر چې فيء ده ”: هغه مال چې دکفارو څخه د جنګ پرته اخيستل شوی وي) .“مجموع الفتاوی

الله عزوجل فرمايي : ﴿وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ ﴾ (الحشر:٦) ژباړه :هغه څه چې الله عزوجل خپل رسول ته بې له جنګه ورکړي، نو تاسې دهغې په لاسته راوړنه کې کوم اسونه او اوښان نه دي زغلولي.

هرچې احتطاب او غلا ده، نو هغه

دکفارو څخه په زور يا چل مال لاسته راوړل دي، دغه مال هم مباح دی که لاسته راوړونکی چېرته د امان صريح الفاظ ونه کاروي، په مجموعي ډول دعلماوو په منځ کې د دې مال د اباحت په اړه کوم معتبر اختلاف نشته، خو په دې کې يې اختلاف دی چې ايا دا غنيمت دی که يو مباح کسب دی، يواځې دلاسته راوړونکي لپاره به وي.

فصل :د احتطاب دهغه مال په اړه دعلماوو ويناوې چې خمس به ترې اخيستل کيږي

په کفارو ډاکه يا دهغوی د مال غلا په يرغل او بغير ديرغل څخه تر لاسه کيږي، بيا دغه يرغل به يا دامام په امر وي اويا به دهغه په امر نه وي او يا به ديرغل کوونکي ترشا ځواک وي يا نه او هغه چې بغير ديرغل نه لاسته راشي لکه چې يو اسير د راخلاصيدو څخه وروسته مال ځان سره وتښتوي، يا يو تاجر د سودا پرمهال د مال انکار وکړي يامال وتښتوي يا هغه ځوک چې په دارالحرب کې مسلمان شي او بيا مال غلا کړي، نو په دې ټولو حالاتو کې دعلماوو ويناوې چې ايا له دې به پنځمه برخه) خمس(اخيستل کيږي، کنه؟

لومړی :ديرغل سره ډاکه

دجمهورو علماوو په دې خبره اتفاق دی چې که چېر ته يو مسلمان او يا يوې ډلې مسلمانانو چې ځواک او قوت لري په دارالحرب ير غل وکړ او مالونه يې دزور ياچل په واسطه لاسته راوړل، نو په دغو مالونو کې به خمس مقرريږي، خو جمهورو علماوو بيا دقوت او ځواک لپاره کومه شمېره نه ده ټاکلې، امام بغوي شافعي ــ رحمه الله ــ وايي ”: که شمېره يې کمه وي او که زياته، خو خمس به دخمس حق دارو ته ورکول کيږي او پاتې به دغه جنګيالي اخلي، ترديې که يواځې يو سړی دارالحرب ته ننوځي ، يو حربي کافر ووژني او مال ترې واخلي، نو هم به ترې خمس اخيستل کيږي او پاتې مال به همدغه ته ورکول کيږي) . “التهذيب في فقه الاِمام شافعي (خو حنفي علماء بل نظر لري، امام ابو يوسف د خمس اخيستلو لپاره نهه کسان شرط ګرځولي، ځکه قوت او ځواک په دوی حاصليږي، خو که دوی کم يا يو تن يرغل وکړي نو بيا داحنافو په نزد په دې کې خمس نشته او ټول مال د دغه غازي دی او د يو حلال کسب په توګه ورته کتل کيږي، مګر هغه وخت چې يرغل په دارالحرب باندې دامام په اجازه وي، نو بيا به ترې خمس اخيستل کيږي، ځکه دغه يو سړی دلته په امام ډاډه دی، نو د ده حکم ديوې سرې شو.

دويم : يرغل يا مال اخيستل د امام په اجازه يا دهغه له اجازې پرته

جمهورو علماوو په دې اړه د امام اجازه يا نه اجازه کې توپير نه دی شرط کړی، بلکې هرچا چې دکفارو څخه مال واخيست که هغه دامام په اجازه و او که بغير له اجازې، نو هغې کې به خمس اخيستل کيږي، امام بغوي ــــ رحمه الله ــــ وايي ”:که يوه ډله د امام د اجازت پرته ووتله نو دغه کار د دوی لپاره مکروه دی، ځکه چې کله دوی په اجازې سره ولاړ شي، نو د احوال پوښتنه به يې کيږي او که مرسته يې پکار شي نو مرسته به ورته استولی شي، خو که بې اجازې يې کار وکړ، نو دغه غنيمت به خمس کيږي او پنځمه برخه به ترې اخيستل کيږي .(التهذيب في فقه الامام الشافعي)

ابو محمد الثعلبي البغدادي المالکي وايي ”: که ځوک دارالحرب ته په غلا داخل شو اوڅه مال لاس ته ورغی نو دهغه څخه به خمس اخيستلی شي او امام مالک په دې اړه د امام د اجازې او نه اجازې کوم توپير نه دی کړی. (عيون المسائل للقاضي عبدالوهاب المالکي)

دغه د جمهورو مذهب دی او د امام احمد څخه يو روايت هم دی، ابن قدامه د امام خبره داسې روايت کوي : د دوی غنيمت دنورو غنيمتونو په څېر دی امام به يې خمس کوي او پاتې به يې په همغو غازيانو ويشي، دغه د زياترو علماوو وينا ده چې يو پکې امام شافعي هم دی، دليل د الله ــــ عزوجل ــــ دغه وينا ده :﴿وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ﴾ الأنفال:٤١ ژباړه : او تاسې پوه شئ چې تاسې څه غنيمت کړل په هغې کې پنځمه د الله ــــ عزوجل ــــ ده “ .او دوی په هغه حالت قياس دي لکه دامام په وينا چې ننوتي وي. (المغني لابن قدامه)

هر چې احناف دي نو هغوی بيا د امام د اجازې او نه اجازې ترمنځ توپير کړی، امام ابو يوسف وايي ” : ما د ابو حنيفه ــــ رحمه الله ــــ څخه وپوښتل، ورته مې وويل که يو يا دوه سړي ديو ښار څخه ولاړ شي او په دارالحرب يرغل وکړي او څه مالونه لاس ته راوړي، نو له دوی به خمس اخيستل کيږي؟ هغه وويل : نه، له دوی به خمس نه اخيستل کيږي ځکه د ده مثال د غله دی چې څه لاس ته راوړي، ما ورته وويل که دلښکر يوه ډله ولاړه شي او غنيمت واخلي، نو دغې کې به خمس وي، هغه وويل :هو، ماورته وويل :نو د دغې ډلې او هغو دوه سړو ترمنځ څه توپير شو؟ هغه وويل:دغه د لښکر برخه د امام په اجازه وتلې او پاتې لښکرې مرستندويان دي او

هغه دوه سړي د يو ښار او يوې سيمې څخه تللي او د امام اجازه ورته نشته.(السير الصغير)

دغه د امام احمد څخه هم روايت دی، ابن قدامه دامام احمد څخه روايت كوي هغه وايي":دغه مال د دوی لپاره دی بغير له خمس اخيستلو څخه او دغه د امام ابو حنيفه ـــ رحمه الله ـــ وينا هم ده ، ځكه دغه د جهاد يو حلال كسب دی، نو داسې شو لكه څوک چې له ځنګله لرګي راوړي، ځكه جهاد خو د امام په اجازه وي، يايې داسې ډله ترسره كوي چې د هغوی ځواک او ملاتړ وي، هر چې دا بل دی دغه غلا او ډاكه ده او يواځې حلال كسب دی)."المغني (دامام احمد په دې اړه يو دريم مذهب هم دی او هغه دا چې د دغو جنګيالو هيڅ حق نشته او دغه مال دمسلمانانو دی ځكه دوی د امام له اجازې پرته وتلي دي، ابن قدامه ـــ رحمه الله ـــ وايي ":امام احمد دهغه غلام په اړه وويل چې روميانو ته وتښتي، بيا بېرته راشي او څه مال ورسره وي، نو دغه غلام دخپل مالک دی او كوم مال چې يې راوړی هغه دمسلمانانو دی، ځكه دوی په خپل كار ګنا هګار دي، نو حق يې هم نه لري. (المغني لابن قدامه)

دريم :د يو تاجر يا د هغه اسير لخوا مال لاسته راوړنه چې له زندانه را خلاص شي، يا هغه مسلمانان چې په دارالكفر كې مقيم وي او يا هغه څوک چې اوس په دارالحرب كې مسلمان شي:

څوک چې په دې مسئله كې دعلماء كرامو اختلاف ته ګوري نو پو هيږي چې دخمس اخيستلو علت په قوت او جنګ مال ترلاسه كول دي يا د امام په اجازه چې هغه مهال بريد ته جهاد ويل كيږي، هرچې له دې پرته وي، نو هغه علماء كرامو دغنيمت له نوم څخه ويستلی او يو حلال كسب يې ګرځولی لكه): احتطاب او اصطياد (يعني لرګي راغونډول او يا ښكار كول، لكه چې يو تاجر مال راغلا كړي، يا يو اسير د راخلاصيدو وروسته مال واخلي، يا هغه مسلمان چې دكفارو تر منځ اوسيږي او يا څوک چې په دارالحرب كې اسلام راوړي، د دې ټولو دليل هغه روايت دی چې امام طبري په خپل تفسير كې دسالم بن ابي الجعد څخه د الله ـــ عزوجل ـــ په دې وينا كې روايت كړی چې فرمايي : ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا﴾ او څوک چې دالله عزوجل نه ويريږي نو هغه به ورته لاره پيدا كړي، وايي دغه ايت داشجع قبيلې د يو سړي په اړه نازل شوی و، هغه ډېر ناداره شو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې شكايت وكړ، هغه ورته وفرمايل :دالله ـــ عزوجل ـــ څخه و وېرېږه او صبر وكړه، هغه چې كور ته ستون شو نو د هغه يو ځوی چې دكفارو سره اسير و راخلاص شوی و او يو شمېر بزې يې د ځان سره راوستې وې، نوهغه سړي دغه كيسه رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ ته وكړه او ورته يې وويل : ايا دغه زما لپاره حلالې دي؟ رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ ورته وفرمايل: هـو)"جامع البيان في تأويل القران(

نو دغه بزې چې يو مسلمان اسير د راخلاصيدو وروسته دكفارو څخه راغلا كړې وې، رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ خمس نه كړې، ځكه دمسلمانانو د واكمنۍ لرې په دارالحرب كې كار شوی و، دجنګ پرته شوی و او د رسول الله داجازې پرته شوی و، نو ځكه غنيمت حساب نه شو، له دې امله خو شرط دا دی چې دغه د احتطاب مالونه به دارالحرب كې لاسته راوړل شوي وي او د امام داجازت پرته به وي، چې دغه حكم دهغه تاجر په اړه هم دی چې په دار الحرب كې مالونه تر لاسه كړي، امام بغوي ـــ رحمه الله ـــ وايي":كه يو تاجر دارالكفر ته ننوځي او د يو حربي كافر څخه د سودا په شكل يو شی واخلي او بيا انكار وكړي او وتښتي، نو دغه مال د هغه لپاره ځانته دی؛ خمس به ترې نه اخيستل كيږي)."التهذيب في فقه الا مام الشافعي(

همدغه حكم د هغه چاهم دی چې په دارالكفر كې اوسيږي او كفارو ته يې امن نه وي وركړی، يايې په دارالحرب كې اسلام راوړی وي او دكفارو څخه غلا وكړي، تر څو پكې ټول هغه شرطونه پوره شي چې د رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ په زمانه كې دبزو اخيستونكي كې پوره و او دهغه چا هيڅ نشته چې وايي دكفارو څخه دغه ترلاسه كړی شوی مال به خمس كولی شي، ابن ابي زيد القرواني وايي": سحنون وايي:كله چې يو قوم په دارالحرب كې اسلام راوړي، نو دهغه لپاره دا حلال دي كه امكان وي چې كفار ووژني او مال ترې واخلي . (النوادر والزيادات)

دلته بيا د مال او د هغه دخاوند ترمنځ هيڅ فرق نشته، دسړي او ښځې او حتی دكفارو د ماشوم څخه به هم تښتولی شي.

په هغه څه كې وېش چې داهل حرب څخه اخيستل شوي وي

غنيمت

الله تعالی فرمايي :﴿وَاعْلَمُوأ نمّا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلهِ خُمُسَهُ وَ لِلرَّسُولِ وَلِذِى الْقُرْبَى وَالْيَتَمَى وَالْمَسَكِينِ وَبْنِ السَبِيلِ ان كُنتُمْ ءَامَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أنزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَالْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقي الْجَمْعَانِ وَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ ﴾ (الأنفال:۴۱) ژباړه:تاسې په دې پوه شئ چې تاسې كوم څه غنيمت كړي نو الله ـــ عزوجل ـــ دهغه رسول، دخپلوانو، يتيمانو، مسلمانانو او لارويانو لپاره دهغې پنځمه حصه ده، كه تاسې په الله ـــ عزوجل ـــ او په هغه كتاب ايمان لرئ چې مونږ دجدايي په ورځ په خپل بنده رانازل كړی؛ كله چې دوه ډلې سره مخامخ شوې او الله عزوجل په هر شي قادر دی.

نو دغنيمت پاتې څلور برخې به دغنيمت اخيستونكو مجاهدينو لپاره وي او يوه پنځمه برخه به يې دهغه چا لپاره وي چې الله ـــ عزوجل ـــ په دغې آيت كې ذكر كړي دي، د ابن عمر او ابن عباس ـــ رضي الله عنهما ـــ څخه روايت دی چې"رسول الله صلی الله عليه وسلم به دغنيمت دغه پنځمه حصه په پنځو برخو وېشله، "امام احمد رحمه الله وايي":دالله عزوجل او رسول الله صلی الله عليه وسلم حصه يوه ده، د رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ دخپلوانو لپاره يوه حصه چې هغه بنو هاشم او بنوالمطلب دي او رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ هم په همدغو كې وېشلې ده، ديتيمانو لپاره يوه برخه، د مسكينانو لپاره يوه برخه ، دابن السبيل يوه برخه ، (مسائل احمد بن حنبل روايت د ابن عبدالله دالله عزوجل او د هغه د رسول

صلى الله عليه وسلم دحصې مصرف)

صحيح خبره دا ده چې د الله عزوجل ـــ او د هغه د رسول حصه به په اسونو، اسلحو او دمسلمانانو په مصالحو کې لږولی شي، ابن قدامه وايي ":الله عزوجل خپل ځان او خپل رسول ته ځکه منسوب کړی چې دغه درسول الله ـــ صلى الله عليه وسلم ـــ په ذات پورې خاص دی او د هغه په مرګ به سقوط کوي .(المغني لابن قدامه)

فىء

الله عزوجل هغه ځایونه په سورت حشر کې بیان کړي چې باید د فىء مال پکې ولګول شي، فرمايي: ﴿مَّآأَفَآءَاللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنّ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى اْلْقُرْبَى وَالْيَتَمَى وَالْمَسَكِينِ وَبْنِ السّبِيلِ كَىْ لاَيَكُونَ دُولَةَ بَينَ الأَ غْنِيَاءِ مِنكُمْ وَمَاءَتَاكُمُ الرَّسُوُلُ فَخُذُوهُ وَمَا نَّهَاكُمْ عَنهُ فَانتَهُو وَتَّقُو اللَّه اِنَّ اللَّهَ شَدِيدُالعِقَابِلِلفُقَرَاءِ الّمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُو مِن دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِم يَبْتَغُونَ فَضّلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانَاَ وَّيَنصُرُنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أولَئِكَ هُمُ الصّادِقُونَ...﴾الحشر: (۱۰ ۹ ۸ ۷)ژباړه :هغه مال چې الله ـــ عزوجل او د هغه د رسول، يتيمانو، مسکينانو او لارويانو دی، ترڅو دغه مال په تاسو کې دمالدارو ترمنځ ملکيت ونه ګرځي، تاسو ته چې رسول څه درکوي هغه واخلئ او د څه نه مو چې منعه کوي له هغه منع شئ، د الله ـــ عزوجل ـــ څخه ووېرېږئ، يقيناً الله ـــ عزوجل ـــ د سخت عذاب خاوند دی، دغه مالونه دهغو مهاجرينو لپاره دي چې دخپلو کورونو او مالونو څخه راويستل شوي دي او د الله عزوجل فضل او رضا مندتيا غواړي او د الله عزوجل او د هغه د رسول مرسته کوي همدوی ریښتوني دي او د هغو انصارو لپاره چې خپل کورونه يې تيار کړي او له مهاجرينو يې مخکې ايمان راوړی، دمهاجرينو سره مينه کوي او په زړونو کې دهغه څه حاجت نه احساسوي چې مهاجرينو ته ورکړل شوي او هغوی په ځان غوره کوي اګر که په دوی ولږه او حاجت وي او څوک چې دخپل نفس له بخل څخه خوندي شو، نو همدغه کامياب دي او هم هغه کسان چې له دوی وروسته راغلي، وايي اې ربه مونږ ته ببښنه وکړې او زمونږ هغو ورونو ته چې زمونږ څخه په ايمان کې مخکې شوي او زمونږ په زړونو کې هغوی ته هيڅ بغض مه ګرځوې، اې ربه ته مهربان او رحم کونکی يې .

بيا په دې کې دعلماوو اختلاف دی چې ايا په فىء کې به خمس مقررولی شي او کنه؟ د دې اختلاف سبب د سورت حشر هغه مخکنی ايت دی، چېرته چې الله عزوجل کټ مټ هغه کسان ذکر کړي چې په سورة الأنفال کې يې دغنيمت لپاره ذکر کړي، نو يوې ډلې علماوو د آيت ظاهر اخيستی، خو بايد پوه شو چې الله ـــ عزوجل ـــ دلته خمس نه دی ذکر کړی لکه چې په سورة الأنفال کې ذکر دی، بلې ډلې علماوو د ابن عباس ـــ رضي الله عنه ـــ وينا ذکر کړې کله چې هغه دسورة الحشر آيت ولوست نو ويې ويل " :دغې آيت مسلمانان راګېر کړي دي"نو آيت دغه کسان دمسلمانانو داصنافو په توګه ذکر کړي نه دا چې د فىء خمس د دوی لپاره خاص دی .

ابن قدامه په الکافي کې وايي" : دمذهب ظاهر دا دی چې دفىء مال به په پنځه برخو نه وېشل کيږي، ځکه چې الله عزوجل فرمايي }:وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوجَفْتُمْ عَلَيهِ مِنْ خَيلٍ وَلاَرِكَابٍ){الحشر٦...(الأيات، نو دغه مال يې د ټولو مسلمانانو لپاره وګرځاوو، کله چې عمر ـــ رضي الله عنه ـــ دغه آيت ولوست نو وې ويل ": دغه ايت ټول مسلمانان راګېر کړي دي، که ژوندی پاتې شوم، نو يو شپونکی به دخپلو خرو سره راشي او د فىء څخه به خپله برخه واخلي او کله به يې پرې هم تندی نوي خولې کړی .(الکافي في فقه الاِ امام أحمد)

ابن قدامه داخبره غوره کړې چې د فىء مال به هم پنځه برخې کولی شي، يوه برخه به يې د هغه چا لپاره وي چې د غنيمت او فىء په آيت کې ذکر دي او څلور نورې برخې به يې د ټولو مسلمانانو لپاره وي، چې بيا يې په الکافي کې د دې لپاره خپل ترتيب هم ذکر کړی دی، وايي :په مهم مهم به پيل کوي، چې تر ټولو مهم دمسلمانانو لښکرې او دهغوی خرچ خوراک، دسنګرونو ساتنه او د هغوی د رزق غم دی، يا هغه ودانۍ چې هغوی ورته اړ تيا لري ياخندقونه کيندل يا پرې وسله اخيستل ، بيا له دې وروسته مهم پلونه، مسجدونه او لارې جوړول، بيا نهرونه کيندل، دنهرونو دبهيدونکې برخې رغونه ، دقاضيانو ، ملا امامانو او مؤذنينو تنخواګانې ورکول، چې له دې پاتې شي نو بيا د مسلمانانو په عامه حاجتونوکې لګول ، چې له دې هم پاتې شي، نو بيا دعمر ـــ رضي الله عنه ـــ د وينا مطابق په عامو مسلمانانو وېشل. (الکافي في فقه الا مام أحمد)

امان

په دې کې هيڅ اختلاف نشته چې دار الحرب دار الاباحت دی او دا چې د اهل حرب وينې خوندي نه دي او دا چې د ذمي او امان لوظنامه دوينې دتوېدلو مخه نيسي، هر چې معاهدين دي د چا چې د مسلمانانو سره لوظنامه، امان اوسوله وي نو تر هغې چې د دغو لوظنامو شرطونه پوره وي نو په مسلمانانو واجب دي چې د دغو لوظنامو پابندي وکړي، چې په دغو ټولو خبرو د امت د علماوو اجماع ده.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي":چاچې يو معاهد و واژه نو هغه به دجنت بوی احساس نه کړي او دجنت خوشبو دڅلويښتو کالو په مسافه حس کيږي .(روه البخاري)

يو مشرک ته د يو مسلمان لخوا امان ورکول د دې خبرې واجبوونکی دی چې ټول مسلمانان بايد د هغه څخه لاس ونيسي، لکه چې په متفق عليه حديث کې راځي، دعلي رضي الله عنه حديث دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي" :دمسلمانانو ذمه يوه ده، د دوی ادنا تن هم کولی شي دغه ذمه واري واخلي، که چا دکوم مسلمان ذمه واري سپکه کړه، نو په هغه دې دالله ـــ عزوجل ـــ دملائکو او ټولو خلکو لعنت وي، دهغه څخه به دقيامت په ورځ بدله او قيمت قبول نشي . (رَوَاهُ البخَارِي)

همدا راز د علي رضي الله عنه ـــ بل روايت چې رسول الله ـــ صلى الله عليه وسلم ـــ فرمايي ":دمسلمانانو وينې سره يو شان دي او دوی دبل چا پر خلاف يو لاس دي، د دوی ذمه واري يو ادنا مسلمان هم اخيستی شي، خبر دار ! يو مؤمن به دکافر په قصاص کې نه وژل کيږي او نه به يو معاهد په خپله لوظنامه کې وژل کيږي .(رواه أحمد ، وأبو داود، والنسائي)

ابن هشام وايي ":ماته ابو عبيد بيان کړی چې ابوالعاص بن الربيع کله دشام څخه راغی او د هغه سره د مشرکينو مالونه و، نو چا ورته وويل: چې ولې داسې نه کوې چې دغه مالونه دمشرکينو واخلې او اسلام راوړې، نو ابوالعاص ورته وويل : ډېره بده خبره ده چې زه خپل اسلام په امانت کې له خيانته پيل کړم . (سيرة ابن هشام)

د مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی :چې زه په جاهليت کې ديو قوم سره ملګری وم ، نو هغه مې و وژل او مال مې ترې واخيست او بيا راغلم اسلام مې راوړ ، نو رسول الله ـــ صلى الله عليه وسلم ـــ راته و فرمايل" :هرچې اسلام دی نو هغه قبول دی خو هر چې مال دی نو زه دهغې هيڅ ذمه واري نه اخلم .(رواه البخاري)

ابن قيم رحمه الله وايي ":رسول الله صلى الله عليه وسلم چې مغيره ته وويل چې اسلام دې قبول خو د مال قصه کې دې نه

يم، نو دا په دې خبره دليل دى چې د مشرک معاهد مال معصوم دی، په هغه به ولکه نشي کولی بلکې هغه به ورکولی شي، ځکه مغيره دخلکو سره په امان ملګری و بيا يې غدر وکه او مالونه يې واخيستل ، نو رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ نه د هغه څخه مال واخيست ، نه يې ترې دفاع وکړه او نه يې دهغې ضمانت وکړ، ځکه دغه د مغيره داسلام څخه مخکې شوې وه .(زاد المعاد في هدي خير العباد)

په وينا کې چل کول دامان وروسته غدر نه شمېرل کيږي

په دې اړه د عبد الله أنيس او محمد بن مسلمه ـــ رضي الله عنهما ـــ کړنې زمونږ پر وړاندې دي، محمد بن مسلمه کعب بن اشرف ته امان نه و ورکړی، بلکې هغه ته يې دا وهم پيدا کړ چې زه د رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ سره زندګي کې تنګ يم ، خو په دغه کې يې هم د رسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ څخه اجازه اخيستې وه او هغه ورته اجازه کړې هم وه، د هغه وينا بخاري داسې رانقل کوي : دغه سړی زمونږ څخه صدقې غواړي او مونږ ته يې مشکل پيښ کړی نو زه راغلم چې ستا څخه قرض وکړم ، هغه ورته وويل : په الله ـــ عزوجل ـــ قسم تاسو به له ده ډېر تنګ شئ، محمد بن مسلمه ورته وويل :مونږ يې يو ځل تابع شوي يو او اوس نه غواړو چې ترې بېل شو مخکې له دې چې انجام يې وګورو، نو دمحمد بن مسلمه دا وينا چې مونږ ته يې مشکل پيښ کړی هغه دا چې صحابه کرامو ـــ رضي الله عنهم ـــ درسول الله ـــ صلی الله عليه وسلم ـــ سره بيعت کړی او دبيعت په ترڅ کې بيا هغو مشکلاتو ته تيار دي چې دالله ـــ عزوجل ـــ په لاره کې به پرې راځي، نو دلته يې دوکه وکړه او خپله غوښتنه يې ترې وکړه ، تر څو هغه مطمئن شي او مرګ يې اسان شي، په همدغې ډول عبد الله بن أنيس هم دخالد الهذلي سره وکړل، ورته يې وويل":زه خبر شوی يم چې ته ددغه سړي جنګ ته خلک را جمعه کوې، نو زه په دغه اړوند راغلم "نو دعبدالله بن أنيس خبره د مرستې او قتل دواړه معنا وې لري، نو بناء په يوه وينا او يا يو کار چل ورکول او بيا وژل يا په مال ولکه کول په غدر کې نه شمېرل کيږي ، خو هغه وخت چې په امان کې صراحت نوي، ځکه تأمين د دوه کسانو تر منځ لوظنامه ده چې مؤمِن او مستأمِن تر منځ په واضحه صريحو الفاظو تر سره کيږي، نه په داسې الفاظو چې په هغې کې دامان وهم وي.

د امان په واضحه الفاظو کې دعلماوو ترمنځ کوم اختلاف نشته ، خو دغير صريح الفاظو په اړه علماء اختلاف لري، ځينې دغه ډول وينا وې او کارونه دامان څخه ګرځوي او ځينې يې نه، خو دغه کومه نا اشنا خبره نه ده، چې يوه اندازه علماء ځينې الفاظ دغدر په خانه کې شماري او ځينې نور بيا دغه الفاظ دجنګ د چل او دوکې نه حسابوي.

خلاصه خبره : دا سې يوه اتفاقي قاعده نشته چې دغير صريح لاندې ټول جزئي مسائل راونغاړي او دا هم معلومه خبره ده چې ديوې قاعدې لاندې جزئي مسائل دا خلول په اجتهاد پورې اړيکه لري چې اختلاف پکې ممکن دی، نو په دې باب کې دضد څخه کار نه دي اخيستل پکار او نه بايد مسائل د خپل مسير څخه واړول شي.

ويزه او دار الحرب ته دننوتلو په اجازه دکفارو وينه او مالونه نه خوندي کيږي

داهل الحرب په وينو او مالونو کې اصل دا دی چې هغه حلالې دي او خوندي نه دي، که چېرته مونږ په کومه مسئله کې په دې اختلاف شو چې آيا دغه به امان وي که تأمين؟ او دلائل سره برابر يانږدې شول نو مونږ به هغه اصل ته رجوع کوو چې د کفارو د وينو او مال په حلالېدو فيصله کوي، مګر هغه مهال چې مونږ ته يو داسې دليل په لاس راشي چې يو معتبر مانع پياوړی کوي، ځکه چې اجماع يقين دی او اختلاف شک دی او يقين په شک نه پورته کيږي؛ داچې تأمين مشکوک مانع دی او شک په مانع کې په معلوم سبب ثابت حکم نه لغوه کوي او په دې کې هيڅ شک نشته چې په جنګ کې دکفارو سره چل او دوکه کول جايز ده، او دغه دوکه په دروا غو او هغو الفاظو سره وي چې احتمال لري او صريح نه وي.

خلاصه خبره دا شوه : چې کله د مال خونديتوب د هغې د مالک په کفر له منځه لاړ ـــ لکه دحربي کافر مال ـــ نو بيا په دغه مال په هره ممکنه لار ولکه کول جائز دي او د دې مسئلې په اصل کې کوم اختلاف نشته، مسلمان ته جائز دي چې داهل حرب مال غلا کړي او يا يې وتښتوي هرچېرته چې يې ومومي.

او دا په هيڅ شرعي او عرفي دليل کې نشته چې ويزه ورکول تأمين دی، بلکې ويزه د راننوتلو اجازه ده او د راننو تلو اجازه تأمين نشي کېدای، يو سړی په خپل کور کې هم مستأمين نه وي، بلکې د يو کور خلک ځينې د نورو څخه په امان کې نه وي او هم دا ډول تأمين ديو طرف څخه د بل طرف څخه امان نه شمېرل کيږي .

ابن ابي زيد القيرواني وايي ":که دوی پادشا ته خپل اسلام ذکر کړ او هغه وويل چې تاسې په امن ياست خو دوی ورته امن ورنکړ او په دې اړه يې هيڅ ونه ويل او نه په ښار کې دغه خبره مشهوره شوه چې د ښار خلک دخپل ځان په امن خبر شي، نو دوی کولی شي چې څومره يې خوښه وي وې وژني او مالونه يې لوټ کړي، هم دا ډول که بادشا ورته وويل چې تاسو ته مې امن درکړی دارالا سلام ته ولاړ شئ خو دوی ورته هيڅ ونه ويل ، نو دوی ته جائز دي چې څومره وژلی او اخيستلی شي هغه وکړي او بيا د دارالحرب څخه بهر شي ...اهل عراق وايي :که يو مسلمان دارالحرب ته بې امانه داخل شو او ورته يې وويل :زه ستاسو څخه يم او يايې ورته وويل چې زه په دې خاطر راغلی يم چې ستاسې په ملتيا وجنګېږم او کفارو ورته اجازه ورکړه، نو دغه مسلمان کولی شي چې څومره توان يې رسي دهغوی مالونه واخلي او وژنه پکې وکړي او دغه خبره دهغوی لپاره هيڅ امان نه دی .(النوادر وزيادات)

اوڅوک چې دارالحرب ته په جعلي او ياصحيح فاسفورټ ننوځي او په هغې کې ددغه سړي دين او شخصي معلومات واضح وي، نو کولی شي چې په هغوی ير غل وکړي او مال يې لوټ کړي ، ځکه دغه د امان صورت نه دی او نه د تأمين په معنی کې داخليږي ، ځکه چې عمرو بن اميه ځان دبني بکر قبيلې ته منصوب کړی و، هغه يو مشرک ته غلط او ګمراه کوونکې معلومات وړاندې کړل، هغه يې دوکه کړ چې کله پرې مشرک مطمئن شو، نو وې واژه، نو په هم دې توګه جعلي اسناد چې پکې دخپل خاوند هويت بدل وي او داسې نور هيڅ کله تأمين او امان نه شمېرل کېږي ؛ نه په عرف کې نه په شرعه کې.

که چېرته په دغو اسنادو کې داخبره وه چې داسړی دبل هيواد دی خو مطلوب هيواد ته د د غو اسنادو په توسط سره ننوځي، نو دغه هم تأمين نه شمېر ل کيږي، ځکه دغه دجنګ دچل او دوکې څخه شمېرل کيږي او دهغې دوکې نه سخت نه دی چې محمد بن مسلمه او د هغه ډلګۍ کړی و، دغه حالت د دارالحرب ته ځان منسوبولو يايو کافر قوم ته ځان منسوبول او يا يو دار ته پنا راوړل او يا هلته شپه تېرول، دغه ټول دمسلمان لخوا دکفري هيوادنو لپاره امان نه شمېرل کيږي، ديو قوم سره شپه تېرول او دهغوی دمرګ اراده لرل دغه هم امان نه شمېرل کيږي، لکه چې عمرو بن اميه الضمري ـــ رضي الله عنه ـــ دغه کار کړی و، همدا ډول محمد بن مسلمه ـــ رضي الله عنه ـــ ديهودو کلا ته ننوتی و، هغوی يې دوکه کړي و او بيا يې طاغوت کعب بن اشرف وژلی و، نو د يو مجاهد لخوا د پنا اخيستو له لارې دارالحرب ته ننوتل دصحابه کرامو دکار سره مشابه دی، خو داهغه مهال چې دا پنا اخيستنه دکفري لوظنامو لرونکې نه وي.

دکفارو په مال اخيسته او دهغوی سره جهاد ته هڅونه

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته هجرت وکړ، نو دهغه د رزق سرچينه غنيمتونه و، دغه د رزق تر ټولو پاکه سرچينه وه، ځکه هغه مال چې دکفارو څخه په زور واخيستل شي هغه دهغه مال څخه ډېر پاک او ستره دی چې له دې پرته په بله لار حاصل شي، الله ـــ عزوجل ـــ فرمايي : ﴿فَكُلُو مِمَا غَنِمتُمْ حَلَالاً طَيِّباً وَتَّقُوالَّلَه اِنَّ اللَّه غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (الأنفال: ٦٩) ژباړه: تاسې هغه څه خورئ چې تاسې غنيمت کړي دي حلال پاک او د الله عزوجل څخه و يريږئ يقيناً الله

عزوجـل ببښـونکی مهربـان دی.

ابـن القيـم رحمـه اللـه وايـي ”:راجحـه خـبره داده چـې پـه ټولـو کـې زيـات حـلال هغـه کسـب دی چـې اللـه ـــ عزوجـل ـــ تـرې دخپل نبـي ـــ صلـی اللـه عليـه وسـلم ـــ رزق گرځولـی دی، چـې هغـه دغنيمـت اخيسـتونکو کسـب دی کـوم چـې دهغـوی لپـاره دشـارع پـه ژبـه حـلال شـوی ، قـران کريـم د دغـه کسـب سـتاينه لـه نـورو ډېـره کـړې ده او د دغـه کسـب پـه خاوندانـو يـې لـه نـورو ډېـر شابسـی ويلـی دی ، ځکـه خـو دغـه رزق دټـول مخلـوق څخـه د غـوره انسـان او خاتـم النبيـن لپـاره گرځـول شـوی، چېرتـه چـې هغـه فرمايـي) :زه دقيامـت څخـه وړانـدې دتـورې سره راسـتول شـوی يـم ترڅـو د اللـه عزوجـل يواځـې بندگـي وشي چـې هيـڅ شرک پکـې نـوي ، زمـا رزق زمـا دنېـزې لانـدې گرځـول شـوی، پـه هغـه چـا ذلـت او خـواري ليـکل شـوې چـې زمـا د امـر مخالفـت کـوي (او دغـه د عـزت شرافـت او دکفـارو د ذلـت سره اخيسـتل شـوی او اللـه ـــ عزوجـل ـــ تـه تـر ټولـو محبـوب گرځېدلـی دی، نـو د دغـې رزق سره هيـڅ شـی مقابلـه نـشي کولـی. واللـه اعلـم) ”زادالمعـاد(

ځينـې مسـلمانانو تـه دا خونـد نـه ورکـوي چـې دکفـارو مـال پـه زور واکـی وبهيـږي، دغـه مسـلمانان گومـان کـوي چـې د دوی پـه لاس کـې دنـورو کسـبونو مالونـه بهـتر دي، چـې دغـه گـمان صحيـح نـه دی، ځکـه دقـرآن پـه نـص تـر ټولـو پـاک حـلال غنيمـت دی او همدغـه پـه مدينـه کـې دهجـرت څخـه وروسـته درسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم رزق و.

دغـه مالونـه اللـه عزوجـل دخپلـو بندگانـو لپـاره پيداکـړي تـر څـو پـرې دااللـه عزوجـل عبـادت او اطاعـت پـه صحيـح توگـه وکـړي، نـو چاچـې پـه دغـه مـال دکفـر او شرک مرسـته وکـړه، اللـه ـــ عزوجـل ـــ بـه پـرې داسـې څـوک مسـلط کـړي چـې د هغـه دلاس څخـه بـه يـې واخـلي او حقداروتـه بـه يـې راسـتانه کـړي چـې هغـه دااللـه عزوجـل موحـد او مطيـع بنـدگان دي، ځکـه خـو فـيء تـه فـيء ويـل کيـږي چـې دغـه بېرتـه هغـه چاتـه راسـتون شـو چـې دهغـه لپـاره پيـدا شـوی و.

پـه موحدينـو فـرض دي چـې دخپـل جهـاد دايـره پراخـه کـړي، ځکـه د مال ا و اقتصـاد جنـگ دجهـاد لـه پراخـه ميدانونـو څخـه دی لکـه چـې رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم پـه ډېـرو غزاگانـو کـې دکفـارو مالونـه اخيسـتي او لـه منځـه وړي و او پـه دې کـې هـم شـک نشـته چـې کفـار خپـل فوځونـه پـه مـال چلـوي، نـو پـه موحدينـو فـرض دي چـې د دوی د وهلـو لپـاره لارې چـارې ولټـوي، ترڅـو هغـه تبا او کمـزوري شي، پـه هغـو مسـلمانانو چې پـه ديـار کفـر کـې اوسي او هجـرت ته لاره نـه مومـي بايـد دوی د ابـو بصيـر ـــ رضي اللـه عنـه ـــ کړنـو تـه لاس واچـوي هغـه هـم د مکـې مشرکينـو سره دغـه ډول کړنـه کـړې وه، او پـه دې کـې شـک نشـته چـې دکفـارو مـال تبـا کـول زمونـږ پـه نـن ورځ جهـاد کـې لـوی رول لوبـوي.

پـه دې کـې بيـا دحـربي کفـارو مالونـه اخيسـتل او د تخريـب پـه نېـت تبـا کـول هـم شـامل دي چـې پـه دې سره بـه د د ښـمن ځـواک کمـزوری شي او اقتصـاد بـه يـې لـه کاره پرېوځـي، ابـو يوسـف وايـي ”:پـه دې کـې هيـڅ خـبره نشـته چـې دهغـوی کلاوې پـه اور وسـوځول شي، پـه اوبـو کـې ډوبـې شي، ويجـاړې او تخريـب شي ، منجنيقونـه ورتـه ودرول شي، ځکـه اللـه ـــ عزوجل ـــ فرمايي }يخربونـه بيوتهـم بأيديهـم وأيـد المؤمنيـن{دوی خپـل کورونـه پـه خپـل لاس او دمؤمنانـو پـه لاس ويجـاړوي، ځکـه دا هـر څـه دجنـگ برخـه ده او پـه دې کـې د دښـمن دغوسـه کولـو او خفـه کولـو ډېـر لـوی لامـل دی، بلـه داچـې د مـال حرمـت دهغـې دخاونـد تابـع وي او دلتـه دمـال د خاوندانـو کـوم حرمـت نشـته، نـو دمـال بـه يـې څنگـه وي؟ (بدائـع الصنائـع)

هـم دا راز دغـه مالونـه پـه جهـاد في سـبيل اللـه کـې هـم کارولـی شي ، دکفـارو نـه بـه اخيسـتل کيـږي او د خلافـت ولايتونـو تـه بـه د ورونـو پـه هجـرت کـې لگـول کيـږي او يـا بـه دکفـارو دجهـاد لپـاره تـرې گټـه اخيسـتل کيـږي، زمونـږ ډېـر ورونـه دهجـرت څخـه پـه دې لامـل پاتـې دي چـې د هجـرت خرچـه نـه لـري تـر څـو دکفـارو سره کار وکـړي او دهجرت ترتيـب برابـر کـړي، واللـه المسـتعان، پـه همـدې ډول موحـد مجاهـد بـه دکفـارو مالونـه اخـلي او د وسـلو اخيسـتلو لپـاره بـه يـې کاروي او د کفـارو دکـور پـه منـځ کـې بـه پـرې عمليـات تـرسره کـوي .

نـو اې موحـده !چـې پـه ديـار کفـر کـې اوسـې د ابـو جنـدل ـــ رضي اللـه عنـه ـــ پـه څېـر شـه او دحربي کفـارو دمـال پـه اخيسـتلو، تښـتولو او ولکـه کولـو مـه وېرېـږه، پـه هـره طريقـه چـې کولـی شـې کار وکـړه او د ابـن تيميـه رحمـه اللـه پـه دې وينـا کـې سـوچ وکـړه، چـې د هغه مسـلمان پـه اړه وايـي کـوم چـې دارالحـرب تـه ننوځـي ” : کـه چېرتـه يـې دکفـارو نفسـونه او اولادونـه غـلا کـړل يـا يـې پـرې پـه بلـه هـره طريقـه ولکـه وکـړه، نـو دمحاربـو کفـارو نفسـونه او مالونـه دمسـلمانانو لپـاره مبـاح دي، کـه پـه هـره مشروعـه طريقـه يـې پـرې ولکـه وکـړه د مسـلمان ملکيـت گرځـي) .“مجمـوع الفتاوی(دغـه يـې دبچـو دتښـتولو مسـئله شـوه، نـو د مالونـو غـلا کـول بـه لاڅـه وي؟

اې موحـده !دا هېـره نـه کـړې چـې پـه اسـلامي دولـت دکفـارو جنـگ روان دی، نـو خپـل نېـت خالـص کـړه، پـه اللـه عزوجـل تـوکل وکـړه او دهيچانـه دکفـارو د مـال پـه سـلب کولـو کـې مشـوره مـه غـواړه، ځکـه دغـه مـال اخيسـتنه دکفـارو اقتصـاد کمـزوری کـوي او مؤمنانـو کـې جـرأت اچـوي او د مـال اخيسـتنې څخـه لويـو عملياتـو تـه يـې تيـاره وي، دغـه دجهـاد هغـه برخـه ده چـې پـه دې زمانـه کـې خلکـو پريښـې ده، مگـر ډېـر کـم ريښـتوني مجاهديـن دغـه کار کـوي، دااللـه عزوجـل نـه سـوال دی چـې مجاهدينـو بندگانـو تـه فتـح ورکـړي، دهغـوی زړونـه روغ کـړي، والحمدللـه رب العالميـن.

طالبان د اتاترک لارویان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله الأمين وعلى آله الطيبين الطاهرين وصحبه أجمعين، أما بعد:

په تير تاريخ کې هم د اسلامي خلافت پياوړي او محکم بنسټونه تل د لستونو دمارانو لخوا رنګ شوي دي، هغه خاينان چې د څو ټکو په بدل کې په اسلام دښمنه عناصرو په خپل ايمان، حياء او عزت د معاملې کولو ترڅنګ تل د اسلامي نظام مجد، برم او د پاک لمنو خويندو ميندو حياء او عزت هم پلورلی، دغه بې احساسه او بې وجدانه وحشيان د عاقبت او آخرت د سوکالۍ پر ځای د دنيا دوه ورځې ژوندون او خواهشات غوره کوي، او ابدي ابدي ځانونه د ويل او هلاکت د کندو مستحقين ګرځوي، که دغه ناپوهانو لږ عقل درلودای نو دا کار به يې هيڅ کله نه وی کړی ، چې د اسلام بيرغ رانسکور کړي او د کفر بيرغ په يوه سيمه ورپوي، د الله د لارې سپيڅلی مجاهد د الله دښمن ته په لاس کې ورکړي ترڅو هغه يې په بې رحمانه توګه شهيد کړي، او خپله سينه پرې يخه کړي، د دغه مجاهد عفت منده ميرمن، مور، خور او کوچنې بچيان پرې وژړوي، دشرعي محاکمو پر ځای کفري قوانين په خلکو وتپل شي، د پريکړې واک د لوی الله پر ځای کمزورو بندګانو ته ورکړل شي او هغوی د خپل ناقص فهم او بصيرت څخه بشري نظامونه جوړ کړي، د اسلامي او ديني تعليم پرځای سيکولري تعليم رائج شي، د حياء او ستر پرځای بې حيايي او فحاشي عامه شي، د امت ځوانان او کوادر د اسلام پر ځای د غرب د پروژو تطبيقونکي اجيران شي، خپل تير ماضي هير کړي او د غرب د کاغذي نظام د جعلي شکلا عاشقان او اسيران شي، خپل خيرخواه ورته بدخواه، د پرمختګ ، تعليم او روښانه مستقبل دښمن ښکاره شي، د حقيقي عدل او انصاف حامي وروو ورته ظالم او د پرديو لوبغاړی معرفي شي، د اسلام مبارک نظام يوازې د مونځ، اودس او غسل په څېر يو څو محدودو اعمالو پورې منحصر کړي، د شرعي سياست په باب اسلام ناقص وګڼي، د مدينې نبوي دولت، د خلفاء راشدينو زرين دور او نورو اسلامي حاکمانو غوره ادوار ترې هير شي، د اسلام سياسي نظام ورته له وخته تير يو بې اهميته نه تطبيقيدونکي او د عصر غوښتنو ته نه رسيدونکي د جهل يوه تياره ښکاره شي او په ځای سکولريزم او ديموکراسي د کامياب نظام په حيث د ټولنې د ټولو ضرورتونو د حل مصدر ښکاره شي او د خلافت او امامت درسونه د کيمبريج، آکسفورډ او هارورډ پوهنتونو څخه فارغ شوي جاهلانو څخه ترلاسه کوي.

خو تاريخ په خپلو پاڼو کې دا هر څه ثبت کړي دي، تاريخ هيڅکله په دغه خاينانو ترحم نه کوي، او نه هم دغه خاينانو چرته ښه ورځ ليدلي ده. تاسې د ابو رغال حال وګورئ، هغه خاين چې د کعبې رنګولو اراده کونکي ابرهه ته يې د لارې رهبري کړي وه، د هغه وخت نه تر ننه يې خلک قبر په کاڼو ولي. دغه رنګ د عباسي خليفه (پاچا) مستعصم بالله وزير ابن العلقمي چې په پټه يې د مغلو پاچا هلاکو سره اړيکې جوړې کړې وې، بغداد يې رنګ کړ، يو مليون مسلمانان يې پرې ووژل، تر زرو پورې مسلمانې پيغلې وينځې شوې، خو دا هر څه ابن العلقمي د کفري نظام د چوکۍ لپاره وکړل، چې د بغداد سقوط څخه وروسته مغلي پاچا هلاکو ورته د سپي په سترګه کتل، ده ته يې هيڅ نوعه امتيازات ورنه کړل او لږه موده وروسته دا خاين هم پک زره له دنيا څخه رخصت شو.

دغه رنګ سابقه اسلامي تاريخ کې د عبد الله بن سبأ، د علماؤ قاتل ابن أبي دؤاد المعتزلي، د کعبې بې حرمتي کونکی ابو طاهر القرمطي او داسې ډيرې ځيرې شته چې د اسلام په نوم يې د اسلام تاريخ داغدار کړی دی، خو نږدې ماضي کې هم مونږ دغه خاينانو اوږد لست لرو چې دغه جملې څخه شاه شجاع، امان الله خان، اتاترک، کرزی، اشرف غني، کرنل امام، اختر منصور، برادر او داسې نور غداران يادولی شو. زمونږ ستاسې خوږ نبي عليه السلام ته الهي فرمان همدا دی چې دغه خاينانو څخه ځان ليرې وساته.

إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا (105) وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا (106) وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنْفُسَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا (107) يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَى مِنَ الْقَوْلِ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا (108)

سورة النساء.

ژباړه: مونږ دا کتاب په حقه ستا لوري ته دراليږلی دی تر څو هغه سمه لاره چې الله در ښودلې له هغې سره سمه د خلکو په مينځ کښې فيصله وکړې، ته د خائنانو له خوا جګړه کوونکی مه کېږه. له الله نه بښنه وغواړه، هغه ستر بښونکی او رحيم دی. کوم کسان چې له خپل ځان سره خيانت کوي ته د هغو ملاتړ مه کوه. د الله هغه خوک نه خوښيږي چې خائن او د ګناه پر لار روان وي. دا خلک کولای شي چې له انسانانو څخه خپل کړه وړه پټ کړي خو له الله څخه يې نه شي پټولای، هغه خو په هغه وخت

کښې هم له هغو سره وي چې کله دوی د شپې له مخې په پټه د هغه د رضا پر خلاف مشورې کوي. ددوی پر ټولو کړو وړو د الله علم چاپېر دی.

د احاديثو ذخيره چې وکتل شي نو د خيانت او د خاينانو يې زياته بدي ذکر کړې ده، خصوصاً هغه خلک چې اسلامي نظام او مسلمانانو سره يې خيانت کړی وي، نو هغوی ته نبي عليه السلام داسې عبرتناکه سزا ورکړې ده، چې انسان يې واوري نو غونې يې زيږ شي، صحيح البخاري او صحيح مسلم کې راځي چې دعرينه قبيلې کسانو چې کله اسلامي نظام سره خيانت وکړ نو : «فَأَمَرَ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسُمِرَتْ أَعْيُنُهُمْ، وَأُلْقُوا فِي الحَرَّةِ، يَسْتَسْقُونَ فَلاَ يُسْقَوْنَ» ژباړه: نبي عليه السلام حکم وکړ، نو لاسونه او خپې يې ترې پرې کړې، او په سترګو کې ورته ګرمې شوې اوسپنې (سيخان) ورکړل شو، او په داسې ځمکه کې واچول شول چې ګټې پکې وې، هغوی اوبه غوښتلې خو اوبه ورته نه ورکول کېدلې.

دا عمل که نن د اسلامي خلافت مجاهدينو دغه شان مجرمانو سره وکړ، ټول به په يوه خوله چيغه کړي چې ګورئ مونږ درته ويلې چې خوارج دي. الغرض زمونږ مبارک نبي صلی الله عليه وسلم په آخري زمانه کې دداسې خاينانو په اړه هم خبر ورکړی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ سَنَوَاتٌ خَدَّاعَاتُ، يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ، وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ، وَيُؤْتَمَنُ فِيهَا الْخَائِنُ، وَيُخَوَّنُ فِيهَا الْأَمِينُ، وَيَنْطِقُ فِيهَا الرُّوَيْبِضَةُ" قِيلَ: وَمَا الرُّوَيْبِضَةُ؟ قَالَ: "الرَّجُلُ التَّافِهُ فِي أَمْرِ الْعَامَّةِ". ابن ماجة وسنده حسن.

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زر دی چې په خلکو به دوکه ورکونکي کلونه راشي، دروغجن به پکې ريښتوني ګڼل کيږي، او ريښتوني به پکې دروغجن ګڼل کيږي، خائن ته به د امين په سترګه کتل کيږي او امين ته به د خائن په سترګه کتل کيږي او رويبضه به پکې خبرې کوي. وويل شول: رويبضه څه ته وايي ؟ هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ناپوهه انسان به د عامه خلکو په کارونو کې غږيږي.

الله أکبر! نن همدا خبره ده، طالبان ځان اهل السنت والجماعت معرفي کوي او اولس ته خپله خير خواهي څرګندوي او په خلافت باندې تورونه پورې کوي، دوی ټولو حربي کفارو سره ددوستۍ او مولاتوپه کولو سره ريښتيني مومنان(!) دي او د اسلامي خلافت مجاهدين د ټولې نړۍ کفارو سره په جګړه کې ښکيل بيا هم د کفارو پروژه ده .

دوی د چيچين ، ققفاز داغستان او نورې اسلامي خاورې اشغال کونکي او د اسلامي امت قاتلين حربي روسان خپل نيږدې دوستان ګڼي او د يغور د ميلونونو مسلمانانو له قاتلانو او ناموس لوټونکو کمونسټو چينايانو سره په دوستۍ وياړي خو دې د اسلامي امت امانتدار او د اسلامي خلافت مجاهدين چې عملا دې ټولو کفارو سره په هر ميدان کې په هره اړخيزه جګړه بوخت دي خاينين دي ؟

دوی دې په دوحه کې د امريکايي استخباراتو سره په پټو ناستو او د مجاهدينو په خلاف د شريکې جګړې په نوعيت او مخ ته وړلو غږيږي او مجاهدين دې ترورستان معرفي کوي خو دوی دې بيا حقيقي مجاهدين وي او هغه څوک چې دوی او کفار يې په پټو ناستو کې د ترورستانو په نامه يادوي او په وړاندې يې د شريکې جګړې پلانونه جوړوي هغوی دې بيا خوارج او د کفارو پروژه وي .

قربان شم د رسول الله عليه السلام په عزت باندې، څومره ريښتيا خبره يې کړې ده.

دغه طالبان چې ځانونه د سوچه اسلامي نظام حاميان بولي حقيقت کې ډير په سرعت سره د دغه خاينانو په لار روان دي، او خپل نومونه ورځ تر بلې دغه د خاينانو تور لسټ ته خيژوي، چې تاريخ به يې د تل لپاره ثبت کړي، طالب مليشې که څه هم د خپلې باداري امريکا له لورې د ورکول شوې طرحې په اساس په ډير هنر او مکر خپلې کفري کړنې د اسلام په څادر کې پټوي او په دوحه کې د تطبيق لپاره د ديموکراسۍ نوې بڼې ته د اسلام جامې وراغوندي او په دې ناکامه هڅه کې دي چې هم کفارو سره خه خوږه يارانه روانه وساتي او هم ځانونه د کفارو دښمنان معرفي کړي خو کوږ بار تر منزله نه رسيږي ، خلک ددوی په څېر احمقان نه دي چې دا هرڅه دې په پټو سترګو ومني ، دوی د خپلو کفري کړنو او اسلام ماتونکو مانورونو په لړ کې هره ورځ يوه نوې بيلګه وړاندې کوي چې لله الحمد اوس ددوی هغه پټه څيره ټولو خلکو پيژندلې ، چې ددغه راز کړنو په دوام يې تاسې درانه لوستونکي ددې شاهدان وئ چې په قطر کې د طالبانو د سفارت سرپرست ډاکټر نعيم د ترکيا سفارت په رسمي بلنه د کمال اتاترک د نهه نوييمې کليزې لمانځغونډې ته ورغلې دی. انا لله وانا اليه راجعون.

هسې خو کفارو او طواغيتو سره ددوی په دغه رسمي غونډو ، مذهبي مراسمو او د کفارو په تقليد خپله د همداسې غونډو په جوړولو او په کې په ګډون کولو دوی وياړي ځانونه ورته ډير ماهرن او د عصر د سياست او تقاضاو په اساس با فراسته سياستمندان ښکاري او دا کفري کړنې د حکمتونو او د وخت دمصلحتونو په نوم په خپلو کشرخيلو ورتيروي او هغوی ورځ تربلې ددوی ددغه راز کفري کړنو ننداري کړي ځکه خو نو اوس ددوی له ډلې هيڅوک په دې کوم غبرګون نه ښايي چې ددوی استخباراتي چارواکي د حساب او راپور ورکولو په هدف ددوی باداري سي آی آې قطر ته غوښتي و او د اسلام د دښمنۍ لپاره يې ترې تازه برنامې او طرحې واخستې ، خو ټول مشر او کشر يې د پټو ناستو په نوم دا کفري کړنې د وخت ضروت او مصلحت ګڼي .ځکه يې نو د آی ايس آی په روزنتون کې تربيه شوي مشران اوس په خلاص مټ کفري کړنې ترسره کوي ، دوی په ډير مهارت آی ايس آی د ذلت دې خم ته ورټيل وهل چې اوس که دوی هر څومره د کفر په لاره مخ ته لاړ شي نو دوی د کوم شرم او خجالت احساس نه کوي

خو راځو دې ته چې د کوم اتاترک د بريا په جشن کې چې په داسې خوشاله ددوی سفير برخه اخستې دا هماغه اتاترک دی چې د طالبانو خپل ليکوال عبد الستار سعيد د لومړي نړيوال جنګ په اړه ليکلې مقاله کې وايي: [مصطفی کمال عثماني خلافت ړنګ کړ، د متحدينو لښکرې يې د ترکيې له اصلي سيمو وايستلې او په سيکولر نظريه ولاړه نوې ترکيه يې رامنځته کړه]. بيا وايي: [اتاترک چې عرب او اسلام يې يو شی بلل دعربو سره د رقابت له امله يې له اسلام سره هم دښمني پيل کړه ، بې دينه حکومت يې رامنځته کړ په عربي رسم الخط او ګڼو اسلامي احکامو يې بنديز ولګاوه او اذان يې له عربي څخه په ترکي واړاوه.]

نو پوښتنه دا ده چې آيا نن اتاترک بيرته صالح او سوچه مسلمان شو، چې د طالبانو په څېر دسوچه مسلمانانو (!) د سفارت سرپرست د طالبانو په رسمي نيابت د ترکيا سفارت ته ورځي او د اتاترک سيکولر او خاين کليزه لمانځي ؟

اتاترک، اشرف غني او دوستم کې څه فرق دی ؟ چې يو سره دښمني کوئ او د بل کليزه لمانځئ ؟ ستاسې په نزد د دوستۍ او دښمنۍ معيار څه دی ؟ ستاسې پرونۍ خبرې په حقه وې او که د نن ورځې شرکي دريځ مو سم دی ؟

Embassy of Afghanistan in Doha
@AfgEmbDoha1

نن ماښام 27/10/2022م نېټه په دوحه کې د افغانستان د اسلامي امارت د سفارت سرپرست محترم ډاکټر محمد نعيم د ترکيې هېواد د خپلواکۍ د نهه نوييمې کليزې د لمانځ غونډې په مراسمو کې په قطر کې د ترکيه د سفارت په رسمي بلنه ګډون وکړ.

Translate Tweet

عزتمندو مسلمانانو ورونو! د طالبانو د نظام د پيژندنې لپاره به همدا دلايل بسنه کوي چې دوی د هغه امان الله خان او د هغه انډيوال اتاترک کليزې لمانځي، هغوی خپل مشران بولي، د هغوی انځورونو ته د ګلونو ګېډۍ ږدي.

چې يو پسې د افغانستان ملت قيام کړی و او هغه هم تيښتې ته اړ شوی و، او دا بل هم داسې څوک دی چې پرون پورې ورته طالبانو سيکولر او بې دينه ويل، دوی ويل چې اسلام سره يې دښمني پيل کړه، په ډېرو اسلامي احکاماتو يې بنديز ولګاوه، خو نن هغه سره دوستي روا شوه، د هغه لمانځ غونډه روا شوه، دوی ورته خپل رسمي غړی ورلېږي !!

اې مسلمانانو ! نور څه غواړئ، داسې واضحه دلائل او حجتونه مونږ او تاسې وليدل، آيا ددې نه وروسته به هم د چا لپاره عذر پاتې شي چې ووايي مونږ نه پوهيږو، د طالبانو نظام اسلامي دی او که کفري ؟

[لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ] سورة الأنفال.

ژباړه: ددې لپاره چې هلاکېدونکي له ښکاره دليل سره هلاك شي او څوك چې ژوندی پاتې کېدونکی دی هغه له روښانه دليل سره ژوندی پاتې شي.

د طالبانو لخوا د اتاترک کليزه لمانځل لومړی او آخري پيښه نه وه، بلکې دا د طالبانو د يو ښکاره ناقض پايله وه، چې ضمناً ډېرو نواقضو او شرکي اعمالو ته شامل دی، چې هغه د ترکيې مرتد دولت سره غير شرعي اړيکو څخه عبارت دی، طالبان دترکيې حکومت ته مرتد نه وايي، براءت ترې نه کوي، دوستي ورسره کوي، د مسلمانانو خلاف ترې کومک اخلي ، چې د الله په شريعت کې دا کارونه اسلام ماتونکي کړني دي. ترکيا هيواد هغه نانځکه ده چې ظاهرا د ناټو متعهد غړی هيواد بلل کيږي، خو حقيقت کې يوازې چکچکو ته ناسته ده او د خپلو مفادو په پار کله امريکا او کله روسيه ته نخيږي. کله د اسرائيل يهودو لمن يې نيولي وي او کله بيا د مجوسي ايران تالي څټي.

همدا ترکیا له ناټو سره یوځای افغانستان ته راغلې وه، شل کاله یې دلته بې ګنا مسلمانان په بې رحمۍ ووژل ، سره ددې چې په خوله یې د اخواني اسلام دعوه هم کوله ، خو کله چې طالبانو په دوحه کې امریکایانو ته د ملا برادر او مل پلاوي په لاس د تسلیمۍ تړون لاسلیک کړ، نو د طالبانو اړیکې د امریکا متحده ایالتونو، اروپايي ټولنې او د ترکیې په څېر د امریکا د پرکټو هیوادونو سره داسې پیاوړې شوې، ګوندې دوی له پېړیو راهیسې د یو بل خواږه دوستان و . چې حقیقت کې دا پلان د امریکا او نړیوالو استخباراتو لخوا طرحه شوې، او مرحله په مرحله په مخ درومي، د امریکا هر غلام هیواد پکې خپل رول ادا کوي، لکه څنګه چې قطر د امریکا تر ټولو ستره استخباراتي هډه ده طالبان او امثالهم یې د خپلو منافعو په خاطر د یو اسلامي هیواد په نوم نوموي خو نور ستر طاغوتي هیواد دي چې د طالبانو په تسلیمۍ او د امریکا له لوري طالب مرتدینو ته د دیموکراسۍ د تطبیق د پروژې د سپارلو په پروسه کې قطر خپل ځانګړی ماموریت لري چې د دې ماموریت ډیرې برخې یې ترسره کړې او لا هم جریان لري ،او د امریکا د ماموروو هیوادونو له ډلې یوه هم ترکیه ده چې اوس ورته په فرهنګي برخه کې او همدا راز په نړیواله کچه د طالبانو د مطرح کیدو او ددوی رسمیت او مشروعیت ته د زمینه سازۍ په برخه کې ورته د امریکا له لوري ماموریت سپارل شوي چې اوس نو ترکیه په خپل ټول توان دا هڅه کوي چې د امریکا له لوري ورسپارل شوي ماموریت په درست شکل ترسره کړي .

راځئ ! دطالبانو او ترکي طواغیتو د اړیکو جریان ته به د یو څو عناوینو په لړ کې کتنه وکړو:

اول: د امریکایي ځواکونو نمایشي انخلاء پرمهال د ترکیا د پاتې کیدو تړون:

کله چې امریکا خپلو کم کرایه ملیشو طالبانو ته د کابل د واک سپارلو پروسه پیل کړه، نو د تړون موافق یو شرط یې دا و چې ترکي پوځونه به دلته پاتې کیږي، ترڅو په کابل کې د کفارو د سفارتونو ساتنه او د هوايي ډګرونو تخنیکي چارې پرمخ بوځي، خوهغه وخت یې کشرخیل لا د ښارونو په مزو او عیاشیو پوره روږدي نه و او نو ددې خبرې مخالفت یې وکړ او نورو عامو افغانانو هم غبرګون وښود، طالبان دې ته اړ شو چې امریکایي بادارانو ته زارۍ وکړي چې خیر دی یو ځل دې د ترکیا ځواکونه هم له افغانستانه ووځي، بیا به یې د یو قرارداد او تړون په نوم مونږ بیرته راولو، امریکا هم دا خبره ومنله اوترکي ځواکونه په کړکۍ ووتل او بیرته په دروازه راننوتل، او د لږې مودې وروسته بیرته د ترکیا او قطر پوځونه چې دواړه د امریکا لاسپوځي مرتد غلامان دي، د هوايي ډګرونو د ترمیم او د تخنیکي چارو کنټرول په نامه او بهانه کابل ته راستانه شول، خو د طالب کشرانو او نورو بې بصیرته خلکو پدې راتګ غږ هم ونه کړ بلکې دا یې د تړون له مخې د مرتدینو د راتګ جواز وباله ولو که اسلامي شریعت کې دا کار حرام و او دا د اشغال د دوام په معنا دی، خو ولکن لا حیات لمن تنادي !!

دویم: د ترکي جمهوریت د آزادۍ ورځ لمانځنه:

که څه هم د ترکیې مرتد دولت لخوا د کابل هوايي ډګر په شمول د امریکایي او نورو کفري هیوادونو مهمو استخباراتي مراکزو ساتنې دنده ترسره کیږي، خو هغه کار ته طالب چوروکي د تړون نوم ورکوي، او په دغه نوم یې ځان ته د اسلامي شریعت دپولو ماتولو، د امریکا غلامۍ او د ترکیا وغیره مرتدینو سره د دوستۍ جواز ورکړی، په دوه ګوتو یې د روښانه لمر پټولو ناکام کوشش وکړ، خو له دې هم شرمونکې مرحله هغه وه چې کله طالب مشرانو د لونګیو، اوږدو کالیو، ګڼو ږیرو او تسبیحو سره د ترکیې د جمهوریت د شهیدانو (!) ورځ په کابل او مزار کې لمانځله، د ډیموکراسۍ په پار مردار شویو سیکولرستانو انځورونو ته یې د ګلونو ګیډۍ کیښودلې، او هغوی ته یې دعاګانې کولې!!

د ترکیا مرتد ولسمشر طیب اردګان پر ضد په 2016 کې کودتا وشوه، خو بریا یې ترلاسه نه کړه، نو په دغه کودتا کې د اردګان ډیری پلویان هم ووژل شول، چې ترکیا دولت یې هر کال مراسم لمانځي، نو دې ځل هم کابل کې د ترکیا سفارت او مزار کې د ترکیا قونسلګرۍ کې دا مراسم ولمانځل شول او د طالبانو لوړ پوړو چارواکو پکې هم ګډون درلود.

طالبان چې اوس خپله د ديموکراټيک نظام تطبيقونکي او د نړۍ د ټولو کفري ، طاغوتي او شرکي نظامونو حمايه کونکي او دوستان دي په ډېره سپين سترګۍ يې نه يوازې د ديموکراسۍ په نوم د قرباني شويو ترکي طاغوتي مردارانو د لمانځنې په مراسمو کې يې ګډون وکړ بلکې د همدوی په اصطلاح دغه شهيدانو(د ديموکراسۍ) په دفاع کې وژل شويو مردارانو ته يې د دعا لپاره لاسونه هم پورته کړل .

داسې ډېر پټ مراسم نور پټ ټرونونه کفارو سره شريک خوراکونه د عياشۍ او مشروبات نوشۍ بنډارونه خو دوی هغه وي چې پټ پاتې شي خو کوم يې چې رسنيز شي نو په هغې هم کومه خوا نه بدوي او نه پرې هم د پخوا په څېر وارخطايي کوي ځکه اوس دوی پوهه شوي چې دوی کشران هم اوس دوی په څېر د ښار د عياشيو په رنګونو کې ورک شول اوس نو دوی په صف کې هيچا سره هغه تش په نوم په ژبه هم د اسلام د دعوې کېسې پاتې نه شوې ، ځکه نو په ډېره سپين سترګۍ داسې اسلام ماتونکي کړنې ترسره کوي چې علني کفر وي خو بيا يې هم کوم چرت نه خرابيږي ،د نورو اسلام ماتونکو نواقضو ترڅنګ د ترکيه د ديموکراسۍ په دفاع کې د وژل شويو کسانو په مراسمو کې د ګډون لپاره دوی هيڅ کوم جواز نه لري او په دې سره يې دا کفري کړنې ترسره کړې:

۱. د ترکيې ډيموکراټيک نظام او وضعي قوانينو ته مشروعيت ورکړ.

سره ددې چې ډيموکراټيک نظام د اسلام خلاف نظام دی، الف نه تر یاء پورې ټول عقائد او احکام یې کاملاً الهي شريعت سره په ټکر کې دي، ځکه پدې کې د قانون جوړولو واک د عوامو يا د هغوی نائبانو د (پارليمان غړو) سره وي.

د پريکړې واک د غير الله لپاره وي يعنې کمزورو بندګانو ته يې د الله عزوجل دغه حق ورکړی دی، ديموکراسۍ کې اجماع ته اعتبار نه ورکول کيږي ، بلکې اکثريت ته کتل کيږي، او د اکثره خلکو اتفاق په اسلامي امت لازم قوانين ګرځي، اګر که دا د فطرت، دين او د عقل خلاف وي، په دې نظام کې د حمل غورځول، همجنس بازي، د سود ګټه، شرعي احکامو لغوه کول، زنا، شراب، د کفر غلامي او دوستي، د مسلمانانو پر خلاف د کفارو مرسته، د هغوی لپاره تجسس، د هغوی د پروژو تکميل او داسې نور اسلام ماتونکي شيان مشروع او روا ګڼل کيږي، چې دا ټول ترکيه عملي کوي او طالبان يې په داسې کړنو تايد کوي ، او لګيا دي ميده ، ميده دوی هم لکه کوچنې ماشوم چې تازه په پل اخستو راشي تازه د ديموکراسۍ په انګر کې پاپلې پيل کړې .

اوس دلته پوښتنه دا ده چې آيا طالبان هم دې کارونو ته جايز او حلال وايي ؟ له دې کړنو يې څرګنده معلومه ده چې ځواب مثبت دي خو اوس هم ځينې ملحوظات شته چې اعتراف پرې نه کوي او لکه د ډېران د چرګانو مرداري خوري او مخوکې څنډي او که په دې برخه کې خاموشي کوي او يا هم نور توجيهات لټوي نو ولې د ترکيا ډيموکراټيک نظام سره داسې پخه دوستانه شروع کړې او په داسې کړنو يې د ترکي ډيموکراټيک نظام ته مشروعيت ورکړی ؟

بله پوښتنه دا ده چې آيا ډيموکراسي يوازې په افغانستان کې تش په خوله حرام او ناروا ده، فقط د خلکو د غولونې لپاره په ديوالونو د ديموکراسۍ په خلاف شعارونه ليکل او په مجلسونو کې د اسلامي شريعت باټې وهل او ديموکراسي کفر ګڼل روا دي او نور په عمل کې ټوله زره ديموکراسي او همغه زاړه د جمهوريت قوانين تطبيقول روا دي فقط په خوله د ناروا چغې او ناري دي، په ترکيا، پاکستان، ايران او ټوله نړۍ کې هم روا ده که ناروا وي نو تاسې ورته د مشروع نظام په حيث ولې قايل ياست ؟ که وايې چې ديموکراسي يو اسلامي نظام دي نو بيا مو ولې افغانستان کې ددغه ډيموکراسۍ په نوم ستاسې د قول مطابق يو مليون کسان ووژل. خو دغسې امريکايان به وتلي واى او تاسې لکه څنګه مو چې ومنله ممدغسې به له لومړي سره ډيموکراسي نظام کې ننوته اخيستې وې او که ډيموکراټيک نظام کفري نظام وي نو د ترکيا ډيموکراسۍ څخه ولې خپل ملاتړ اعلانوئ ؟ ولې د ډيموکراټيک نظام په پار هلاکيدونکو خلکو انځورونو ته د ګلونو ګېډۍ ږدئ ؟ يو بام او دوه هوا !!

۲.تاسې د ډيموکراسۍ په پار د وژل شويو جنګياليو مراسمو کې ګډون وکړ، د هغوی په کفر رضا شوئ، په دغه مجلس کې مو په ډيموکراسۍ رد ونه کړ، نه مو هم دغه د ترکې جمهوريت مدافعين مرتدين وبلل، نو ستاسې دا عمل هم اسلام ماتونکی دی.

د الله عزوجل په کتاب کې ستاسې حکم واضحه دی:

﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا﴾ [سورة النساء:140]

ژباړه: او يقيناً نازل کړي دي الله تعالی په تاسو باندې دی کتاب کې چې کله تاسو واورئ د الله په آيتونو باندې کفر کيږي او يا هم ورپورې ټوقې کيږي، نو تاسو ورسره مه کينئ تر دی چې هغوی په بله خبره کې مشغول شي، يقيناً تاسې په دغه وخت کې د هغوی په څېر ياست، يقيناً الله جل جلاله کافران او منافقان په جهنم کې يوځای راټولوي.

امام بغوي وايي :

"{إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ} أَيْ: إِنْ قَعَدْتُمْ عِنْدَهُمْ وَهُمْ يَخُوضُونَ وَيَسْتَهْزِئُونَ وَرَضِيتُمْ بِهِ فَأَنْتُمْ كُفَّارٌ مِثْلُهُمْ. "
[تفسير البغوي]

ژباړه: د دې معنا دا ده که تاسو هم د دوی په خوا کې کيناستئ او هغو لګيا و خبرې يې کولې او ټوقې يې کولې، او تاسو پرې راضي شوئ نو تاسې هم د هغو پشان کفار ياست. وګورئ، مجلس کې بغير د رد نه کيناستل د رضا علامت ګرځيدلای.

شيخ سليمان بن عبد الله آل الشيخ وايي :

"وقوله انكم إذاً مثلهم ان قعدتم عندهم وهم يخوضون ويستهزؤن بآيات الله وبدينه راضين باستهزائهم فأنتم كفار مثلهم، قال أهل العلم: هذا يدل على أن من رضي بالكفر فهو كافر."
[التوضيح عن توحيد الخلاق في جواب أهل العراق وتذكرة أولي الألباب]

ژباړه: د دې معنا دا ده که تاسې هم د دوی په خوا کې کيناستئ او هغو لګيا و خبرې يې کولې او هغو د الله په آيتونو او دين پورې ټوقې کولې، او تاسې پرې راضي شوئ نو تاسې هم د هغو پشان کفار ياست. دا پدې خبره دليل دی چې څوک په کفر راضي شو دا کافر دی.

ډېره عجيبه خبره ده چې طالبان دوستم ته پدې پيغور ورکوي چې هغه امريکايانو ته شهيدان ويلي و، نو آيا نن خپله طالبان ددغه پيغور لايق نه دي چې د ترکې د ديموکراټيک نظام ساتونکي وژل شوي شهيدان بولي !!

دريم: د طالبانو په ملاتړ ترکيا کې د اتحاد علماء اسلام کانفرنس انعقاد:

لکه مخکې مو چې يادونه وکړه ، امريکا ترکيه ته دا ماموريت سپارلی چې طالب مليشو ته يې په نړيواله کچه د مطرح کيدو ، ځليدو ، د رسميت پيژندو .. په برخه کې ورته ذهنيت سازي او زمينه سازي وکړي، لکه څنګه چې طالب مليشو د خپلې باداري امريکا په ورکول شوي پلان د عملاؤ يوه غونډه چې روزي يې نه شوه او د اسلامي دولت سربشندويانو يې هر څه تس نس کړل رابللي وه ، دغه راز د طالبانو په ملاتړ په ترکيه کې غونډه جوړه

شوې وه چې د طالبانو وياند پکې د فلسطين، ليبيا، لبنان، اريتيريا، ترکيې او سوريې طاغوتي ملايانو سره کتل وکړل، دا ټولې هغه سيمې دي چې شيعه د روافضو لاسپوڅي حکومتونه په کې حاکم دي او يا هم سيکولر حکومتونه دي، دا د امريکا لخوا خپلو نويو مليشو طالبانو لپاره د شرکي رسميت زمينه سازي وه، د طالبانو وياند پکې د امريکا لخوا ورزده کړې مشهور گردان ولوست، هغه گردان چې ملا متقي، ستانکزی، سراج الدين، برادر او ټول طالب چارواکي يې په کور دننه او له کوره په بهر ستېجونو او غونډو کې زمزمه کوي، چې هغه ټولو کفري ملتونو ته ډاډ ورکول او د سيکولريزم د بنيادي عناصرو منل دي ، د ترکې په غونډه کې هم همدا گردان تکرار شو او په اخر کې ددې غونډې پريکړه ليک نشر شو.

راځئ ! چې د افغانستان مربوط دوه مادې د طالبانو وياند څخه ملاحظه کړو، هغه ليکي:

[په ترکيه کې د اتحاد العلماء د دوه ورځني کنفرانس د پريکړه ليک ۱۲ مه او ۱۳ ماده چې د افغانستان په اړه وې:

۱۲ - څرنگه چې د طالبانو په مشرۍ د افغانستان د خلکو د ازادۍ غوښتنې ځوکلنې مبارزې په پايله کې په افغانستان کې د امريکا اشغال پای ته ورسېد او د افغانستان اسلامي امارت رامنځته شو.

علماء بايد د اسلامي هېوادونو او د افغانستان اسلامي امارت تر منځ د سياسي، اقتصادي او فرهنگي اړيکو په پراختيا او د اسلامي هېوادونو لخوا د افغانستان اسلامي امارت په رسميت پيژندلو کې مثبت رول ولوبوي.

۱۳ - د افغانستان له فتحې وروسته چې د اشغالگرو کفارو د تجاوز له امله په افغانستان کې کوم اقتصادي شرائط راغلي دا حالت لا هم دعلماؤ مسئوليت ډيروي.

له يوې خوا زموږ ورونه بايد دگټور او حلال اقتصاد لپاره لاره هواره کړي، له بلې خوا د علماوو دنده ده چې د خپلو هيوادونو حکومتونه او تجاران په افغانستان کې له مسلمانانو سره مرستې ته تشويق کړي چې اقتصادي پياوړتيا ته ورسيږي.]

که د دغه پريکړه ليک ټولو مادو باندې غږيږو نو خپله موضوع به رانه پاتې شي، خو سر تر پايه پکې د بشريت د آزادۍ، د بشريت د حقوقو درناوي او د بشريت د سعادت تذکره ده، چې همدا د ملگرو ملتونو کفري شعار دی، نړۍ کې د انسانانو سره تعامل لپاره د اسلاميت پر ځای بشريت معيار گڼي. خو ددې دوه مادو څخه دا په ډاگه کيږي چې د دې کنفرانس دوه بنيادي مقاصد و:

۱.د طالبانو شرکي رسميت لپاره زمينه سازي.

۲.د طالبانو د نظم لپاره اقتصادي همکاري جلبول.

چې دا دوه اهداف هم امريکا په ترکيه هيواد باندې ترلاسه کړل او ددې نه وروسته يې طالب وياند مختلفو تجارانو او سرمايه گزارانو سره مخ کړ، ترڅو هغوی څخه د خپل وطن د اقتصاد په پار سوالونه وکړي.

او دغه بلاعمه په کومه خوله دا اقرار کوي چې طالبانو د آزادۍ جنگ وکړ، سره ددې چې ددوی پوځونه شل کاله دلته پراته و، نو يعني په دې مو اقرار وکړ چې تاسې هم د اشغالگرو ملگري وئ، نو نن څنگه بدل شوئ ؟ خپلې خولې پورې خندا خو مه کوئ، پرون مو همدا طالبان خوارج بلل او نن ورته ورونه واياست!!

پرون مو د همدې امريکا په خوله د ناټو دايتلاف د غړو هيوادونو په توگه د امريکايي اشغال ننگه کوله د امريکا له لورې تحميل شوې جمهوريت ته مو مشورعيت ورکاوه ، نن مو نوي درجې تغير وکړ او همغه سندرې زمزمه کوئ کومې چې امريکا دربشودلي ، اوس نو د پرون تروريستان طالبان د ازادۍ اتلان (!)گڼئ .

او ډيره عجيبه لا داده چې د امريکا د اشغال څخه طالبانو ته د ازادۍ يو ډول کاذب افتخار ورکوئ او بيرته ورته بيا همغې امريکا سره د رسميت غوښتونکي ياست ، همغه د کفر په ملت (بين الملل) کې ددوی د شامليدو لپاره لابي او کمپاين کوئ.

څلورم: د طالبانو د سفارت سرپرست ډاکټر نعيم د ترکيې هيواد د خپلواکي لمانځ غونډه کې گډون:

عزتمندو مسلمانانو ورونو!

په دې اړه مو په پيل کې د مقدمې په شکل يادونه کړې وه راځئ چې په همدې تړاو لږ تفصلي بحث ته ننوځو ،په دوحه کې د طالبانو د سفارت سرپرست ډاکټر نعيم د ترکيې هيواد د خپلواکۍ نهه نوييمې کليزې د لمانځغونډې په مراسمو کې گډون وکړ، چې دا غونډه قطر کې د ترکيې په سفارت کې جوړه شوې وه. يعنې معنا دا چې د طالبانو سفارت سرپرست د دولت عثماني خائن، د وخت غدار، ستر طاغوت کمال اتاترک لخوا د دولت عثماني خاتمې او سيکولرنظام رامنځته کولو په تاييد دغه غونډه کې گډون وکړ. انا لله وانا اليه راجعون.

آيا نن طالبان د کمال اتاترک کړنې او د هغه سيکولري نظام هم ستايي، آيا همدا اسلامي نظام دی چې نن د اتاترک کليزې لمانځغونډې ته ستاسې سفارت سرپرست په فخر سره ورځي ؟ آيا اوس هم د طالب کشرخيل پدې پوهه نه شول چې دوی د سيکولريزم لپاره قرباني کيږي ؟ نو بيا به کله پوهيږي ؟ د دليل بيان خو هم دومره وي ، ددې نه نور وضاحت خو نه شي کيدای چې هغه اتاترک چې تاسې هم ورته تر پرونه سيکولر، بې دينه، ملحد او خائن ويلې نو نن تاسې خپله د هغه پلويان شوئ ؟

مسلمانانو ورونو! اتاترک خو د افغانستان د شاه شجاع څخه هم بدترينه ځيره ده، دا هغه جاسوس دی چې عثماني دولت يې ړنگ کړ، لازمه ده چې دلته د عثماني امپراطورۍ په اړه لنډه رڼا واچوو:

دعثماني امپراطورۍ لنډه پيژندنه:

د نبي عليه السلام وفات څخه وروسته د اسلامي خلافت سلسله شروع وه، بيا د امويانو او عباسيانو پاچاهي وه، چې د خلافت په نوم ياديده، تر دې چې عثماني دولت ته خبره راورسيده او دا دوره هم د امويانو او عباسيانو دورې په څير په خلافت باندې مشهوره شوه.

عثماني دولت چې شاوخوا شپږ پيړۍ يې د آسيا، اورپا او افريقا په لويه جغرافيه باندې واکمني کړې ده، د خپل دور د پياوړو دولتونو څخه و، په مختصر ډول يې داسې تعريف کولای شو چې يو صوفي نظام و، کتاب او سنت پکې کم او د صوفيت شرکيات، خرافات او بدعات په کې په عروج وو. ځکه په بعضې ادوارو او وختونو کې پرې د نجد علماء کرامو د شرکي دولت فتوه هم ورکړې ده، او دا يې هم ويلي و چې څوک د ترکي د دولت تکفير نه کوي نو دا کس هم کافر کيږي، ځکه پدغه وختونو کې ترکي دولت ډيری ناوړه عقائد رسماً رائج کړي وو، لکه د مړو څخه کومکونه غوښتل، د قبرونو بندگي کول، د خانقاگانو او مزارونو جوړول، د صوفيت مذهب عام کول، صوفيه ملايانو ته په نورو ترجيح ورکول، د قرآن او حديث د دعوت کلک مخنيوی کول، د بعضې موحدو علماؤ وژل او داسې نور ناوړه عقائد او اعمال پکې شروع شوي وو.

خو مورخينو يې ځينې خه کارونه هم ياد کړي دي، لکه په دغه دور کې د اسلامي خاورې جغرافيا آسيا، اورپا او افريقا پورې وغځيده، اروپا ته اسلام ورننوت، مليونونه اروپايي کفارو اسلام قبول کړ، د سلطان محمد فاتح لخوا د قسطنطينيه فتح کيدل، او د قسطنطنيه فاتح لښکر او امير په اړه نبوي زيری هم شته، [دغه سند کې اختلاف شته، محققينو علماؤ ورته ضعيف ويلي دي]، د فلسطين ساتنه، په بعضو وختونو کې د ايران صفوي روافضو څخه عراق، شام او جزيرة العرب ساتل، د غربي کفارو څخه د مشرقي

اسلامي ملکونو ساتل او داسې نور يادولای شو، نو په مجموعي ډول دا دولت په شرکياتو او خرافاتو ککړ و، خو د اسلام په نوم جنګونه يې هم کړي دي او سيمې يې هم نيولي دي، چې نن سباني تقريباً د ۴۲ ملکونو مجموعه وه.

د لومړي نړيوال جنګ پرمهال د عثماني دولت ټول واک د پرمختګ او اتحاد په نوم د سياسي ګوند په لاس کې و، چې مشرانو يې ستره اشتباه وکړه، او خپل پوځي ځواک او اقتصادي قوت سره يې د المان ملاتړ اعلان کړ، او د فرانسې او برتانې په خلاف وجنګېدل، دا داسې جنګ و چې ترکي دولت پکې ناحقه برخه واخيسته، چې نتيجه کې شکست د المان او ترکي دولت په برخه شو، او استانبول د انګريزانو او فرانسويانو لخوا اشغال شو. پکار دا وه چې عثماني امپراطورۍ ددې جنګ څخه ډډه کړې وی ترڅو دې کفارو يو بل ځپلي وای، خو دوی صبر ونه کړ او د المان د کفارو ملاتړ يې وکړ. خو د رب شان و چې په مسلسله توګه يې شکستونه وخوړل. ترکي دولت ققفاز ته د جنرال انور پاشا په مشرۍ سلګونه زره پوځيان وليږل، ترڅو روسان چې په ختيځه اروپا کې له المان سره په جګړه بوخت و، په دام کې ښکيل کړي، خو دې لښکر په ققفاز کې له درنو جګړو وروسته سخت شکست وخوړ، چې د ققفاز په جګړه کې تر ۹۰ زره ډېر ترکي پوځيان ووژل شول چې ډېری يې دسړې هوا او يخ وهلو له امله مړه شول، ترکانو بل لښکر د سوريې دحاکم جمال پاشا په مشرۍ د سينا دښتې له لارې د مصر په خوا سوق کړ، دې لښکر د المانيانو په ملاتړ کوښښ کاوه چې د سويز کانال په نيولو سره له ختيځو مستعمرو سره د انګليسانو رابطه قطعه کړي، ځکه انګليسانو په پرلپسې توګه له خپلو مستعمراتو څخه په جګړو کې دانساني او مالي منابعو په حيث استفاده کوله.

د سويز کانال په جګړه کې هم ترکي لښکرو شکست وخوړ او تر غزې پورې يې شاتګ وکړ، ترکانو دققفاز د جبهې غوندې په جزيرة العرب کې پرلپسې بدې ماتې وخوړې، بغداد ، کويټ او بيت المقدس دانګليسي لښکرو لخوا ونيول شول، انګليسي لښکرو حتی د سوريې تر حلب پورې پرمختګ وکړ.

پدغه ډول د ناکامې شرعي او سياسي پاليسۍ له امله ترکي دولت په لوی لاس ځان د شکست او سقوط خولې ته ورکړ، او خپل ملحقات يې د لاسه ورکړل، ترکي دولت د انګليس سره غير شرعي تړونونه شروع کړل، هغوی پرې کلک شرايط وضع کړل، او د سقوط بل عمده علت دا و چې د صفونو د تصفيې د نشتوالي او د پاچاهانو غفلت او ناسالمې رهبرۍ له امله د انګريزانو جواسيس لوی مناصبو ته ورسېدل، لکه کمال مصطفی اتاترک وغيره. د عثماني امپراطورۍ يا ترکي دولت ړنګونکی جاسوس او د انګريزانو د نفوذي غړي اتاترک لنډه پېژندنه وکړو.

د مصطفی کمال اتاترک پېژندنه:

راځئ چې لږ اتاترک وپېژنو او د تاريخ له پاڼو څخه دده په هکله يو څه ولولو:

د صهيونيزم جاسوسي شبکې ته منسوب مصطفی کمال اتاترک د وخت ستر طاغوت، د سيکولرانو پيشوا، د مزدورانو او خاينانو ايډيال، هغه چې د هر دين دښمنه شخص لپاره يو مثال ګرځېدلی، د اسلامي صف د ځيرلو او په کې د تفريق او زېښلو لپاره د ننوتلو د اقتدا وړ نمونه او په مجموع کې د خپل عصر تر ټولو پټ او مرموز مخلوق، چې هيڅوک به ددې لعين مجرم په کچه اسلام ته خطرناک او ځپونکی نوی ثابت شوی.

البته دا نشو ردولی، چې هغه وخت مسلمانان په کومو حالاتو کې ګير وو، هغو حالاتو د داسې رټل شوي شيطان په ظهور کې ډېر قوي رول لوبولی. هغه عثماني امپراطوري ړنګه کړه، د اسلام دښمنه عناصرو لپاره يو بُت وګرځېد او طوافونه يې تري کول دا هماغه مصطفی کمال دی، چې په اتاترک (د ترکانو پلار) ملقب دی.

اتاترک ۱۸۸۱م کال په سالونيک نومي ښار کې زېږېدلی. مور يې زبيده نومېږي؛ او د پلار په اړه يې د مورخينو اختلاف دی، بعضې وايي چې مور يې اتاترک د سالونيک يو دولتي کارمند ته منسوب کړی و، چې علي رضا نومېد او دا د اتاترک شرعي پلار نه و، نو دغه قول مطابق اتاترک ولد الزنا و. [والله أعلم] خپله اتاترک به ځان په سربي نسلونو پورې تاړه. نيکونه يې د دونما له يهوديانو دي، چې په باطن کې يهوديان وو، خو د اسلام څرګندونه يې د عثماني دولت د ړنګولو او د مسلمانانو د عقايدو د فاسدولو لپاره کوله.

په ۱۹۰۰م کال کې اتاترک له سالونيک څخه استانبول ته ولاړ؛ ترڅو هلته په حربي پوهنځي کې داخله واخلي. په ۱۹۰۴م کې د جګړنی په رتبه فارغ شو. د عثماني امپراطورۍ لخوا په شام کې د پينځمې قول اردو په دېرشمه لوا کې د جګړن په توګه وګومارل شو؛ هلته يې هڅه وکړه، چې شام ته له راتبعيد شويو ترکانو يوه سري ټولنه جوړه کړي، ترڅو د پرمختګ او اتحاد له ګوند سره سيالي وکړي، خو ډېر سخت ناکام شو. د پرمختګ او اتحاد ټولو فعالينو په تېره انور پاشا دده د لوچکۍ او فحاشۍ له کبله سخته کرکه تري کوله، اتاتورک نهايي هڅې پيل کړې ترڅو په يوه وسيله ځان مشهور کړي، چې بالاخره يې د پرمختګ او اتحاد په فعالينو کې وشميرل شو، نو په کال ۱۹۰۹م کې د شوکت پاشا له هغه پوځ سره يوځای شو، چې له سالونيک څخه د استانبول په لور د سلطان عبدالحميد ثاني د بې واکه کولو په موخه روان شوی و او ليبيا ته له ايټالويانو سره د جنګ لپاره ولاړ دا هر څه د يو راز تبليغي فعاليت لپاره؛ ليکن په ليبيا کې چې د واقعي جنګ په لومړي درَز کې څنګه له دښمن سره مخ شو، د وارخطا موږک په څېر يې تېښته وکړه.

د اتاترک ستر شهرت له لومړي نړيوال جنګ وروسته پيل شو؛ کله چې د پرمختګ او اتحاد ګوند اکثره فعالين د عثماني دولت د سقوط او جنګ کې د شتمنيو د ضايع کېدلو له کبله وتښتېدل، نو اتاترک ته لاره خالي شوه، لکه طالبانو ته هم افغانستان کې همداسې زمينه سازي وشوه، د کابل تيره اداره وتښتيدله نو ټول واک ورته د امريکا باداري لخوا وروسپارل شو. او د اتاترک ظاهري نېکبختي دا وه، چې له نوي خليفه وحيدالدين سره يې د هغه له پاچاهۍ څخه مخکې پخه انډيوالي لرله، نو د لښکرو د عمومي مفتش رتبې ته يې اتاترک پورته کړ او پراخ صلاحيتونه يې ورکړل. همدا وخت و، چې انګرېزانو ورسره اړيکې ټينګې کړې او د عثماني امپراطورۍ په ړنګولو يې ګډ کار پيل کړ.

د انګرېزانو له مشهورې پاليسۍ سره سم د اتاترک د ځلولو کار شروع شو. (قومي اتل، اروپا او برتانيې ته ستر خطر او هغه چټک زمری چې ښکېلاک خوب او آرام ته نه پرېږدي؛) پدې صفاتو يې خلکو ته مطرح کړ. لکه طالبانو ته چې امريکا دغه تبليغات وکړل او دوی يې د شل کلنې جګړې ګټونکې وبلل،ملا برادر يې د سلو سياسي څېرو له منځه غوره څېره وبلله ، هغه د کلا مينه چې کوچ يې ټول وخوړل خو په خبرو رانغله ، خو امريکا ورته د غوره سياستوال لقب ورکړ، له يوې خوا يې پرې درواغجن بنديزونه لګولي دي او له بلې خوا ورته هره اونۍ ۴۰ مليون ډالر راروان دي !!

اتاترک هم د خلکو د لا خطا ويستلو په موخه د طالبانو په څېر اسلامي بڼو کې راښکاره کېده، په ديني غونډو کې ويناوې او هر چېرته د عثماني دولت په ملاتړ خبرې شروع کړې. سره لدې چې تر غوږونو پورې په زنا، فواحشو او تجسس کې غرق و.

پس له دې چې په ۱۹۲۳م کال ترکانو په سقاريه کې يونانيانو ته ماتې ورکړه؛ اتاترک د اُمت قومي اتل او د هېواد بر حال واکمن شو. ملاتړو يې په پارلمان او محلي شوراګانو ولکه وکړه او له يو سلسله نظامي اجراأتو وروسته د انګرېزانو په مټ وتوانېد، چې له خپلو ټولو مخالفينو ځان بېغمه کړي او سلطان وحيدالدين يې هغه وخت بدنام کړ، چې دده په لاس امضاء شوي د سيفر د معاهدې بندونه يې خلکو ته ښکاره کړل؛ کوم چې سلطان د انګرېزانو تر فشار لاندې امضاء کړي وو، په دې توګه سلطان وحيدالدين مجبوراً پاچاهي پرېښوده. په ځای يې عبدالحميد مجيدثاني راغی، چې صرف درې ورځې يې حکومت وکړ، چې بيا اتاترک په ۱۹۲۴م کال کې د عثماني دولت لغوه او د ترکي جمهوريت قيام اعلان کړ. خپله ولسمشر شو، د اتاترک لقب يې خپل کړ او له خپلو انګرېزي بادارانو، په تېره هغه پټ استاد سره چې اکثره خلک يې نه پېژني «هخامه نعوم کبير مخاني» هغه شخص چې د عثماني دولت د ړنګولو په موخه يې د يهودي نقشې د عملي کولو دنده

لرله؛ وفاداري شروع کړه، همدارنګه يې ترکيه کې په ټول زور د اسلام د ړنګولو کار شروع کړ. ترکيه کې د انګرېزانو تر بشپړ نظارت لاندې د ترکانو له اسلامي هويت څخه د بېلولو خطرناکې چارې پيل کړې،. ديني مدارسو وزارت يې لغوه کړ لکه طالبانو چې د موحدينو مدارس بند کړل، له جامعاتو څخه يې موزيمونه جوړ کړل، د حج او عمرې په سفرونو يې بنديز ولګاوه، حجاب او عربي حروف يې لغوه کړل، ترکان يې ترکي ژبپالنې ته اړ ويستل، د اونۍ رخصتي يې د نصاراوو په څېر د شنبې ورځې ته واړوله، خلک يې د غربي خوليو په پر سر کولو مکلف کړل، اخترونه او ديني مناسبات يې لغوه کړل او آذربايجان يې پر روسيې خرڅ کړ. د خلکو پر آزاديو او سياسي مخالفتونو يې بنديز ولګاوه، نن طالبانو په شان رسنيو به صرف او صرف دده اتلولۍ، فتوحات او جعلي خبرونه خپرول، چې ټول به دروغ وو. په دې يې هم اکتفا ونکړه، بلکې عربي حروف يې لغوه او لاتيني حروف يې استعمال کړل او سکولرېزم يې د خپل هېواد لپاره يو نوی دين اعلان کړ. خلکو ته به يې په ويناو کې ويل:

”هغه دوران تېر شو، چې اولس به په ټيټو طبقو پورې په ځانګړيو کلمو غولول کېده؛ لکه کربلا، د نبي عليه الصلاة والسلام لمسی، ايمان او قدس.

د اتاترک د اخلاقي فساد باب هم ډير وسيع دی خو لنډه دا چې يو فاحش انسان تير شوی دی. د الله د محبوب نبي محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم سره او اسلام سره يې کلکه دښمني درلوده چې تر پرونه پرې طالبانو هم اقرار کاوه.

د اتاترک بده خاتمه:

اتاترک په خپل ځان ډېر وېرېده، ځکه خو يې ستر ستر طبيبان په ځان راټول کړي وو، خو بيا هم ترڅو چې يې د ينې (ځګر) رنځ د استسقاء حالت ته ونه رسېد؛ طبيبان نه وو پوه، چې دی د ينې تکليف لري. مجبور و، چې د نس له لارې په ستن اوبه کش کړي. وروسته الله تعالی د زهري(siphilis = د جنسي اړيکو له لارې پيدا کېږي) په مرض هم اخته کړ، ځکه ډېر عياش او فحاش و. د مرګ په رنځورۍ کې الله تعالی

په کوچنيو سرو حشرو اخته کړ، چې په سترګو به نه ليدل کېدل، خو دی به يې ګراوه او سکونډه، حتی د هغو سفيرانو او مشرانو په وړاندې، چې دده عيادت ته به راغلي وو. وروسته يې چې کله په مخ راښکاره شول، پته ولګېده چې دا هغه سره مېږتانه دي، چې صرف په چين کې پيدا کېږي، سبحان الله! له چين څخه تر ترکيې! الله عزوجل ددې هلاکېدونکي مجرم د رسوايۍ لپاره رالېږلي وو، کوم چې هلاکېږي او په ۱۳۵۸ قمري کال يې نيته پوره کيږي او دنيا يې له شره خلاصيږي.

هو! دا همغه اتاترک دی چې د طالبانو د سفارت سرپرست يې د کليزې لمانځ غونډې ته ورځي، نو تاسې اوس سوچ وکړئ چې آيا د طالبانو نظام اسلامي نظام دی، چې د داسې ملحدانو صفتونه او تاييدونه کوي، ددوی په کفرياتو رضايت خايي، ځکه په دغه مجالسو کې د رد پرته کيناستل د رضا په معنا دي، مخکې مونږ آيت کريمه ذکر کړ:

﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا﴾ [سورة النسآء:140]

ژباړه: او يقينا نازل کړي دي الله تعالی په تاسو باندې دی کتاب کې چې کله تاسو واورئ د الله په آيتونو باندې کفر کيږي او يا هم ورپورې ټوقې کيږي، نو تاسو ورسره مه کيني تر دی چې هغوی په بله خبره کې مشغول شي، يقيناً تاسې په دغه وخت کې د هغو په څير ياست، يقينا الله جل جلاله کافران او منافقان په جهنم کې يوځای راټولوي.

امام بغوي وايي :

”{إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ} أَيْ: إِنْ قَعَدْتُمْ عِنْدَهُمْ وَهُمْ يَخُوضُونَ وَيَسْتَهْزِئُونَ وَرَضِيتُمْ بِهِ فَأَنْتُمْ كُفَّارٌ مِثْلُهُمْ.“ [تفسير البغوي]

ژباړه: د دې معنا دا ده که تاسو هم د دوی په خوا کې کيناستئ او هغو لګيا و خبرې يې کولې او ټوقې يې کولې، او تاسو پرې راضي شوئ نو تاسې هم د هغو پشان کفار ياست. اوس به طالب ويندويان دې شرم ته کوم پرتوګ ګنډي ؟

د طالبانو او اتاترک مشترکات:

که تاريخ ته په انصاف سره زير شو نو دا به مونږ ته جوته شي چې طالبانو هم د شاه شجاع او د اتاترک په پل پل ايښی، د هغوی په نقش قدم باندې روان دي، لکه څنګه چې شاه شجاع د انګريزانو په مرسته افغانستان ونيوه، همدغه ډول طالبانو هم د امريکايانو په مرسته افغانستان ونيوه، د شاه شجاع په څير يې د اسلامي خلافت پرضد د انګريزانو څخه کومک واخست، راځئ چې لاندې کرښو کې د طالبانو او د انګريزانو غلام اتاترک ترمنځ مشترک عقائد، تګلارې او د سياسي پاليسيو مشابهتونه ذکر کړو:

اول: د ګاليپولي جنګ کې د اتاترک دروغجنه بريا:

د لومړي نړيوال جنګ په ترڅ کې د ګاليپولي په ټاپوزمه کې پيښه شوې جګړې مشري مصطفی کمال اتاترک کوله، بعضې تاريخونو کې دا جنګ د اتاترک په مشرۍ د عثماني ترکانو ستره بريا او د اروپايي متحدينو شکست بلل شوی، خو حقيقت داسې نه و بلکې دا د اتاترک ځلولو په پار د انګليس يو سياست و، ترڅو مسلمانانو کې اتاترک يو اتل معرفي کړي، لکه د افغانستان واک سپارلو پر مهال چې امريکا لومړی د افغانستان د ولايتونو ولسوالۍ يې طالبانو ته وسپارلی او بيا يې په ډير هنر سره ورته ولايتونه هم وسپارل، او په شنو او خړو ټانکونو باندې سپاره يې د کابل ارګ ته وردننه کړل، او طالبانو هم آسمان په ډزو ويشتلو چې مونږ خو کابل فتحه کړی دی، سره ددې چې يو ډز هم پکې ونشو ؟ عجيبه فتحه ده ؟ د طالبانو ليکوال قاري عبد الستار سعيد داسې ليکي: [عثماني ترکانو د جګړې له پيله د تورې بحيرې او مديترانې بحيرې ترمنځ د باسفور او دردنيل په تنګيو کنترول درلود، دې چارې د انګليس او فرانسې ستر متحد روسيه له دې منعه کړې وه چې خپل سمندري ځواکونه د جګړې جنوبي او لويديځو جبهاتو په خوا سوق کړي، دهمدې خنډ دلرې کولو لپاره ونستن چرچيل چې وروسته د بريتانيا نخبه سياستوال شو، دغه مهال د بريتانيا د سمندري قواو مشر و، نوموړي د دردنيل تنګي او ورپسې د استانبول د نيولو لپاره ددې جګړې نقشه جوړه کړه او په لکونو ځواکونه يې دې سيمې ته سوق کړل، جګړه د ۱۹۱۵ کال په فبرورۍ کې لومړی په سمندري کښتيو او سمندر غاړو کې پيل شوه او وروسته د ګاليپولي په ټاپوزمه کې راټوله شوه ، په دې جګړه کې ۴۹۰ زره برتانوي او ۷۹ زره فرانسوي ځواکونه ښکيل وو چې مشري يې د چرچيل په غاړه وه، د عثماني ترکانو لخوا د مصطفی کمال /اتاترک په مشرۍ ۳۱۵ زره پوځيان جنګيدل، جګړې په مياشتو مياشتو دوام وکړ او دواړو خواوو ته سخت تلفات ورسيدل، اروپايانو ټول وس وکړ چې په درد نيل تنګي سلطه

راولي خو ترکانو سخت مقاومت وکړ، تاريخ ليکي: په دې جگړه کې د ترکي لښکر د مشر شعار دا وو: زه تاسو ته دا نه وايم چې گاليپولي ته لاړ شئ او وجنگيږئ بلکې درته وايم هلته لاړ شئ او مړه شئ .

په دې جگړه کې چې د۱۹۱۵م کال په دسمبر کې د اروپايانو په شکست پای ته ورسيده څه کم دوه نيم لکه د متحدينو ځواکونه او تر يو نيم لک زيات د عثماني امپراتورۍ ځواکونه ووژل شول، دهمدې جگړې بريا ترکي سرلښکر مصطفی کمال ته غيرمعمولي شهرت ورکړ، او نوموړی د عثماني خلافت په وسلوالو ځواکونو کې د يو محبوب مشر په حيث مطرح شو، مصطفی کمال وروسته له همدې اعتبار او شهرت څخه په استفاده ترکي پوځيان د خلافت په خلاف بغاوت ته وهڅول، عثماني خلافت ته يې دپای ټکی کيښود او نوې په سيکولر نظام ولاړه ترکيه يې رامنځته کړه]

خو حقيقت ددې په خلاف و، برتانويانو دا کولای شو چې د اتاترک څخه د گاليپولي ټاپوزمه ونيسي، خو مستقبل کې دده حيثيت جوړولو په پار يې دا جگړه وغځوله او ظاهراً يې پکې خپل شکست اعلان کړ، ځکه وروسته دې اتاترک باندې يې داسې بنيادي اهداف تطبيق کړل، چې هغه په همغه وخت د جگړې له لارې ناممکن و ، چې دا دې سل کاله وروسته هم نن ترکيه هماغه د انگريزانو لخوا فکري او عقيدوي اشغال ده، نو نن امريکايان هم دا غواړي چې د ترکيه په څير افغانستان هم داسې اشغال کړي چې راتلونکي سلو کالو پورې دا هم د ترکيه، پاکستان او نورو مستعمره هيوادونو په څير يو مستعمر او غلام هيواد واوسي.

همدې اتاترک په (1337هـ = 1918) کال کې د فلسطين په محاذ باندې انگريزانو ته ساحې پريښودې تر دې چې هغوی د شام زياته سيمه لاندې کړه.

د ازمير ښار په سر د اتاترک او يونانيانو جگړه کې هم د اتاترک بادار انگليس په لارښودني يونان شاتگ وکړ، او په (1340هـ = 1921م) کې يې پرته له ډز او ډوزه ازمير ښار ورته پريښود او اتاترک په مشرۍ د عثماني ترکانو لښکرې ورننوتې او د غرب ميډيا دې موضوع ته هوا ورکړه او په نړيوالو ميډياي وسايلو يې د اتاترک په هکله پراخ تبليغات وکړل، او دا يې د هغه ستره بريا اعلان کړه. دا تاريخ چې مطالعه شي بعينه د طالبانو او امريکانو جوړجاړي، تړونونه او د واک سپارلو کيسه د انسان مخې ته ودريږي.

پدې کار سره کمال اتاترک سخت مشهور شو، د اسلامي لښکرو نامتو قومندان په حيث نړيوالو ته ورمعرفي شو، کله چې انقرې ته راغی نو د جرگې مشرانو لخوا ورته د (غازي) لقب ورکړل شو، او شاعرانو په نظمونو کې وستايه، لکه شاعر احمد شوقي ورته د ترکانو د خالد لقب ورکړ، خالد بن الوليد رضي الله عنه سره يې مشابه کړ.

نو دا ټوله هغه زمينه سازي وه چې انگليس د اتاترک لپاره کوله ترڅو راتلونکي کې واک په لاس کې واخلي او د هغوی گټې خوندي کړي. زمونږ عصر کې امريکايانو طالبانو لپاره هم همداسې زمينه سازي وکړه او آخر يې ورته ټول واک وسپاره، او د ۸۴ ميلیارده امريکايي ډالرو په ارزښت تجهيزات او وسايل يې ورته پريښودل او هره اونۍ ورته ۴۰ مليون ډالر هم راليږي ترڅو د هغوی لخوا ورکړل شوي نقشه په ښه توگه عملي کړي، او اوس خو لا بيا په دوحه کې د طالبانو او امريکايي استخباراتو پټې ناستې روانې دي، چې راتلونکی وخت به دا هر څه په ډاگه کړي. ان شاء الله.

دويم: د اتاترک او د طالبانو شرکي رسيمت غوښتني مشابهت:

کله چې مصطفی کمال خپل مرکچي پلاوی په (1340هـ = 1921م) کال د عصمت پاشا په مشرۍ برتانيه ته وليږه، چې هلته هغوی سره مذاکرات وکړي او ترکيه په مستقل رسمي دولت سره وپيژني، د دغه مذاکراتو په پايله کې د اتاترک پلاوي او د برتانيه خارجه وزير جورج کورزون ترمنځ يو تړون لاسليک شو، چې په يو څو مهمو مادو مشتمل و، لکه زمونږ په دور کې چې د طالبانو د مذاکراتو ټيم غړي د برادر، ستانکزي، عبد الحکيم حقاني وغيره په مشرۍ دوحې ته يوړل شول ، هلته ورته لا له وړاندې امريکا د سياسي دفتر په نوم د تسليمۍ لومه ايښې وه ، هلته يې د امريکايانو سره د مذاکراتو او د شرکي رسميت غوښتنې لپاره يو کال په اوږدو کې پټ مجالس، خفيه تړونونه، ژمنې او مذاکرات وکړل، او آخر کې ددوحې تړون د ملا برادر او د امريکا وزير خارجه مايک پمپيو او د وزارت خارجه ځانگړي استازي خليل زاد لخوا لاسليک شو. نو د طالبانو او د اتاترک توپير يوازې دا دی چې هغه وخت د برتانيه خارجه وزير ته يې عصمت پاشا ورولیږه او د تسليمۍ تړون يې لاسليک کړه، او نن طالبانو د امريکا وزير خارجه ته ملا برادر وروليږه او د تسليمۍ تړون يې ورسره امضاء کړ.

د اتاترک مذاکراتي ټيم او د برتانيه وزير خارجه جورج کورزون ترمنځ د رسيمت اخيستنې په پار لاسليک شوي تړون يو څو مهمې مادې دا وې:

۱.ترکيه به اسلامي نړۍ سره خپلې اړيکې پرې کوي.

۲.اسلامي خلافت نوم به لغوه کوي.

۳.د خلافت ملاتړ کونکو هر فعاليت به شنډوي.

۴.د ترکيې فعلي دستور پر ځای به نوي مدني او اساسي قانون رامنځ ته کوي.

دا هغه څلور مادې دي، چې هر وخت اشغالگرو کفارو خپل مستعمَره هيوادونو باندې منلي دي. تر ټولو ښه بيلگه يې طالبان دي، چې دوی هم دا مادې کاملاً منلي دي.

دا څلور شرايط ظاهره کې بعضې خلکو ته وړې خبرې ښکاري خو دا هغه خطرناکه مادې دي چې د سلو کالو څخه زياته موده وشوه خو ترکيه کې د اسلامي نظام څرک هم نه ښکاري.

لومړی شرط: لومړۍ ماده چې اسلامي نړۍ سره به خپلې اړيکې پرې کوي، دې سره يې د ترکيه خارجه پاليسي په لاس کې واخيسته، ورونو دا خارجه سياست دومره مهم رول لري چې مستعمِرين هميش له دې څخه شروع کوي. ځکه دا مستعمِرين د همدې خارجه پاليسي څخه ډاريږي، چې کله دا لاس ته کړي نو بيا مطمين شي.

او همدا خارجه پاليسي امريکايانو په طالبانو باندې منلې ده، د قطر په پلازمينه دوحه کې په ۵/ رجب/۱۴۴۱هـ ق – ۱۰/حوت/۱۳۹۸هـ ش – ۲۹/فبروري/۲۰۲۰م نيټه باندې د طالبانو او امريکايانو ترمنځ لاسليک شوي تړون کې وايي:

۱ – هغه تضمينونه او د تنفيذ ميکانيزمونه چې د هرې ډلې يا شخص لخوا د متحده ايالتونو او د هغوی د متحدينو د امنيت په خلاف د افغانستان د خاورې د کارولو څخه مخنيوی وکړي.

بيا مخکې وايي:

۳ – د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ايالتونه يې د دولت په توگه نه پيژني او د طالبانو په نوم يې پيژني، به په دغه توافقنامه کې د شويو ژمنو مطابق په افغانستان کې د متحده ايالتونو او د هغوی د متحدينو د امنيت له گواښلو څخه د هرې ډلې يا فرد مخنيوی کوي، او له جلب و جذب، روزنې او بسپنې ټولولو څخه به يې منعه کوي او کوربه توب به يې نه کوي.

ددغه تړون په اساس د امريکايانو برادر په قطر کې هر کفر ته امن ورکړ، وايي:

(او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنيت پر ضد نه استعماليږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمينه برابروي. موږ په افغانستان کې يو باثباته خپلواک اسلامي نظام غواړو چې هم خپله په آرامه فضاء کې ژوند وکړو او هم سيمه او نړۍ له افغانستان څخه ډاډه وي.

د ملا محمد عمر زوی ملا يعقوب څخه خبريال پوښتنه کوي چې ستاسې د اردو موخه د نورو اسلامي هيوادونو ساتنه هم ده او که يوازې د افغانستان ساتنه ده، هغه ورته په سپين سترگۍ وايي چې زمونږ د اردو موخه يوازې د افغانستان ساتنه ده، نورې موخې نه لري.

بلکې د افغانستان څخه بهر د اسلام په پار مبارزې ته طالبان تخريبي اعمال وايي، نعوذ بالله، راځئ چې د طالبانو وياند ذبيح الله يو ليک وگورو چې څو کاله وړاندې يې امريکايي اولس ته استولی دی، زارۍ يې پکې کړې دي او خپل منهج او عقيده يې پکې واضحه کړې ده:

(له خپلواکۍ وروسته موږ غواړو د گاونډيانو په گډون له هيوادونو سره مثبت او تعميري اړيکې ولرو او د هيواد په بيا رغونه او پرمختگ کې د هغوی مرستو ته هرکلی وايو او غواړو د سيمې او نړۍ په ثبات او سوله کې رغنده رول ولوبوو).

دغه ليک کې مخکې وايي:

[یادونې وړ ده چې موږ په نورو هیوادونو کې د تخریبي اعمالو اجنډا نه لرو او په تیرو اولسو کلونو کې مو دا عملاً ثابته کړې چې په نورو هیوادونو کې مو هیڅ ډول لاسوهنه نه ده کړې.]

مسلمانانو ورونو، جهاد ته یې تخریبي اعمال وویل او د خارجه پالیسۍ په اړه یې په واضحه ټکو دا وویل چې مونږ به د نورو مسلمان ملکونو سره روابط نه لرو، د مستضعفینو مرسته به نه کوو، د ایغور، قفقاز، چیچنیا، عراق، شام، فلسطین، افریقا او نورو سیمو کې میشتو مسلمانانو باندې ترسره کیدونکې وحشتونو او مظالمو پوښتنه به نه کوو:

اوس تاسې ووایئ آیا د طالبانو او اتاترک د رسمیت او معاهدې شرط یو شان نه دی ؟ نو څنګه اتاترک ته طالبانو تر پرونه غلام ویل او ځانونو ته فاتحان وایي ؟؟

دویم شرط: د انګلیسانو وزیر خارجه جورج کورزون د اتاترک تسلیمۍ او شرکې رسمیت لپاره دویم شرط دا ایښې و چې د اسلامي خلافت نوم به لغوه کوئ، نن طالبانو باندې هم امریکایانو دوحه تړون کې دا خبره ومنله: تاسې یې وګورئ چې تړون کې وایي د جوړجاړي وروسته به نوی اسلامي حکومت رامنځ ته کیږي، چې ددغه جوړجاړي په نتیجه کې رامنځ ته شوي نظام اقتصادي مرسته به امریکایان کوي، لکه نن سبا چې هره اونۍ ۴۰ ملیون امریکایي ډالر راروان دي دوحه تړون کې دریمه برخه کې لیکي:

۲ – متحده ایالتونه او د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، یو له بل سره مثبتې اړیکې غواړي او هیله لري چې د متحده ایالتونو او د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت تر منځ اړیکې مثبتې وي.

۳ – متحده ایالتونه به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت لپاره د بیارغولو اقتصادي مرستې وغواړي، او په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي.

دریم شرط: د بریتانیه وزیر خارجه د اتاترک مذاکراتي ټیم باندې هغه شرط کیښود چې نن امریکایي وزیر خارجه په طالب پلاوي باندې ایښې دې : د خلافت ملاتړ کونکو هر نوعه فعالیت به شنډوي.

دوحه تړون دوهمه برخه کې لیکي:

د دې توافقنامې له اعلان سره سم به، د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، لاندیني اقدامات ترسره کړي تر څو د القاعدې په شمول د هرې هغې ډلې یا شخص مخنیوی وکړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي:

۱ – د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به خپل هیڅ غړي او د القاعدې په شمول هیڅ ډلې او یا فرد ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پیښ کړي.

۲ – د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به یو څرګند پیغام ولیږي چې هر هغه څوک چې متحده ایالتونو او د هغوی متحدینو ته امنیتي ګواښ پیښوي په افغانستان کې ځای نلري، او د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به خپلو غړو ته لارښوونه وکړي چې له هغو ډلو او افرادو سره همکاري ونه کړي چې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي.

او دغه رنګ دا خبره یې ورسره ومنله چې اسلامي خلافت مخنیوی به کوي، د اسلامي خلافت پرضد به جنګیږي، د اسلامي خلافت د مجاهدینو تجسس به امریکایانو ته کوي، لکه څنګه چې ننګرهار او کنړ وغیره د اسلامي خلافت سیمو کې به طالبانو امریکایي طیارو ته کوردینات ورکول او

د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمیسیون
د ویاند دفتر
شمار: ۲۹۲
۱۴۴۲/۳/۶هـ ق

د واشنګټن پوسټ د راپور په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندوني

واشنګټن پوسټ امریکایي ورځپاڼې راپور ورکړی چې ګنې امریکایي عسکرو په افغانستان کې د داعش په ضد د اسلامي امارت د مجاهدینو په ملاتړ هوایي بریدونه کول او داسې نورې ادعاوې.

موږ دا ادعاوې په کلکه ردوو، داسې مغرضانه راپورونه د دې لپاره خپریږي چې د اسلامي امارت د مجاهدینو د اسلامي وجاهت او جهاد په اړه ذهنیتونه مغشوش کړي، په واقعیت کې له داعشي پدیدې سره د جګړې په مهال به امریکایي ځواکونو د اسلامي امارت د مجاهدینو په سنګرونو مکرر بمبارونه کول.

د اسلامي امارت مجاهدین لکه څرنګه چې د هیواد د استقلال او دلته د اسلامي نظام د قیام لپاره په مستقلانه ډول په جهاد لګیا دي، همداسې د فتنه ګرو او شریرو ډلو د خپلو او د دښمنانو د دسیسو د خنثی کولو لپاره یې د الله تعالی په نصرت، د خپل مجاهد ولس په مرسته او له خپلو امکاناتو څخه په استفادې سره په مستقله توګه مبارزه کړې او کوي به یې. ان شاءالله

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۲/۳/۶هـ ق
۱۳۹۹/۸/۲هـ ش. 23/10/2020م

هغوی به له فضا څخه دا ساحه بمبارولـه. بیا به طالب ملیشې په هغه منطقو ورختل او بریتونه به یې تاوول، ځانونه به یې اتلان معرفي کول. ډیری امریکایي رسنیو ددې حقایقو څخه پرده پورته کړه چې د طالبانو بګیل شوي ویاند به په خړو سترګو رد کړه:

خو حقیقت ټولو ننګرهاریانو، کنړیانو او د افغانستان اولس ته معلوم شو چې د اسلامي خلافت کنډواله کورونه، جماتونه او مدرسې هم ددې خبرې خه شاهدان دي.

څلورم شرط: او هر چې څلورم شرط و، چې اساسي قانون به جوړوي، نو طالبانو اوس هم وضعي قوانین نافذ کړي دي، غل ته مخ توروي او محصن زاني بندي کوي، او د نوي اساسي قانون په اړه د طالبانو زعیم هبت الله ډاډ ورکړی دی چې د اشرف غني د تیرې دورې قوانینو کې لږې ګوتې وهم او هغه بیا نافذوم!!

او تازه یې ویاند د نوې اساسي قانون د جوړیدو څخه هم خبر ورکړ

نو انصاف سره ووایاست، آیا د امریکا سره د طالبانو سولې تړون او د برتانیه سره د اتاترک د سولې تړون کوم توپیر لري ؟ خو هغه خائن، غدار او مرتد شو او طالب فاتح، اتل او سوچه مسلمان !!

اتاترک ، امان الله خان او طالبان:

کله چې د عبد الرحمن خان په دوره کې د انګریزانو په خلاف د اولس لخوا مبارزه پیل شوه نو انګریزانو د خپلو وتلو لپاره دا شرط کیښود چې مونږ به پدې شرط وځو چې خارجي سیاست به زمونږ لاس کې وي، چې امان الله خان ورسره دا تړون امضاء کړ، لکه نن چې برادر او هبت الله ورسره دا تړون امضاء کړ، د هدف پوره کیدو نه وروسته انګریزان ظاهرا ووتل، خو خارجي سیاست یې په لاس کې واخیست، او دوی سره معامله کونکی امان الله خان لپاره یې خه تبلیغات وکړل، هغه یې د ملت اتل وباله، تر دې چې د غازي لقب یې ورته ورکړ، لکه څنګه چې اتاترک ته یې د غازي لقب ورکړی و. نن هم هماغه لوبه تکرار شوه، طالبانو د امریکایانو سره تړون وکړ او امریکایان او متحدین یې ظاهرا ووتل خو خارجه پالیسي یې لاس کې واخیسته، او د امان الله خان په شان طالبان هم ځانونه فاتحین او اتلان ګڼي.

امان الله خان او کمال اتاترک دواړه د انګریزانو وفاداره غلامان و، ترکیه کې د انګلیس سیاست او پالیسي اتاترک پرمخ وړله او افغانستان کې یې د پروژو تطبیق کونکی امان الله خان و. د واکمنۍ څخه وروسته امان الله خان سیکولر قانون نافذ کړ، د اتاترک په څیر یې حجاب ختم کړ، سیکولر تعلیم یې رائج کړ، حقوق بشر، د زنانه وو حقوق، د مطبوعاتو آزادي، دیني تبعیض ختمول وغیره کفري عقائد او مادې چې نن سبا یې بین الملل په طالبانو هم مني، امان الله جبراً نافذې کړې، که څه هم کمال اتاترک ورته وویل چې دغه ټولې مادې یوځل په خپل اولس باندې مه تحمیلوه، بلکې مرحله په مرحله مخکې لاړ شه، خو امان الله د خپلې پاچاهي په نشه کې و او د لویې جرګې راغوښتلو سره یې دا قوانین نافذ کړل دغه رنګ کمال اتاترک په اړه مخکې ذکر شو چې هغه ته انګریزانو د ګالیپولي ټاپوزمه کې

دوه کرت میدان پریښود، دغه رنګ یونان ورته ازمیر ښار پرته له جنګ څخه پریښود نو په دې سره یې اتاترک ته لوی حیثیت جوړ کړی و، خصوصاً پوځ کې یې زیات نفوذ کړی و، د پوځ زړونه یې لاس ته راوړي وو، پوځ یې اکثره په فحاشیو روږدي کړی و، نو ځکه یې د امر سرچینه د سلطان پر ځای اتاترک ګڼلو، کله چې اتاترک په ځان باوري شو نو د هغې نه وروسته ښکاره میدان ته راغی او سیکولر نظام یې نافذ کړ، خو امان الله خان دا مراحل پوره نه کړل، نو هماغه وه چې دې غیرتي اولس ورپسې قیام وکړ، او امان الله خان هند ته په تیښته بریالی شو.

نن د طالبانو سره هم امریکایان همدا معامله کوي، د حجاب په اړه نرم دریځی، د بشر حقوق، د زنانه وو حقوق، د اقلیتونو حقوق، دیني تبعیض له منځه وړل، د رسنیو آزادي، د بیان آزادي، خارجي سیاست وغیره مادې پرې ومنلې، او شاید راتلونکي وختونو کې مونږ تاسې د لا زیاتو تحولاتو شاهدان واوسو.

لکه څرنګه چې د طالبانو د قطر سفارت سرپرست په رسمي توګه قطر کې د ترکیه سفارت کې د انګریزانو غلام اتاترک کلیزې لمانځغونډې ته حاضر شو، د هغه په کړنو یې رد ونه کړ، بلکې په عمل سره یې خلکو ته د هغه کړنې وستایلې، نو همدغه شان د طالبانو د دفاع وزیر ملا یعقوب هم امان الله خان وستایه، او څلي ته یې د ګلونو ګیډۍ کیښودې. انا لله وانا الیه راجعون. عجیب خلک دي، ددوی عقلونه چیرته تللي دي ؟ چې امان الله خان د شهنشاهۍ دیموکراسۍ موسس و، او طالبان خپل نظام ته اسلامي وایي نو څنګه تاسې دغه د امان الله خان مراسم لمانځئ، د هغه غلامي د استقلال په نوم یادوئ ؟ او هغه خپل ایډیال ګرځوئ ؟

په مسلمانانو باندې دا غږ کوو، چې اې ورونو! تاسې خو د هغه پلرونو بچیان یاست چې پرون یې سیکولر امان الله خان پسې توره راخیستې وه، د هغه عقائد درمعلوم دي، نو نن طالبان هم ددغه امان الله خان په لار روان دي، نو د دوی پر خلاف ولې چپ یاست ؟ ولې د حي علی الجهاد نعره نه پورته کوئ ؟ ولې خپل سنګرونه نه ګرموئ ؟

او اې طالبانو! تاسې په کومه خوله د اسلامي نظام دعوه کوئ، چې تاسې نن د اتاترک او امان الله خان کلیزې لمانځئ ؟

تاسې نن هغه اتاترک اتل بولئ چې پرون پورې مو ورته د انګریز جاسوس او غدار ویلې ؟ آیا هغه کس ستاسې اتل کیدایشي چې عثماني دولت یې د انګریزانو په اشارې ړنګ کړ ؟

فلسطین او عربي ملکونه یې په انګریزانو او اذربایجان یې په روسانو خرڅ کړ ؟ هغه کس چې د محمد رسول الله علیه السلام دښمن و، د اسلام دښمن و، د الحاد او زندیقیت عقیده یې درلوده، هغه کس چې د نسب درک یې هم نه وي معلوم، د قومیت او وطنیت په شرک اخته رنځور او د سیکولري خائنانو سردار وي، د هغه کلیزه لمانځل روا دي ؟

اې طالبانو! تاسې خو لږ سوچ وکړئ، دا هماغه ترکیه ده چې ستاسې سرسخته دښمن دوستم ته هم ځای ورکوي، پخواني افغان سیاسیون هم پالي، او تاسې لپآره هم غونډې جوړوي، نو دا اوس ستاسې دوست دی او که د هغوی ؟ او که نه د امریکا په اشارو نڅیدونکې نانځکه ده، چې تاسې هم خوشحاله ساتي، ترڅو خپل اهداف درڅخه لاس ته راوړي، او سابقه افغان حکومت مرتد مشران هم د یو بل هدف د تطبیق په موخه په خپل غیږ کې ساتي ؟ ستاسې او د ترکیه د دوستۍ او ورورولۍ علت څه دی ؟ خو واضحه ده چې هغه هم د امریکا او روسیه تالي څټې ده او تاسې هم د دغه دواړو کفري هیوادونو ونډه خواره یاست، د یو بادار غلامان یاست، ترمنځ مو همدا قوي نسبت دی!!

٨ ربيع الثاني ١۴۴۴ هـ ق



د خراسان له سرو د فارس ترکوڅو

الحمد لله القوي المتين والصلاة والسلام على من بعث بالسيف رحمة للعالمين أما بعد.

قال الله تعالى: يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا قَٰتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ [سُورَةُ التَّوبَة : 123]

د تاريخ په مسير کې روافض او شيعه ګان د اهل سنت والجماعة د وينو هغه جل وهلي تږي درندګان دي چې په هر فرصت کې يې د مسلمانانو پر وينو ځانونه سېراب او خړوب کړي، د صحابه کرامو له زماني څخه تر اوسه يې د مسلمانانو پر ورانديې په يوې بې رحمۍ هم دريغ ندی کړی، تاريخ د روافضو له خيانتونو، ظلمونو او د مسلمانانو د ځورولو او شکنجه کولو په بابونو ډک دی، بلکې د مسلمانانو وژل، ځورول او شکنجه کولو باندې دوی ته خپلو مشرانو کلک اوامر کړي دي او ترغيبات يې ورته ورکړي او کشران يې د مسلمانانو په وينه تويولو ځانونو ته د دوی په ګمان اجر حاصلوي په (وسائل الشيعة 18/463) او (بحار الأنوار 27/231) کې دوی له خپلو امامانو څخه نقل کوي چې له هغوی څخه پوښتنه وشوه چې: (ما تقول في قتل الناصبي؟

فقال: حلال الدم، ولكني أتقي عليك، فإن قدرت أن تقلب عليه حائطاً أو تغرقه في ماء لكيلا يشهد عليك فافعل)

ژباړه: ته د اهل سنتو په وژلو کې څه وايې؟ هغه وويل: وينه يې حلاله ده ليکن زه په تا ويره لرم، که دې وسه کېدله چې ديوال پرې راوغورځوې، يا يې په اوبو کې غرق کړې نو همداسې وکړه پدې خاطر چې څوک دربانديې خبر نه شي!

د روافضو سيد نعمة الله الجزائري بيا اهل سنت له يهودو او نصاراوو څخه هم بدتر بولي او وايي: إنهم كفار أنجاس بإجماع علماء الشيعة الإمامية، وإنهم شر من اليهود والنصارى، وإن من علامات الناصبي تقديم غير علي عليه في الإمامة) (الأنوار النعمانية (٢\٢٠٦ ـ ٢٠٧).

ژباړه: دوی (اهل سنت) کفار او نجس دي د شيعه اماميه علماوو په اجماع سره دوی له يهودو او نصاراوو څخه ډېر بدتر دي او د اهل سنتو له نښو څخه دا ده چې نورو خلکو ته به د علي ـ رضي الله عنه ـ په امامت غوره والی ورکوي.

په همدې اساس چې د دوی مشرانو او معتبرو کتابونو د مسلمانانو او اهل سنتو وينې مباح ګرځولې دي او په وينا يې اهل سنت له يهودو او نصاراوو څخه ډير بدتر دي نو په مرور د تاريخ کې دوی د اهل سنت مؤمنانو پر ورانديې داسې ظلمونه وکړل او کوي يې چې امت مسلمه به يې هيڅکله له ياده ونه باسي.

روافضو په تاريخ کې د النصير الطوسي او محمد بن العلقمي په مشرۍ يو ځل د دجلې نهر د هغه وينو په سبب په سور رنګ بدل کړ چې دوی اهل سنت وژل او د دجلې نهر ته به يې غورځول! او په بل ځل يې بيا په شين رنګ بدل کړ چې د اهل سنتو د امامانو او علماوو کتابونه يې د دجلې نهر ته وغورځول!

په 61 مه هجرۍ کې د حسين

ـ رضي الله عنه ـ په شمول ډير صحابه کرام د همدوی له کبله ووژل شول ځکه چې هغوی يې په ميدان پرېښودل او ورڅخه وتښتيدل! تردې چې له محمد ﷺ سره په دښمنۍ کې دومره ورننوتل چې په 408 مه هجری کې الحاکم العبيدي الزنديق څو ځله د محمد ﷺ د قبر د سپړلو هڅې وکړې.

د تاريخ په اوږدو کې همداسې ډير خباثتونه او خيانتونه روافضو کړي دي.

په دې وروستيو کې چې کله د ايران ځمکه د روافضو تر کنټرول لاندې راغله نو ايران د روافضو په هغه روزنيز مرکز بدل شو چې عراق، شام، خراسان او نورو سيمو ته د مسلمانانو او اهل سنتو د وژلو، شکنجه کولو او تعذيبولو لپاره يې خاص لښکرې تربيه کولې او بيا يې ورتشکيلولې، همدې روافضو د ايران په شمول په شام، عراق، خراسان او نورو سيمو کې داسې ظلمونه وکړل چې انسانيت يې له لوستو څخه عاجزه دی او اهل سنت يې په اورونو کباب کړل، په ژوندوني يې ترې د بدن اندامونه پرې کړل، په زندانونو کې د اهل سنتو چيغې او فريادونه يوازې رب العالمين اوري، خو د الله تعالی سنت دا دی چې هر جابر او ظالم ته تر يوه وخته مهلت ورکوي بيا يې رب داسې رانيسي چې د تيښتې لاره يې نه وي!

څنګه چې همدې روافضو د اهل سنتو مؤمنانو په باب ترحم نه دی کړی نن رب العالمين د خپلو اعمالو سزا ورکوي او پر سر يې رب العالمين داسې بندګان مسلط کړل چې د الله لپاره په دوی هيڅ رحم نکوي او د هر مؤمن انتقام ورڅخه اخلي، د هرې وينې حساب ورسره کوي، او څنګه يې چې په مسلمانانو ژوند نا ارامه کړی وو نن د خلافت اسلامي استشهادي او انغماسي زمريانو په همدوی ژوند را تريخ کړی او لله الحمد روافض هر لحظه په ډار کې تيروي، دا د هغه مؤمنانو د وينو انتقام او غچ دی چې روافضو يې پر وړاندې بې رحمي کړې وه او دا د دوی د هغه شرکياتو، کفرياتو، د محمد ﷺ او د هغه د ملګرو د تحقير او سپکاوي سزا ده چې دوی پرې خپل مجلسونه او اجتماعات اباد کړي دي.

فکر نکوم چې د شيعه روافضو د دې ظلمونو، وحشتونو، ارتداد او کفرياتو څخه دې څوک نا خبره پاتې وي، ځکه چې د دوی د ظلمونو، وحشتونو، شرکياتو او ارتداد اسباب د مسلمانانو له هر ممبر او محراب په شمول د سوشل ميډيا له طريقه د نړۍ د هر مسلمان تر غوږونو او سترګو رسيدلي دي.

شاه چراغ

تفصيل يې نکوم خو د يادونې او تذکير لپاره يې په مختصر شکل لوستونکو او اسلامي امت ته وريادوم چې شيعه روافض په يو او دوه نه بلکې د بې شميره اسلام ماتوونکو عقائدو او اعمالو مرتکبين ګرځيدلي دي او دې سره سره يې بيا هم ظلمونه او وحشتونه د ژوند يوه ځکه ګرځيدلې ده، د هغه اسلام ماتوونکو له جملې څخه ځينې دا دي:

۱ـ شرک د روافضو او شيعه ګانو په زړونو او رګونو کې لکه د اوبو په څير سرايت کړی دی، د (يا علي مدد) شرکي نارو ترڅنګ يې ورځ او شپه په قبر پرستۍ، شيخ پرستۍ او نورو شرکياتو او کفرياتو کې تيريږي چې له دې خبرو هيڅ عاقل مؤمن ناخبره نه دی.

د روافضو کتابونه د شرکي عقائدو او اعمالو څخه ډک دي

خپلو امامانو ته په علم الغيب قائل دي چې دا هم شرک اکبر دی.

د دوی مشهور عالم کليني په دې هکله ليکلي دي: (أن الأئمة يعلمون علم ما كان وما يكون وأنه لا يخفى عليهم شيء. (الكافي للكليني الجزء الأول ص 260)

ژباړه: امامان په هغه څه چې مخکې تير شوي دي او وروسته راځي په ټولو علم لري او په دوی هيڅ شی پټ نه دي.

همدارنګه کليني باب لړولی دی (باب أن الأئمة يعلمون متى يموتون وأنهم لا يموتون إلا باختيارهم) (أصول الكافي: 1/258)

ژباړه: امامان په دې پوهيږي، چې کله به مړه کيږي، او دوی نه مړه کيږي، مګر په خپل اختيار سره.

حال دا چې قرآن او سنت پدې ګواه دی چې عالم الغيب يوازې د الله جلّ جلاله ذات دی، نو چا چې له الله پرته بل چا ته علم الغيب ثابت کړ دا شرک اکبر دی، الله تعالی فرمايي: قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ (سورة النمل: 65)

ژباړه: ورته ووايه په ځمکه او اسمانونو کې هيڅوک په غيبو نه پوهيږي، مګر يوازې الله تعالی پوهيږي.

او بيا الله تعالی وايي: وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ (سورة الانعام: 59)

ژباړه: او خاص د همدغه الله تعالی سره کليګانې (کنجيانې) د خزانو د غيبو دي، چې له الله پرته پرې بل هيڅوک نه پوهيږي، نو لومړی سبب د ارتداد او کفر د روافضو دا دی چې دوی کې شرک اکبر موجود دی.

۲ـ روافض قران کريم ناقص ګڼي او د تحريف عقيده يې لري چې له همدې عقيدې څخه د دوی کتابونه ډک دي.

او د دوی د همدې عقيدې اصلي علت او وجه هم دا ده چې دوی د صحابه کرامو د توثيق او تعديل قائل نه دي بلکې هغوی ته والعياذ بالله دروغژن وايي لکه وروسته به دغه خبرو ته موږ اشاره وکړو او قران کريم خو د صحابه کرامو په توسط رانقل شوی، نو ځکه يې نيمګړی بولي.

دويم دا چې هغه روايتونه چې دوی يې صحيح ګڼي د دوی په کتابونو کې ذکر دي، چې شمير يې له دوه زره څخه اوړي، او د دوی په آند متواتر دي، په همدغه روايتونو کې دا خبره په څرګند ډول ذکر ده، چې قرآن کريم بدل شوی دی او تحريف پکې شوی دی، داسې چې څه پکې زيات شوي او څه ترينه کم شوي دی والعياذ بالله.

محمد بن يعقوب الكليني په اصول الكافي کې دا روايت راوړی دی: "عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا جَعْفَرٍ ع يَقُولُ مَا ادَّعَى أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ أَنَّهُ جَمَعَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ كَمَا أُنْزِلَ إِلَّا كَذَّابٌ وَ مَا جَمَعَهُ وَ حَفِظَهُ كَمَا نَزَّلَهُ اللَّهُ تَعَالَى إِلَّا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ ع وَ الْأَئِمَّةُ مِنْ بَعْدِهِ (الكافي الجزء : 1 صفحة : 228)

ژباړه: له جابر څخه نقل دي هغه فرمايي: ما د ابو جعفر عليه السلام نه واوريدل، چې ويل يې: هيچا دا دعوی نده کړې چې ټول قرآن يې په هغه طريقه راجمع کړی دی لکه چې الله تعالی نازل کړی دی، مګر دغه کس دروغژن دی، ځکه چې قرآن د الله د نزول پشان نه دی راجمع کړی او نه يې دی ساتلی مګر علي ابن ابي طالب ـ رضي الله عنه ـ او دغه راز هغه امامانو هم راجمع کړی چې له ده څخه وروسته راغلي دي.

او داسې ډير اقوال د دوی په کتابونو کې شته، هغه ټول روايتونه دليل دي چې دوی د قرآن کريم د تنقيص او تحريف عقيده ساتي.

او دا نا ممکنه ده، چې له دې عبارتونو څخه دې دوی انکار وکړي، ځکه چې دا عبارتونه د دوی له تورو مخونو څخه هغه پرده لرې کوي چې له مونږ څخه يې پرې ځان پټ کړی وه، او د دوی هغه عقيده څرګندوي چې زمونږ د مقدس کتاب قران کريم په اړه يې لري.

د دا د روافضو دويم سبب د کفر او ارتداد دی، ځکه د دې عقيدې په اساس د الله تعالی د کتاب له هغه ټولو اياتونو څخه انکار شوی دی چې په هغې کې الله تعالی د قرآن کريم د حفاظت وعده کړې ده.

لکه الله تعالی فرمايي: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ [سُورَةُ الحِجر : 9]

ژباړه: بېشکه دا ذکر (قرآن) مونږ نازل کړيدی او مونږ په خپله د دې ساتندويان يوو.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ [16] إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ [17] فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ [18] ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ [سُورَةُ القِيَامَة : 19]

ژباړه: خپله ژبه پرې داسې مه خوځوه، چې بېړه پرې کوې، بېشکه په مونږ باندې يې راجمعه کول او لوستل دي؛ نو کله چې يې مونږ لولو زمونږ د لوستلو پيروي

کوه، بیا بېشکه په مونږ باندې د دې ښکاره بیانول دي.

نو دا ایاتونه صریح دي په دې خبره چې د قرآن کریم د حفاظت او ساتنې وعده الله تعالی کړې ده او دا به تر قیامت پورې د مسلمانانو په سینو کې محفوظ وي، نو کوم خلک چې د قران کریم د تحریف او تنقیص عقیده ساتي په اتفاق د مسلمانانو سره دا خلک په ارتداد او کفر کې واقع دي لکه دې خبری ته قاضي عیاض ـ رحمه الله ـ اشاره کړې ده او هغه فرمایي: ”أَجْمَعَ الْمُسْلِمُون أَنّ الْقُرْآن الْمَتْلُوّ فِي جَمِيع أَقْطَار الأَرْض الْمَكْتُوب فِي الْمُصْحَف بِأَيْدِي الْمُسْلِمِين مِمَّا جَمَعَه الدَّفَّتَان مِن أَوَّل (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العالمين) إِلَى آخِر (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ) أَنَّه كَلَام اللَّه وَوَحْيُه الْمُنَزَّل عَلَى نَبِيّه مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْه وَسَلَّم ، وَأَنّ جَمِيع مَا فِيه حَقّ ، وَأَنّ مَن نَقَص مِنْه حَرْفًا قَاصِدًا لِذَلِك أَو بَدَّلَه بِحَرْف آخَر مَكَانَه أَو زَاد فِيه حَرْفًا مِمَّا لَم يَشْتَمِل عَلَيْه الْمُصْحَف الَّذِي وَقَع الإِجْمَاع عَلَيْه وأُجْمِع عَلَى أَنَّه لَيْس مِن الْقُرْآن عَامِدًا لِكُلّ هَذَا أَنَّه كَافِر“ انتهى من“الشفا“ (2/ 304 305-)

ژباړه: د مسلمانانو اجماع ده، هغه قرآن چې په ټوله نړۍ کې لوستل کیږي او د مسلمانانو په لاسونو کې په مصحف کې لیکل شوی دی او دوه پوښونو یا پاڼو راجمه کړی دی له (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العالمين) څخه تر اخر د (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ) پورې دا د الله کلام او وحې ده چې په محمد ﷺ باندې نازل شوی دی او ټول هغه څه چې په دېکې دي هغه حق دي، چا چې له دې څخه په قصد سره یو حرف کم کړ او یا یې یو حرف په بل سره بدل کړ یا یې پکې یو حرف زیات کړ د هغه حروفو څخه چې دا قرآن پرې په اجماع سره مشتمل نه دی، څوک چې دا هر عمل په قصدي شکل وکړي دا کافر او مرتد دی.

۳ـ د صحابه کرامو تکفیر، د امهات المؤمنین سپکاوی او په ځانګړې توګه په پاکدامنې مور عائشې ـ رضي الله عنها ـ باندې د زنا تهمت څخه د دوی کتابونه ډک دي او د دوی په دین او مذهب کې صحابوو ته ښکنځل کول او په صحابوو باندې لعنت ویل الله تعالی ته د نږدیکت غټ سبب بولي، او صحابوو ته په ښکنځلو او لعنت ویلو کې دوی ډیر اجر او ثواب ګڼي، لکه دوی

شاه چراغ

وايي: [من لعن الجبت (أي الصديق) والطاغوت (أي الفاروق) لعنة واحدة كتب الله له سبعين ألف ألف حسنة، ومحى عنه ألف ألف سيئة، ورفع له سبعين ألف ألف درجة، ومن أمسى يلعنهما لعنة واحدة كتب له مثل ذلك، [أجمع الفضائح للملا كاظم وضياء الصالحين ” ص ـ ٥١٣]

ژباړه :چا چې په ابوبکر صدیق او عمر ـ رضی الله عنهما ـ باندې یو ځل لعنت ووایه نو الله به هغه ته اویا لکه نیکۍ ولیکي او اویا لکه ګناهونه به ترې لرې کړي او اویا لکه درجې به یې اوچتې کړي، او چا چې ماښام په ابوبکر صدیق او عمر باندې یو ځل لعنت ووایه هغه ته به هم همدغه نیکۍ او درجې ولیکلی شي.

همدارنګه په روضة الكافي کې لیکي: عن أبي جعفر عليه السلام قال: (..إن الشيخين -أبا بكر وعمر- فارقا الدنيا ولم يتوبا ولم يذكرا ما صنعا بأمير المؤمنين عليه السلام فعليهما لعنة الله والملائكة والناس أجمعين) (روضة الكافي 8/246).

ژباړه: د أبي جعفر عليه السلام نه روایت دی چې یقینا ابوبکر او عمر د دنیا څخه لاړل خو توبه یې ونه ویستله او نه یې هغه څه بیان کړل چې دوی د امیر المؤمنین علي ـ رضی الله عنه ـ سره کړي په دوی دې د الله او ملائکو او ټولو خلکو لعنت وي، والعیاذ بالله.!!

رافضي شیعه ګانو په خپلو کتابونو کې صحابه کرامو پسی داسې خبرې لیکلې دي چې زمونږ ګوتې د هغې خبرو د ژباړې او نقل کولو څخه عاجزې دي!

حال دا چې أمهات المؤمنین او صحابه د دین ستنې دي د هغوی تقدیس الله رب العزت په خپل کتاب کې ذکر کړی دی او رسول الله ﷺ د هغوی ستاینه کړې ده او په مسلمانانو یې د صحابوو محبت لازمي ګرځولی دی، نو دا د زمانې بدبخته خلک هغوی ته کنځل کوي او د کفر نسبتونه ورته کوي!!

هغه څوک چې د صحابوو په حق کې ښکنځل کوي او د کفارو نسبتونه ورته کوي ،دوی په حقیقت کې د قرآن له هغه ایاتونو څخه منکرین دي، چې الله پکې له صحابوو څخه د خپل رضایت خبر ورکړی، شاوخوا سلو ایاتونو کې د صحابه کرامو فضیلت، اوچت مقام او د هغوی د مغفرت خبره شوې ده، چې د هغې له جملی څخه ځینې دا دي: الله تعالی فرمایي: وَالسَّٰبِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَٰجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَٰنٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى تَحْتَهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ [سُورَةُ التَّوبَة : 100]

ژباړه: هغه مهاجرین او انصار چې تر ټولو د مخه د ایمان بلنې ته په لبیك ویلو کې راوړاندې شول، دغه راز هغه کسان چې وروسته له نېکۍ او ربښتینولۍ سره په هغو پسې راغلل؛ الله له هغو څخه خوښ او هغوی د الله څخه خوښ شول. الله د هغو لپاره داسې باغونه (جنتونه) تیار کړیدي، چې لاندې به یې ویالې بهیږي او هغوی به په کې د تل لپاره اوسیږي. همدا ډیر لوی بریالیتوب دی.

دغه راز الله تعالی فرمایي: وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَٰهَدُوا فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ ءَاوَوا وَّنَصَرُوٓا أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ [سُورَةُ الأنفَال : 74]

ژباړه: کومو خلکو چې ایمان راوړی او د الله په لار کې یې هجرت وکړ او جهاد یې وکړ. او کومو خلکو چې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه، هماغوی ربښتیني مؤمنان دي. د هغو لپاره د ګناهونو ښښنه او ډیره ښه روزي ده.

همدارنګه په لاندې سورتونو کې رب العالمین د صحابه کرامو اوچتې مرتبې ذکر کړې دي: [الفتح: 29]
[الفتح: 18 – 21].
[الحديد: 10].
[التوبة: 117]
[الحجرات: 7 – 10].
[الأنعام: 52].[الأنعام: 54].
[الكهف: 28].
[الأنفال: 62، 63].[الأنفال: 64]
[الأنفال: 74].
[البقرة: 285، 286].[البقرة: 273، 274]،
[النور: 37].
[آل عمران: 103].[آل عمران: 152].
[الحشر: 8- 10]، او داسې نورو ډیرو ایاتو کې د صحابوو د مغفرت او اوچت شان تذکره شوې ده، په خاصه توګه د عائشې ـ رضي الله عنها ـ د پاکدامنۍ په هکله د سورة النور ځینې ایاتونه نازل شوي او په احزاب او داسې نورو سورتونو کې د امهات المؤمنین مقام او منزله او هغوی ته پکې خصوصي خطابات شوي دي.

نو کله چې روافض صحابه کرام تکفیروي او یا ښکنځل ورته کوي، لعن طعن پرې کوي هغوی په حقیقت کې له دغو ټولو ایاتونو څخه منکر دي او دا نه مني او مخکې یدی خبره وشوه چې په قران کریم کې د تحریف او د تنقیص عقیده چې څوک لري هغه مرتد او له اسلام څخه خارج دی.

دا خو لا لرې خبره ده چې یو انسان د دومره ایاتونو څخه انکار کوي بلکې د قرآن د یوې کلیمې څخه چې چا انکار وکړ هغه کافر دی.

ابـن قدامة المقدسي ـ رحمه الله ـ وايي: ”چې پدې خبره د مسلمانانو اجماع ده : «ولا خلافَ بين المسلمين أجمعين أنَّ مَنْ جَحَد آيةً، أو كلمةً مُتَّفقًا عليها، أو حَرْفًا مُتَّفقًا عليه أنه كافر»[حكاية المناظرة في القرآن مع بعض أهل البدعة :ص33]

ژباړه: په دې کې د مسلمانانو اختلاف نشته چې څوک د يو ايات او يا (د قرآن) له يوې هغه کليمې څخه انکار وکړ چې په هغې باندې اتفاق نقل وي او يا يې د يوه حرف څخه انکار وکړ چې اتفاق پرې شوی وي هغه هم کافر او مرتد دی.

امام نووي ـ رحمه الله ـ هم په (المجموع (2/ 193) (صحيح مسلم بشرح النووي (6/ 88) کې پدې خبره اجماع نقل کړې ده.

۵ـ دوی د مسلمانانو قتل حلال ګڼي لکه مخکې چې دې خبرې ته اشاره وشوه چې د دوی له امام څخه وپوښتل شو چې: (ما تقول في قتل الناصب؟

فقال: حلال الدم، ولكني أتقي عليك، فإن قدرت أن تقلب عليه حائطاً أو تغرقه في ماء لكيلا يشهد عليك فافعل) (وسائل الشيعة 18/463) او (بحار الأنوار 27/231)

ژباړه: ته د اهل سنتو په وژلو کې څه وايې؟ هغه وويل وينه يې حلاله ده ليکن زه په تا ويره لرم، که دې وسه کيدله چې ديوال پرې راوغورځوي، يا يې په اوبو کې غرق کړې نو همداسې وکړه پدې خاطر چې څوک دربانده خبر نه شي!

حال دا چې د مؤمن وژل او وينه تويول قطعي حرام دي نو شيعه ګان پدې عقيدې سره د استحلال المحارم مرتکب ګرځيدلي دي او دا په اجماع د مسلمانانو سره کفر دی: شيخ الاسلام ابن تيميه د علماوو اتفاق نقل کوي او وايي: ”وَالْإِنْسَانُ مَتَى حَلَّلَ الْحَرَامَ - الْمُجْمَعَ عَلَيْهِ - أَوْ حَرَّمَ الْحَلَالَ - الْمُجْمَعَ عَلَيْهِ - أَوْ بَدَّلَ الشَّرْعَ - الْمُجْمَعَ عَلَيْهِ - كَانَ كَافِرًا مُرْتَدًّا بِاتِّفَاقِ الْفُقَهَاءِ. [مجموع الفتاوى ج ٣/ ص ٢٦٧]

ژباړه: کله چې يو انسان اجماعي حرام حلال وګڼي، او اجماعي حلال حرام وګڼي، يا اجماعي شريعت بدل کړي، نو دا په اتفاق د فقهاوو سره کافر او مرتد دی.

او داسې نور ډېر نواقض پکې شته چې نقل کول يې مقاله اوږدوي لوستونکو له پکار ده چې په دې باب کې هغه تفصيلي کتابونو ته رجوع وکړي چې اهل علمو ليکلي دي.

نو مسلمانانو ورونو

همدا پورته ټول او له دې څخه زيات نور چې موږ يې ذکر کول د مقالې د اوږديدو له کبله مناسب ونه ګڼل عقائد او اعمال د روافضو او شيعه ګانو د کفر او ارتداد دلائل ګرځيدلي دي، چې د اسلامي امت امامانو، فقهاوو او علماوو دوی ته کفار او مرتدين ويلي دي، دا چې د اسلامي دولت مجاهدين د اسلامي امت د امامانو، فقهاوو او مجتهدينو فتوی ته عملي جامه ور اغوندي او روافضو ته د ردت سزا ګانې ورکوي نو دا عامو خلکو ته نوې او نا اشنا ښکاري مګر د روافضو د ردت درک يواځې مونږ نه دی کړی بلکې د اهل سنت والجماعة امامانو د دوی باره کې داسې څرګندونې کړې دي که انسان يې مطالعه کړي نو بيا به روافضو ته هره لار او هر چوک خپل سنګر وګرځوي، چې د هغه فتواوو له جملې څخه د نمونې په طور ځينو ته يې موږ اشاره کوو:

١ـ قال الإمام مالك (رحمه الله): الذي يشتم أصحاب النبي ليس لهم اسم أو قال: نصيب في الإسلام [السنة للخلال : ٢/٥٥٢]

ژباړه : امام مالک ـ رحمه الله ـ فرمايي: څوک چې صحابه کرامو ته ښکنځل کوي د هغوی په اسلام کې هيڅ برخه نه شته.

٢ـ قال الإمام البخاري (رحمه الله): ما أُبالي صليت خلف الجهمي والرافضي، أم صليت خلف اليهود والنصارى ولا يُسلم عليهم ولا يُعادون ولا يُناكحون ولا يشهدون ولا تؤكل ذبائحهم [خلق افعال العباد ١٢٥]

ژباړه : إمام بخاري ـ رحمه الله ـ فرمايي: ما ته مهمه نه ده چې زه د جهمي او شيعه څخه وروسته لمونځ وکړم او يا د يهودي او نصراني څخه وروسته لمونځ وکړم، په هغوی به سلام هم نه اچول کيږي او نه به يې د مريض پوښتنه کيږي، نه به ورسره نکاحونه کيږي نه به يې جنازي ته ورتلل کيږي او نه به يې ذبيحه خوړل کيږي.

٣ـ امام ابو زرعة الرازي ـ رحمه الله ـ وايي: إذا رأيت الرجل ينقص أحدا من أصحاب رسول الله ﷺ فاعلم أنه زنديق. [الفرق بين الفرق ” ٣٥٦]

ژباړه: کله چې يو سړی ووينې چې د نبي ﷺ په ملګرو او صحابوو کې د يو تن سپکاوی کوي نو ته پوهه شه چې دا زنديق دی.

٤ـ قال الإمام الشوكاني ـ رحمه الله ـ: إن أصل دعوة الروافض كيد الدين ومخالفة الإسلام وبهذا يتبين أن كل رافضي خبيث يصير كافرًا بتكفيره لصحابي واحد فكيف بمن يكفِّر كل الصحابة واستثنى أفرادًا يسيرة. [نثر الجوهر علَى حديث أبي ذر]

ژباړه: امام شوکاني ـ رحمه الله ـ فرمايي: يقيناً د روافضو د دعوت بنياد اسلام ته چل ول جوړول او د دين مخالفت کول دي، د دې خبرې نه واضحه شوه چې رافضي خبيث او پليت دی د يوه صحابي په کافر ګڼلو سره کافر کيږي نو څه حال به وي د هغه چا چې ټولو صحابوو ته کافر وايي بغير د يو څو کسانو نه؟.

٥ـ شيخ الاسلام ابن تيمية ـ رحمه الله ـ فرمايي: أما من اقترن بسبه دعوى أن علياً إله أو أنه كان هو النبي و إنما غلط جبريل في الرسالة فهذا لا شك في كفره بل لا شك في كفر من توقف في تكفيره. [الصارم المسلول ١-/ ٥٩]

ژباړه : اوچا چې د خپلو کنځلو سره دا دعوه هم ملګرې کړه چې علي ـ رضي الله عنه ـ اله دی، يا هغه نبي دی او جبرائيل ـ عليه السلام ـ په پيغام راوړلو کې خطاء شوی دی نو دا بې له شکه کافر دی، بلکې د هغه چا په کفر کې هم شک نشته چې د داسې خلکو په کفر کې شک او توقف کوي.

٦ـ امام طحاوي ـ رحمه الله ـ فرمايي: ولا نذكرهم إلا بخير، وحبهم: دين، وإيمان، وإحسان، وبغضهم: كفر، ونفاق، وطغيان [العقيدة الطحاوية مع شرحها لابن أبي العز ص ـ ٦٨٩]

ژباړه: امام طحاوي ـ رحمه الله ـ فرمايي: او مونږ صحابه کرام نه يادوو مګر په خير سره او د صحابوو سره محبت او مينه کول دين، ايمان او احسان دی او صحابوو سره بغض او کينه ساتل کفر، منافقت او سرکشي ده.

٧ـ قال الإمام ابن حزم (رحمه الله): وأما قولهم -يعني النصارى- في دعوى الروافض تبديلَ القرآن، فإن الروافض ليسوا من المسلمين، وهي طائفة تجري مجرى اليهود والنصارى في الكذب والكفر [الفصل ، ٢/٢١٣]

ژباړه :امام ابن حزم ـ رحمه الله ـ وايي: هر چې د نصاراوو دا خبره کول دي چې روافض دعوه لري چې قرآن بدل دی (اصل ندی) نو روافض خو مسلمانان ندي، دا يوه داسې ډله ده چې د يهودو او نصاراوو سره په درواغو او کفر کې يو شان ده.

مسلمانانو ورونو!

د شيعه روافضو په هکله تاسې د امامانو او فقهاوو اقوال او د ارتداد او زنديقيت فتواګانې ولوستې که چيرې کوم شخص کې تعصب، تنظيم پرستي او ډله پرستي نه وي او په الله او رسول الله او صحابه کرامو او خپلې مور عائشې ـ رضی الله عنها ـ باندې غيرت يې په زړه کې وي نو فيصله دې خپله وکړي چې آيا دغه روافضو سره د وطني طالبانو په څېر مينه او محبت پکار دی لو که د اسلامي خلافت د مجاهدينو په څېر ورسره بغض او نفرت پکار دی؟

او آيا د دغه روافضو سره د وطني طالبانو په څېر دوستي او ملګرتيا پکار ده، که د اسلامي خلافت د مجاهدينو په څېر ورسره سخته دښمني پکار ده.؟

دغه روافضو نه د طالبانو پشان دفاع او ساتنه پکار ده او که د اسلامي خلافت د مجاهدينو پشان قتلول يې پکار دي؟

شايد د ډېرو خلکو هغه سوالونه هم جواب شوي وي چې د اسلامي دولت مجاهدين ولې شيعه روافض اکثر د خپلو عملياتو هدف ګرځوي او ښارونه يې ورته په هديرو بدل کړل؟

زمونږ د عملياتو د شدت بله کومه وجه نشته يواځينۍ هدف يې همدا دی چې زمونږ دښمني د نورو کفارو او مرتدينو ترڅنګ د هغه چا سره زياته سخته او متمرکزه ده چې هغوی د الله او د رسول او د مؤمنانو په دښمنۍ کې شدت کوي او د هغوی په اهانت او سپکوالي يې خپل مجلسونه اباد کړي وي، مونږ ته خپل رب د همدې خبرې امر کوي او فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا قَٰتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ [سُورَةُ التَّوبَة : 123]

ژباړه: اې مؤمنانو! له هغه کافرانو

سره وجنګېږئ چې تاسي ته نږدې دي؛ او بايد هغوی په تاسي کې کلکوالی (زيږوالی) ومومي؛ او وپوهېږئ چې الله د پرهېزګارانو ملګری دی.

راځو دې ته لکه څنګه مو چې د مقالې په پيل کې ورته اشاره وکړه چې د اسلام په تاريخ کې روافضو تل د صليب تبرونو ته د لاستو حيثيت لرلای دی ،دوی تل د اسلام سره د دښمنۍ په اول صف کې ولاړ دي، او په دې دښمنۍ کې يې له هر چا زيات شدت کړی دی، په اهلسنتو د دوی د وحشتونوهم ځانګړي داستانونه لري چې تاريخونه پرې ډک دي.

په دې وروستيو کې د ايران اخوندي مرتد طاغوتي نظام د خپلو اکابرو په څېر د فارس د امپراطورۍ د بيا جوړېدو خوبونه ليدل او دا فکر يې کاوه چې يو ځل به بيا انسان د انسان بندګۍ ته اړ باسي، په همدې هدف يې په ګڼو هيوادونو کې په مختلفو شکلونو خپلې ريښې وغځولې، چې د همدې اهدافو په دوام يې د عراق، شام او خراسان په شمول په زياتو سيمو کې د صليبي يرغلګرو ملا ور وتړله او د صليبي ټلوالې په مټ يې ډېری سيمې په واک کې راغلې، چې لله الحمد د دوی دا خوبونه د اسلامي دولت زمرو ورخراب کړل، د دوی له سرونو يې د فارسي امپراطورۍ پوچ خيالونه وتروړل، دوی د اسلام سره په دښمنۍ کې د اهلسنتو د بچو قتل عام وکړ، د فاطميون، زينبون او نورو ډلو په شمول ټولې ډلې يې د مسلمانانو د عامه وژنې لپاره له ايرانه تشکل کيدلې، اکماليدلې او په خراسان، عراق، شام او نورو سيمو کې د صليبيانو سره اوږه په اوږه د اسلامي امت د نارينوو، بوډاګانو سربيره باعصمته تور سرې، يې سرتورې او بې پردې کړې او واړه بچې يې ورته په اورونو ورکباب کړل.

کله چې په خراسان کې امريکايانو له تير مرتد جمهوريت څخه د ديموکراسۍ د تطبيق او د کفارو د امنيت ساتنې پروژه واخسته او طالب مليشو ته يې وسپارله نو امريکايانو په طالبانو دا هم په کلکه ومنله چې دوی به د امريکايانو د رافضي مرتدو مزدورانو ساتنه هم کوي، طالب مليشې چې له پخوا يې روافضو سره کومه عقيدوي ستونزه نه لرله او په ډېرو مواردو کې يې په عقيده کې سره ورته والی لاره، د اسلامي دولت په خلاف يې لا له وړاندې رافضي ايران مرسته او حمايه کوله، او د همدې ورځې لپاره يې کوله چې طالبان په واک کې راولي او دوی هم د افغانستان په داخل او هم په بهر کې د اسلامي دولت د بريدونو څخه خوندي کړي.

کله چې طالب مرتدينو ته د کابل ګدۍ وسپارل شوه نو په ډېر اخلاص يې د خپلو رافضي وروڼو د ساتنې لپاره متې رابډ وهلې، خو د اسلامي دولت سربښندونکو غازيانو په طالب مشرکينو او د دوی په رافضي وروڼو داسې اورونه بل کړل، چې تاو يې د تهران تر کوڅو ورسيد.

کله چې ايران د دوی په رافضي مشرکينو د اور دا ژبغړاندې لمبې وکتلې، نو طالب چارواکو سره يې راشه، درشه، سفرونه، پټې او ښکاره مرستې او همکارۍ لا زياتې کړې او دا ډار ورسر زيات شو، چې ژر ده چې د دې اور لمبې د دوی تر دهليزونو، تکيه خانو او شرکي هډو ور ورسيږي.

همغسې وشول نن نو دا دی هغه ورځې را ورسيدې چې موږ او روافضو يې په شريکه انتظار کاوه چې هغه د ايران په زړه کې د اسلامي خلافت د زمرو په تېرو مردکو د دوی د ککريو په نښه کول دي.

لله الحمد د اسلامي خلافت يو اتل (ابو عائشه العمري) ـ تقبله الله ـ په پوره ميړانه د شيراز د شاه چراغ په شرکي تکيه خانه بريد ترسره کړ، چې په دغه اتلوال بريد کې يې په لسګونو رافضي مشرکينو ته مرګ ژوبله واړوله او د ټولو اهلسنتو سينې يې پرې يخې کړې.

دا بريد چې د نورو داسې بريدونو پيل دی او د دې خونړۍ لړۍ راتلونکې څپې به خورا دردونکې او خطرناکې وي، د ايراني اخوندانو زړونه يې له ډاره ډک کړل.

ابو عائشة العمري ـ تقبله الله



دوی فکر کاوه چې د اسلامي دولت غازیان به د خپلو ورونو طالب مشرکینو په وساطت په خراسان کې مهار کړي خو داسې ونه شوه، نه یې په خراسان کې له خپلو رافضي مشرکینو بلې لمبې مړې کړې او نه یې هم طالب مشرک ورونه په دې وتوانیدل چې د دې اور د لمبو مخه ونیسي ترڅو د ایران کوڅو ته خور نه شي.

په دغه اتلوال برید د نړۍ د ټولو کفارو او طواغیتو سره یو ځای طالب مشرکینو هم د سخت خفګان او خواشینۍ اظهار وکړ او لکه د نورو کفارو په څیر یې دا مبارک عملیات وغندل.

Zabihullah (ذبيح الله م..)
@Zabehulah_M33
ا.ا.ا د ایران په شیراز کې په لمونځ کوونکو او زائرونو دزې او وحشیانه برید په کلکو ټکو غندي.
د قربانیانو له کورنیو او ټول ایراني ولس سره خپله ژوره خواشیني شریکوي.
متأسفانه چې تکفیري فتنه ګرو په افغانستان کې هم څو ځله بې ګناه خلک په نښه کړي، هغوی د اسلام او مسلمانانو دښمنان دي.

لله الحمد موږ همدا ورځې غوښتې چې موږ به دوی وژنو او دا مشرکین به د یوه او بل په درد دغسې اوښکې تویوي او موږ به د دوی له دې دردونو خوند اخلو او ولې به طالب مشرکین د خپلو رافضي ورونو په وژلو نه خفه کیږي ځکه چې کفر ټول یو ملت دی او طالب اوس د کفر د ملت یوه برخه ګرځیدلې ده.

او موږ رافضي مشرکین ځکه وژنو چې دوی غلیظ ترین مشرکین دي، دوی د صلیبي یرغلګرو، ایتلافیانو او همدا راز د عراق، شام او خراسان په شمول د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د زرګونو اهل سنتو قاتلین دي.

روافض چې کفر او شرک یې له نورو ټولو مشرکینو او کفارو ډیر غلیظ او ښکاره دی طالب مرتدین یې خپل ورونه او خپل جسد ګڼي چې تاسې د روافضو په شرک او ردت د دې مقالې په په پیل کې پوره وضاحت ولوست.

نو موږ په ټولو اهل سنتو ورونو غږ کوو!

چې راځئ راپورته شئ د اسلامي دولت له لیکو سره یو ځای شئ او د نړۍ له مخه د شرک او کفر د تورو تیارو دا تور ټغر ورټول کړئ.

ایراني اخوندانو او د دوی تالي څټو طالب ملیشو ته وایو! چې تاسې به هیڅکله باذن الله د یوه او بل سره په مرسته، همکارۍ، خواخوږۍ ورورولۍ او شریکو هڅو او فعالیتونو له خپلو څټونو د اسلامي دولت د اورشیندونکو استشهادي زلمو بلې لمبې مړې نه کړای شئ دا نو لا د جګړې پیل دی، الآن آن جاء القتال ..

رایادې کړئ هغه ورځې چې تاسې به له خراسان او ایران څخه عراق او شام ته د اهل سنتو د تور سرو او معصومو بچو د قتل عام لپاره تشکیلونه لیږل اوس نو د خپل تراخه مرګ تراخه وڅکئ.

څوک به پیدا شي د مظلوم به انتقام واخلي

څوک به پیدا شي د مظلوم به انتقام واخلي
چې مقتدیان زخمي کوي رانه امام واخلي

قران ته شا، حدیث ته څټ ما ملامت بولي
زما په سر د امریکا څخه انعام واخلي

یوه دې وکړه، اوس دوحه کې بله لوبه کیږي
د شهیدانو ارمانونه به تمام واخلي

یهود چلیان دي، غولولی یې د وخت مجنونه
ته به کباړ شې مؤمنان به دې لیلام واخلي

نوره توبه کړه لا وخت شته دی پاک قران وګوره
تاته چې ګوري دا کشران به څه انجام واخلي

ستا خو دوه ندي څلور ندي اوه، اته میړونه
وخت به ثابته کړي تاریخ به دې بدنام واخلي

کفار ازاد دي، جزیه نشته جهاد هم معطل دی
الله ته مخ کړه لیوني به، دا اسلام واخلي؟

د صلیبي لوبو نانځکه وي ښه ولوبیدې
عجیبه نده، دوه هوا به په یوبام واخلي

دغه کانه ړانده ګونګیان دعصر نه پوهیږي
غوږونه یې ټپ دي له (ځارګر) به څه الهام واخلي

مؤسسة العزائم الإعلامية

د شينوارو اتل

له ازله تر ابده او له ادمه تر دې دمه د الله په دين سربښندنې او قرباني شروع دي ، د مختلفو ژبو، قومونو، مملکتونو، او سمتونو د اسلام په مظبوطه کړۍ خپلې منګولې ټينګې کړې او ډيری يې په دې اوږد مزل کې تر منزل هم ورسيدل، الله دې هغه خلکو سلفو او خلفو ته د جنت اوچتې درجې ورکړي کوم چې د الهي قانون په دفاع کې د شهادت په دروازه ورننوتل، يقيناً دغه خلک کامياب شو او د خپل رب سره يې کړې وعدې سرته ورسولې او زموږ وار لا په موږ پور پاتې دی ، موږ به د خپل رب څخه ثبات غواړو او د هغه په دين به د صبر دعا طلب کوو، د دغې ستړې قافلې له لارويانو يو هم شاخالد (شاکر) تقبله الله دی، چې دغه نوکی ځوان د شينوارو له منځه راپورته شوې چې د ژوند ډيرې ترخې او خوږې يې وليدې، د رب په مينه مين زلمي د سهولت ډک ژوند ته شاه کړه او د جهاد په اغزنه لار يې ابيله پښې خپل اوږد سفر پيل کړ دې زلمي يوائې د خلافت په صف کې نه، بلکې له ډير وخت راهيسې د اسلامي خلافت په انتظار او راتللو د جهاد سنګرونه ګرم کړي و ، هغه چې کله تازه زلمی شو نو لمړنی زده کړې يې په خپله منطقه کې وکړې ، هغه به د ورځې مکتب ته تلو او د شپې به يې د ناټوګی او ددوی د مرتدو مزدورانو کاروانونو ته په سرکونو ماينونه ايښودل، شاخالد او ورسره ملګرو به مکتب ته د تلو پر وخت په بکسه کې د کتابونو ترڅنګ تفنګچې او چسپکيان هم وړل راوړل او خپل هدف پسې به يې خپل عقابي نظرونه ګرد ګرځول ، ، دغه ځو زلمي په خپله منطقه کې فعال مجاهدين وو، د خپلو اميرانو ورباندې پوره لاس سپک وو، که څه هم ددوی مبارزه او جهادي سرګرمی د اسلامي خلافت لپاره وې خو د امارت په صف کې نور له خپلو کارونو ناهيلې شوې و ، ځکه دوی د امارت اسلام ماتونکې نواقض په خپلو سترګو ليدل ، دوی د امارت د مشرانو غدر خيانتونه ، او په اسلام او مسلمانانو د معاملې او سوداګری عينې شاهدان و، په دغه مخلصينو د امارت په صف کې قاچقبرو ، غلو په اخلاقي مفاسدو ککړو کړيو کړی راتنګه کړې وه ، همغه و چې الله عزوجل په دوی يو ستر احسان وکړ او دغه د ټولې نړۍ مخلصو مجاهدينو د نړيوال اسلامي خلافت اعلان وکړ ،مجدد شيخ ابوبکرابراهيم ابن عواد تقبله الله ددغه سپيڅلي خلافت د خليفه په حيث اعلان شو ، د نړۍ په لر او بر کې ورسره مخلصو مجاهدينو خپل بيعتونه اعلان کړل، د شپږ ديرش ولايتونو ترڅنګ يو خراسان هغه ولايت وو چې په جهاد کې سابقه لري او د خراسان په سينه کې ډيرو عربو او عجمو د جهاد محاذونه تاوده ساتلي وو، په ياد ولايت کې حافظ سعيدخان تقبله الله په سر کې ودريد او ګڼو مخلصينو ترې خپله دفاع اعلان کړه د نورو ملګرو ترڅنګ شاکر تقبله الله هم د رب د حقيقي نظام تږی وو ، د ځو ملګرو سره يو ځای د توردرې په لور لاړ هلته يې د حافظ صيب سره د بيعت کولو ترڅنګ د پاتې کيدو هيله وښوده، دا هغه وخت وو چې تالبانو زموږ ملګري په يو ځای کې په دې نوم بنديان کړي وو ، چې دوی خلافت سره يو ځای شوي بل طرف د خلافت زياته اسلحه طالبانو په لاره کې غصب کړه او د کليو ملکانو سره يې خپلو کې تقسيم کړه خيټې يې ورباندې واچولې او د غنيمت نوم يې ورکړ، حافظ صيب بار بار د منطقې مشهورو علماؤ ته مميوريکاړونو کې صوتي پيغامونه وليږل چې دغه زموږ اسلحه ده د پاکستان فوج نه مو په غنيمت کې اخيستې ده ، بيرته يې موږ ته سالمه راوسپارئ، خو خبرو هيڅ نتيجه ورنکړه بالاخره حافظ صيب يو منظم تشکيل هغې سيمې ته تشکيل کړ ترڅو دغه په سلهاوو ميله اسلحه له دوی څخه واخلي، د دغو ملګرو په سر کې مولوي صاحب عاصم تقبله الله د امير په حيث وټاکل شو،د دغه لمړني تشکيل يو لاروی هم شاکر

تقبله الله وو. دوی چې کله سيمې ته داخل شول، نو د نه اټکل کيدونکي جنګ سره مخ شول ، ښه پوره جنګ وشو زموږ د څنګ نږدې ملګري پکې شهيدان شول، شاکر دوی يو ځاې کې محاصره پاتې وو، د الله په نصرت يې محاصره ماته کړه او بل جنګ يې وکړ تالبان شاتګ ته اړ شول، ملګري هم يو طرف شو شاکر ته خپل امير وويل ته لاندې کوز شه ، بل وخت دې را غواړو اوس دربانده کورنی خبريږي او خپل کلي کې درته مشکلات جوړيږي دا هم د اطاعت په خاطر لاندې راغی ، زه هغه وخت هم د دوی په کلي کې وم ځو ورځې وروسته زموږ د ملګري (عمران) تقبله الله جنازه له باندره لاندې غني خيلو ته راښکته شوه

دغه ځوان څه موده د تالبانو په زندان کې تیره کړې وه ، هغه ته حقیقت له مخکې معلوم وو، چې دا خلک د کوم هدف په اساس جنګونه کوي ، دغه ځوان د خپل یو بل وروړ سره پاکستان تبو کې بندیان وو، دوی چې هلته د تالبانو هر راز کړه وړه لیدلي وو، نو دلته بیانول یې له نزاکته لیرې بولم،د تالب مرتدینو همدا اخلاقي مفاسد و چې دادی اوس یې نو په پایله کې پاخه ورکیوتل ، اوس نو لکه د مردارو ټپوسانو د غرب له ګیډرانو په پاتې شوني مرداریو دوی خپلې مخوکې سرې کړي دي ، خو د افسوس او تعجب خبره داده چې دوی لکه د مردارو کارغانو مرداره خوري او مښوکې ځنډي ، هر کفر یې قبول کړ، خو په خوله د اسلام ناري وهي ، نو د دوی په پوره حقیقت سر خلاص وو او په خپلو هغو همکاریو خپه وو چې په تیرو کلونو کې یې د طالبانو سره کړې وې ، عمران مو هم ده دیسرک په لویه هدیره کې ښخ کړ ،د وخت په تیریدو سره د اسلامي خلافت مجاهدین د طالب مرتدینو سره په منظمو جنګونو مجبور شول ، ځکه چې آی ایس آی خپل طالب ملیشو ته د خپلو پخوانیو دښمنانو د اورکزو ، باجوړو ، مومندو ، افریدو او ګنو نورو قبیلو د هغه زړورو مجاهدینو په خلاف یې دوی جګړې ته وهڅول چې مخکې یې په مختلفو سیمو کې د آی یس آی غاښونه بریښولي و او اوس دغه مخلصین ټول د اسلامي خلافت په لیکو کې راټول شوي و ، آی ایس آی سخته ویرې او ډار اخستې وه او غوښتل یې چې د اسلامي خلافت مجاهدین ته په همغه لومړیو کې د پښو ټینګولو موقعه ورنه کوي

ځکه یې نو خپلې طالب ملیشې په هر لحاظ تجهیز او کمال کړې ، خو الله عزوجل ذلیله کړل .د طالب مرتدینو سره ددغه لومړینو جګړو په لړ کې شاکر یوځل بیا د واورینو غرونو لمنو ته وریورته شو . کورنۍ یې ورسره نهایت زیاته خلاف وه ،خو ده هم د هغوی د مخالفت کومه پروا ونه ساتله او خپلې سپیڅلې مبارزې ته یې لا دوام ورکړ د خپل کور ټولې لانجې یې په سر واخیستې او کلک برأئت یې تري وکړ ،د الله په لاره کې د جهاد او سپیڅلي نظام دومره تږی وو چې دغه د دنیا ټول سهولتونو او د کورنیو مخالفتونو هتکړی یې په پښو او لاسونو کې ماتې کړې او یو ځل بیا دغو واورینو او د الله په دین منورو او ګل ورینو هیبتي ناوونو ته ور پورته شو، په تمکین کې یې زیات وخت تیر کړ د منطقې مشرانو ورته امر وکړ چې لاندې کوز شه او د نور خدمت تر څنګ به د هیئة الهجرې کار هم پر مخ وړې ، ځکه لارې ګودرې بندې دي ،مهاجرین زیات دي ، د خوراکي موادو د انتقال لاره به جوړه کړې او کوم ملګري چې تازه هجرت کوي هغوی به تر تمکینه را رسوې، دغه زلمی د خپلو امیرانو په امر لاندې راغی او خدمت یې شروع کړ لاندې یې خپله منطقه کې هم تر ډیره د ملګرو سره منډه وهله خدمت یې ورسره کاوه او پاس منطقې ته یې د خوراکي موادو ترتیب هم جوړ کړ مهاجرینو انتقال خو یې اصلي کار وو، ددې د څنګ یو ملګری کیسه کوي چې موږ به په دوه کسه اکمال کاوه او د ملګرو انتقال به مو کاوه نو زموږ لارې به په اکثره رزغي(سپیره راغه) کې وې او ډیر کرت به د افغان مرتدینو د امنیتي پوستو سره مخ کیدو نو له دې وجې مو یوه کمزوري تفنګچه پیدا کړې وه چې د انتقال پر وخت به مو ځان سره اخیسته نو کله به چې مهاجرین راتلل، رابطه به مو ورسره وکړه ، د عمومي سړک تر ختمیدو به خپله راغلل او بیا به موږ پیدل ، پیدل تر تمکینه رسول،د شپې ماسوختن به مو له ملا وچه ډوډۍ وتړله د اوبو بوتل ته مو جرابې ګنډلې وې دا به مو تیار له کوره بهر په یو ځای کې ایښې وو، د تګ په وخت به مو وچه ډوډۍ او د اوبو پتکونه واخیستل او تفنګچې ته به مو مرمۍ ور وسته چې الله مکړه لار کې د خطر سره مخ نه شو او مهاجرین ضایع نه شي، وایي موږ تر اخره د اکمال او انتقال خدمت کاوه او بیرته مو خپل کلي کې د امنیت ساتلو کوشش هم کاوه ،چې څوک په موږ پوه نه شي کله چې لشکریانو زموږ ملګري اسیران کړل او د خلافت په خلاف یې د افغان مرتد حکومت او طالبانو سره پټ لاس یو کړ نور په منطقه کې هم د خلافت مجاهدینو سره به تیرو بند کیدل نو هماغه وو چې مجاهدینو ورته د تسلیمۍ پشنهادونه وکړل ترڅو اخرت مو جوړ شي او د تیرو اعمالو بدله رب ورکړي ،خو ددوی په تقدیر کې بدبختي له مخکې لیکل شوې وه ،افغان حکومت ورته تضمینونه ورکړل چې بې غمه اوسیږئ نو دوی هم له نازیانو تر غني خیلو او تر خوګیانو خپل کسان خپاره کړل چور چپاول یې شروع کړ عام بې ګناه مسسلمانان به یې اختطاف کړل او په پیسو به یې خپل عیش عشرت جوړ کړی وو، نه د اسلام کیسه کې وو او نه د اخرت ، بس هر کافر چې هر کفر کوي خپل کار دې کوي اسلام دې هم خپل کار کوي، او دوی به په ډاډه زړه چرس او بنګ کش کول کله چې دغه ګندونه پکې ښکاره شول نو مخلص ملګري تري ټول اسلامي خلافت سره یو ځای شول اوباقې پاتې هغوی د چرسو په لوګو خپلې ځنې زیرولې او له وښکو به یې توري لاړې بهیدلې ، دې چرسي ملیشو چې د افغان مرتد حکومت په کرایي ټټوانو بدل شوي و ، ځانونه به یې د باړې فاتحین بلل، زما هغه شپې اوس هم یادې دي ، چې په اچین ولسوالۍ کې لشکریانو بې شمیره عام اولس قتل کړ، کله به په یوه بهانه باندې ورته کور چور کړ کله به یې ورته لار کې بم کیښود خو به یې والوزاوه کله به یې ورله ودونو باندې ماینونه انفجارول د خلکو خوشالیانې به یې په ویر بدلې کړې ، تر دې چې د سیمې خلک ددوی له دې ناروا کړنو او اخلاقي مفاسدو تر پوزې رسیدلي و او ددې هر څه ترشا ورسره د افغان مرتد حکومت حمایه او مرسته موجوده وه چې یو وخت ورپسې د سیمې خلک په پاڅون کولو مجبور شول .

کله چې د اسلامي خلافت مجاهدینو په دې سیمو کې فعالیت پیل کړ نو دا د باړې چرسیان په باندر او نازیانو کې فعال وو زموږ د خلافت ملګرو به چې له کومو لارو استفاده کوله نو دوی به په همدغو لارو راکوزیدل او او عام اولس به یې زوراوه او هم به یې اختطاف کول او د اسلامي خلافت مجاهدین به یې بدنامول ، ځکه پورته منطقو کې د اسلامي خلافت مجاهدین وو خو د دوی دغه منحوسې کړنې به هم خلکو مجاهدینو ته منسوبولې ،نو د وخت په تیریدو سره ددغو لشکریانو کړنو د اسلامي خلافت مجاهدین دې ته مجبور کړل چې ورسره حساب وکړي نو خلافت مجاهدینو یې په خلاف خپل غوڅ دریځ اعلان کړ ورته یې وویل : چې یا تسلیم شئ د الله دین ته غاړه کیږدئ او یا جنګ ته تیار شئ، خو دا دې تکبر په غونډۍ ناستو جاهلانو د هدایت په ځای ګمراهۍ ته غوره والی ورکړ او د جنت پر ځای یې جهنم خوښ وګاڼه د افغان حکومت سره یې له مخکې څخه تړون موجود و او طالبانو څخه یې هم مرستې ترلاسه کړې ، هماغه وو چې دوی سره درنه جګړه پیل شوه ، د جګړې په جریان کې مرستې ته امریکآیې طیارې راورسیدې ، په جنګ کې به اکثره رول د ډرون طیارو او د F16ډولو جیټ وو اکثره ملګري زموږ په دغو بمباریو کې شهیدان شو او دا کار هم د یو پټ تړون په اساس کیده او دا شاهدي هغو کسانو ویله چې لشکر کې تر ټولو مهم ګڼل کیده خو بیا هم د الله عز وجل په مدد سره د وخت په تیریدو دوی یوې منطقې ته په شاتګ مجبور شول، په دغه جنګ کې به د اکثرو زخمیانو انتقال هم شاکر تقبله الله او بل ملګري کاوه له لاندې به یې په شاه د دوایانو پیټي وتړل تر تمکینه به یې رسول.

او له بره به تیار ملګرو زخمي په خر باندې اول خط ته رانړدی کړی وو د رسیدو سره به یې سامان ملګرو ته وسپاره او دوی به بیرته زخمي په خپلو شاګانو دمه په دمه لاندې راکوزاوه.

او بیا به یې خپلو پټو سرې ملګرو ته سپاره چې هغوی به په ډیره سخته تداوې کاوه ، د اسلامي خلافت مجاهدینو چې کومې سختۍ او کړاونه ګاللي په بیانولو یې له

سترگو د اوښکو په ځای وینې ځي ، موږ سره له همغه پیله د ټولې نړۍ دښمني ده او له همغه پیله مو د هر طاغوت د مقابلې اعلان کړی ، زموږ تر شا د مرتد امارت په څېر د پاکستان طاغوتي نظام نه و چې زخمیان مو دې د حیات اباد او اسلام اباد په روغتونونو کې تاداوي شي بلکې زموږ زخمیانو به یا د سپین غر په واورینو لمنو کې د ډېرو زخمونو له امله کله د څېریو لاندې ساه ورکړه او کله به په ډېره سخته لاندې منطقو ته د شاکر په څېر د مخلصو ملگرو په مټ رسیدل او بیا به د ځینو پټو مخلصو مجاهدینو ډاکترانو جراحانو له لورې یې په پټ ځایونو کې په ډېرو سختو حالاتو کې تادواي کیدله چې ډېرې وخت به زخمیان او ورسره ملگري د امریکایانو او ددوئ د مرتدو افغان مزدورانو له لورې په چاپو کې شهیدان شول ، په هر صورت شاکر او ورسره ملگري یې دا ټولې سختې په پوره همت او میړانه وگاللې ، د وخت په تیریدو سره دغه منطقو باندې د افغان حکومت سره سخت جنگونه وشول دغه منطقې یې د امریکایي هوایي قوت او د پاڅونوالو په مټ پداسې حال کې ونیولې چې هر سنگر کې به د شهیدو زلمو سوځیدلي جسدونه او ماتې اسلحې پرتې وې چې د افغان مرتدینو په ملاتړ به ددوئ د بادارانو او امریکایي کفارو طیارو بمبار کړي و ، د شاکر هم نورپه خپله سیمه کې امنیت خراب شوی وو، حالات دومره راسخت او تراخه شول ،چې ورسره ورسره نور ملگري یې له دې ډاره چې په سیمه کې نور څوک ونه پیژني له جهاده کیناستل ، ځکه قومي پاڅونخیلو کور په کور ملگري لټول ، خو شاکر بیا هم خپل همت له لاسه ورنه کړ او نه یې په ارادو کې کوم بدلون راغی بلکې حالات به چې څومره سختیدل ، شاکر به د الله په فضل قوي کیده ، هوډ او ارادې به یې پیاوړې کیدې ، هغه وخت یې هم له جهاد څخه ناستې ته زړه خه نه کړ چې گیر چاپیره پرې د سختیو او کړاونو طوفان کړی راتنگه کړه ، بلکې دغه وخت یې د خدمت محاذ بدل کړ، د اکمال او انتقال پر ځای یې ښارې جگړې ته مخه کړه ، د خپل امنیت لپاره یې هماغه زړه توفانچه اوس هم گرځوله چې نوره له ډزه وتلې وه ، خو غربت وو او په الله کلک توکل وو، شاکر الله په رښتیا د الله یو شاکر بنده و، په هیڅ حال کې یې نه شکایت کاوه او نه هم له مشرانو څخه د څه شي غوښتلو په چل پوهیده ، بس ځانته یې یوه خپله دنیا وه ، دغه زړه تومانچه یې د ملگرو ترمنځ هم مشهوره وه چې اکثر ملگرو به پرې تنگاوه وایې یو وخت یې ویل راشه دا تومانچه خو چیک کړه چې کار کوي او که نه هسې دې پرې ځان دروند کړې دې او تل درسره وي ، وایې یو ځای کې یې چیک کوله کله یې چې بلوټ شاته کش کړ بیرته مخې ته نه تللو په ډېره سخته یې مخ ته یوړ ، بیا یې ډز نه کاوه ډز بلا پسې خو ویل مرمۍ یې د میل اخیري سر کې ونښته ترې راوتله نه، ملگرې وآیې له دې وروسته یې نو له تومانچې تمه پرې شوه ، بیا یې کیښوده نوره یې نه گرځوله، په دې جریان کې الله له څو چاپو روغ وویست ،په بله ورځ وربانديې پوره راپور تیر شوی وو او جاسوس سم ورپسې و، یوې بلې ساحې ته په سفر و، د رسیدو سره سم هلته د یو بل ملگري سره یو ځای ونیول شو، ولسوالۍ ته یې یوړ مرتدین ورته زیات غوسه وو، تقریبا د پنځوسو نه زیات راپورونه یې په خلاف ولسوالۍ کې جمع شوې وو ،هغه سره بل ملگری کیسه کوي چې ماسوختن وخت شو ډوډۍ یې موږ ته راوړه جدا ،جدا یې اچولي وو، خو اطاقونه مو مخامخ وو، ویل مرتد ورته وویل چې ډوډۍ وخوره وروسته به دې خوښ شم نو د شاکرالله حوصله دومره په ځای وه چې ورته یې کړه : ورشه بیا خو لږ سم خوراک راوړه په دې کار نکیږي، او مرتد ته یې کړه مړه ته ماته مالوم یې زه لاړشه خپل کار وکړه، ستاسې توره ما کتلې ، ملگری وایي دا مرتد بیرته راستون شو او په تعجبي انداز کې یې ورته وکتل او ورته یې کړه : ویل ډېر زړور یې.

شاکرالله ورته په فخر وویل : خود زړور یم ،چې بې گناه یم کوم جرم نلرم، ولې ما څه کړي پدې کم عمر؟زه دلته همدې لیسه کې درسونه وایم، مرتد روان شو رښتیا هم بیرته یې خواته رانغی. دلته له ډېرو وهلو ټکولو سره بیا هم دا په خپل جرم قانع نه شو، نو د ننگرهار امنیت له ریاسته ورپسې خلک راغلل او ننگرهار ته یې را انتقال کړ، خو ده په خپلو کړنو اعتراف ونه کړ، خو د کور جاسوس ورپسې وو نه یې غوښتل چې خوشې شي هماغه وو په پینځه نیم کاله حبس محکوم شو او د ننگرهار زندان ته یې انتقال کړ ، هلته یې هم د اخلاقو هم په دومره لوړ همت او حوصله او خوږو اخلاقو د خپل زندان موده تیروله چې ورسره زندانیانو ته یې نوې حوصلې ورکړې او دده له اخلاقو او حوصلو نورو زندانیانو حوصلې او انگیزه اخسته ، ، خو زندان کې د بل امتحان سره مخ شو ،ناروغ شو او دې مریضتیا یې شپږ میاشتې دوام پیدا کړ، چې دوه میاشتې مسلسل په روغتون کې بستر وو له جسماني پلوه پوره کمزوری شوی وو بل طرف ورسره کورنۍ مخالفه وه د بیرون نه یې د پوښتنې هیڅوک هم نه وو، د شپږ میاشتو نه پس یې لږې سترگې وغړولې ورځ تربلې ښه کیده الله ورته صحت ورکړ ،خو ورپسې د بل امتحان سره مخ شو چې دده د څنگ نږدې ملگری او د اطاق دوه کلن دوست احمدشاه مریض شو او وفات شو، بیا دغه ملگري دومره وردراوه چې مخکې یې دومره غم په کوم ملگري نه دی کړی زیات وخت به یې ورپسې ژړل او همدا به یې ویل چې الله مو دې ورسره په جنت کې یو ځای کړي د احمد شاه رحمه الله جنازه هم د ننگرهار له زندانه داسې حالات کې ووته چې لاسو ته یې زولنې پرتې وې، کله یې چې ورثه وو ته حواله کاوه نو زولنې یې ترې لیرې کړې.

خو دې غر او نر زلمي بیا هم خپل هوډ ونه بایله د شاکر الله د ژوند د کارنامو داسې تاریخ سازه صحنې شته چې بیا به یې چرته په تفصلي شکل بیان کړو چې ددې اوسنۍ لیکنې له برداشته بهر ده چې ټولې په دې لیکنه کې راټولې کړو .

هو! زموږ اوسنیو اتلانو هم د خپلو نیکانو سلفو تاریخ راژوندی کړ ننگرهار،پلچرخی، ریاست چهل او دباگرام په شمول له وحشي زندانونو زموږ د اتلو ورونو او د گلالیو ماشومانو جنازې ووتلې خو له خپلو عظمونو او هوډونو یې ستانه نه کړل او نه یې له خپل مسیره کاږه کړل ، ، ددې نوم ورکو مجاهدینو په کارنامو د تاریخ بابونه ډکیږي او دوی هم خپلې کارنامې د تاریخ په زرینو پاڼو کې ورځاې کړې ، زموږ دمهاجرو خویندو د غیرې تنکي بچي هم په نامالومه هدیرو کې ښخ شول.

زموږ د زخمي خویندو اندامونه په زندان کې قطعه شوي، بچو یې د زندان په یخو خونو کې بې درملو او بې خوړو ددوئ په مخکې د ژوند اخري سلگۍ وهلي په داسې حال کې چې خاوندان یې هم د نامالومو زندانونو په خونو کې د یوازیتوب په تیارو کې پراته و ، او دا لړۍ لا هم جریان لري د تیر جمهوریت له مرتدینو دا میراث اوس د امارت مرتدینو ته پاتې دي او دوئ په وحشتونو ي د هغوئ ریکارډ مات کړ ، خو زموږ ددغه باعظمه خویندو په حوصلو او میړانه کې کوم تغیر رانغې بلکې په زندانونو کې تر شاه د صبر او ثبات څلي جوړ کړل ،زموږ هغه خور چې کابل کې په یوه چاپه کې په داسې حالت کې اسیره شوه چې د خاوند له شهادت وروسته یې د افغان مرتدینو سره په ساعتونو جگړه په ځانله تن وکړه ، هغه په یوه پښه ولگیده زخمي شوه، زخم یې عادي وو خو مرتدینو ترې قصداً پښه قطعه کړه او هغه یې معیوبه کړه پدې هم مرتدینو صبر ونکړ ورپسې یې طاغوتي محکمه کې وربانديې فیصله وکړه او دیرش کاله قید باندې محکومه شوه.

هو! دغه خورکۍ د لیرې ځای مهاجره خدیجه حفظها الله نومیږي چې په زندان کې د صبر او ثبات د اُستاذې په نوم یادیده خپلو بندي

خویندو ته یې همیش د صبر کیسې کولې، د دې خور یوه لس کلنه لور هم په مخامخ جګړه کې د خپل پلار سره شهیده شوه او خپله په زخمي حالت کې د دوه نورو لورګانو او یو زوی سره زندان ته لاړه هغه لور یې هم په غیږ کې وه چې تازه درې ورځې یې د ولادت کیدې په زندان د نورو امتحاناتو تر څنګ یې د زړه ټوټه (زوی) زید هم له لاسه ورکړ او مرتدینو د یو جراحي عملیاتو په ترڅ کې په قصدي ډول وواژه چې ددغه زوی یاد به خدیجه خورکۍ زیاته زوروله.

خدیجه زموږ د سلګونو زنداني خویندو د حوصلو یوه بیلګه ده ، او موږ سره د تیر مرتد جمهوریت د وحشتونو ترخې صحنې یوه یوه د خپل ذهن په کتابچو کې ثبت دي ، دوی دې فکر نه کوي چې د امارت مرتدو ورونو یې ورته عفوه وکړه او ددوی په وحشتونو کې امارتي ورونه یې هم ورشریک شول ، بلکې تاسې سره زموږ ډیر دروند حساب پاتې دی که د الله دین ته غاړه کینږدئ نو داسې مرګ مو باذن الله په انتظار دی چې په تصور به یې تاسې مړه یاست .

په زندانونو کې د همدغه وحشتونو اوج و چې د اسلامي خلافت مشران هم د مرتدینو دغه ټولو منحوسو کړنو ته ځیر وو او ټول یې د انتقام تر عنوان لاندې له ځان سره په جلدونو جلدونو کتاب کې دا کړنې ثبت کړي او لا ثبتیږي او هیڅوک به بې حسابه پاتې نشي ان شآءالله.

نو د شاکرالله هم دوه کاله د ننګرهار په زندان کې پوره شوې و، د وخت اتل زړور غازي دکتور شهاب المهاجر هم نور ضرور وګڼله چې د زندان اوسپنیزې دروازې ورماتې کړي ، د الله عزوجل په فضل یې په داسې حالاتو کې چې مرتدینو د اسلامي خلافت د تمکین د له منځه تللو جشنونه نمانځل ، د صلیبي نړۍ سر سخته دښمن د روافضو قصاب ، امارتي مشرکینو ته د هیبت ویرې او ډار یو خونړی نوم شهاب مهاجر د الله په فضل په دې وتوانیده چې د خپله یوه انغماسي ډلګۍ د ننګرهار د زندان تر دروازو ورسوله ماښام وخت وو چې د موټربم د برید سره د زندان په ودانۍ کې دننه یو انقلاب راپورته شو ،یو ډار او هیبت خور شو، یوه شور ګډ شو، برقونه قطعه شول او انغماسیانو کانګریټي دیوالونه ور سوري کړلو تر زندانه ورسیدل ،د مرتدینو په مردارو جسدونو یې پښې کیښودې او تور بیرغونه یې د زندان په اوچتو ټاورونو رپاند کړل، شاکرالله وویل موږ غوښتل د انغماسیانو سره کومک وکړو ویل یې یوانغماسي زمری نږدې راغی راغږ یې کړ : د خلافت والا یې؟مال هو! ویل وځئ کنه څه ته انتظار یاستئ ؟

هغه طرف دروازه موټربم ختمه کړې، موږ د دې طرفه جنګ کوو تاسو ځئ وځئ.

ویل ما ورته وویل: موږ څه کومک تاسې سره وکړو؟

ویل فدایي راغږ کړ تاسې کورونو ته لاړ شئ او موږ به جنتونو ته!

شاکرالله د خپل لیدلو سترګو حال راته بیانوه کیسه کوله چې کله فدایان راغلل یاسر مولوی صیب ورسره شو او په ټوله ودانۍ یې وګرځول او هلته ورسره پاتې شو موږ ټول ووتلو خو طالبان زیات ورخطا وو ،کله چې په دروازه مخکې شوم نو مخه مو دغه نورو مرتدینو ضربه کړه ، خو کله چې جنګ تیز شو مرتدین وتښتیدل موږ بیرون ووتلو خو ښار کې چا د شپې ځای نه راکاوه ، ښار کلابند شو او عوامو موږ د ډانګونو په زور له کورونو ویستلو، زیات ملګري الله روغ وویستل ،خو موږ تقدیر کې به لیکلې وه، زه بیا ونیول شوم، د ننګرهار محبس نه خو لا همغسې لوګي پورته کیدل نو موږ یې قومندانۍ ته یوړو او له څو ورځو وروسته یې دکابل لوی زندان پلچرخي ته انتقال کړو . دلته

هم د تالب مشرکینو سره واوښتو همیش به مو ورته په بده چړې ګرځولې، خو لږه موده وروسته د ملګرو بلاک ته نقل شوم ،هلته زموږ د زندان ورځې شپې ډیرې خایسته تیریدې د مختلف هیوادونو مجاهدین مې ولیدل له ډیرو حالاتو خبر شوم،

شاکرالله ویل زما لا دلته کال پوره نه وو دلته چې الله حالات یو ځل بیا واړول ، د تالبانو د تسلیمۍ په بدل کې چې کله د افغانستان واک دوی ته سپارل کیده ،نو الله زندانونه هم ورسره مات کړل، خو موږ چې له پلچرخي وتلو افغان حکومت اسلحې او مهمات تالب بندیانو ته حواله کړل ،زموږ په سر یې پهرداران کړل موږ په دغه شپه د جنګ پلان وتاړه ،چې دوی سره بغیر له جنګ نه کیږي ملګري ټول غیر مسلح وو، د شاکرالله یو بل نږدې ملګری کیسه غزوي او وایي چې: کله سهار شو مشرانو بندیو ملګرو ته مو ترتیب جوړ کړ په یو دیوال ازغن سیم خپور وو، په هغې مو کمبلې واچولې هغوی مو پرې واړول موږ جنګ ته ځان تیار کړ همداسې غیر مسلح مخامخ په ټاورو ورغلو ، تالب مشرکینو په موږ ډزې پیل کړې زموږ ځینې ملګري زخمیان شول، خو بیا هم د ور رسیدو سره تالبان مسلح وتښتیدل یو یې پیکا خطا کړه شاکرالله منډه کړه، پیکا ته یې لاس کړ او ټاور ته پورته شو خو د جنګ اړتیا نوره نه لیدل کیده زموږ خویندې او ورونه ټول ووتل د کابل ښارې مجاهدین مسلح رارسیدلي وو ،هغوی د ملګرو او خویندو ترتیب جوړاوه شاکر بیرون راووت اخوا دیخوا یې وکتل خو مرتدین تللي وو، د پیکا وړلو چانس نه وو ،نو یو کس ته یې ورکړه چې دا امانت شکل سره وساته، خو بیا هغه کس تري ځان ورک کړ او پیکا ورسره پاتې شوه.

شاکر د درې کاله زندانه پس خپل کور ته لاړ د پنځه ورځو تیرولو نه پس بیا په کور کینه ناست او بیا یې جهاد ته مخه کړه له کوره ووت مور پلار کورنۍ ته یې شاه کړه امیر ورته امر وکړ چې فلانۍ منطقې ته لاړ شه ،هغه هم هلته لاړ ، شاکرالله په خپل ولایت او منطقه کې زیات بدنام وو، په خپل کلي ولس کې ترې هم د زیاتو مرتدینو سترګه سوځیده، شاکرالله مجبور شو یو بل ولایت ته یې هجرت وکړ، دغه ځوان هلته هم پوره خدمت وکړ او الله یې په لاس زیات کارونه وکړل چې د هغه بیانول مناسب نه بولم، د یو اوږد سفر وروسته زه هم د دوی ملګری شوم زیات وخت مو یو ځای تیر کړ خپلو مسؤلینو بیا وغوښت شاکر الله بل ولایت ته لاړ ته لاړ د یو ملګري سره اوسیده د الله لخوا لیکل شوې وه ، هلته وربانديې چاپه راغله نورو ملګرو جنګ وکړ خو شاکر غیر مسلح وو ،د وتلو هڅه یې وکړه الله کامیاب کړ او د تالب ملیشو له چاپې هم روغ ووت ملګرو فکر کاوه شاکرالله شهید دی او جسد یې په فلاني ځای کې پروت دی، ماسپښین وخت وو د رابطې ځای ته لاړم بل ملګری هم راسره وو چې نیت مې خلاص کړ ، اول د ملګرو میسجونه راغلل او د شاکر له مرګه یې خبر کړم، ما لا ملګرو ته جواب نه وو ورکړی، چې همدغه وخت له یو ناشنا ادرسه لیکلي میسجونه او ورسره وایس خبرې راغلې چې مې پلې کړې شاکر وو، تعجب مې وکړ او زیات خوشحاله شوم، ورته مې کړه : د الله بنده ستا د مرګ خبر خو هره خوا تللي دی، هغه وخندل او خپله کیسه یې تیره کړه ما بیرته ملګرو ته میسج وکړ ،ورته مې کړه : شاکرالله ژوندی دی الحمدلله هغه د یو ملګري ځای ته وتلی خپل مبایل یې د چاپې په دوران کې مات کړی او ماته یې د ملګري په ادرس رابطه وکړه، ملګري زیات خوشحاله شول، یو ملګري وویل که شاکر مې خواته روغ ورسیږي او پوهه شم چې روغ دی نیول شوی نه دی نو تاته به پوره زیری درکوم، د شاکر رابطه مو له ملګرو سره روغه کړه ناوخته وو ،موږ د رابطې له ځایه لاړو، څو ورځې وروسته مې ملګري ته کړل: رابطې ته ځو چې د حالاتو څخه ځان خبر کړو لاړو ملګري میسجې کړې وې ، شاکرالله د ملګري لخوا نه بل ځای ته انتقالیده، خو مرتدینو په لاره کې وپیژانده لاس یې وربانديې کیښود زه ترې وتښتیدلم خو هغوی په شاکر راټول شول پکې ورک شو، نو هغه اسیر شو تاسو ورسره رابطه ونکړئ، ملګري کړل زما مبایل هم د شاکر سره پاتې دی زما مخکنی ادرس له هغه سره دی نو تاسو ورسره رابطه

ونکړئ،
موږ هم سخت خفه شو، د شاکر بخت ته فکر یوړو ،چې بس پرون مو وربانديې څومره خوشالي وکړه د شهادت خبر يې راغی، بيا يې د اسارت خبر راغی الله ساتلی وو ، او اوس يې بيا دا دی د اسارت خبر راغی ،بس الله دې ورسره خاص مدد وکړي، دې زلمي خو د الله عزوجل د نظام د قيام په لاره کې نهايت سختې وګاللې ، زما بل ملګری رابطې ته ناست وو چې د شاکر څو پرلا پسې په منډه، منډه کې ميسجې راغلې له اوريدو مخکې ملګري وويل: اخ شاکر صوتي ميسجې وکړې!!! ميسجې چې مو واوريدې شاکر ويلي وو زه نيول شوی يم ،دوی سره موټر کې يم څوک مې خواته اوس في الحال نشته ،ماته نورې ميسجې ونکړئ، وريسې ميسجې د شاکر لخوا پاکې شوې،د شاکر دې عزم او همت ته حيران شو ، چې په څومره سختو حالاتو کې دې خو بيا هم ورسره د ځان غم نه شته د ملګرو د نيول کيدو ويره ورسره ده ، ځکه چې طالب مرتدين اوس کله کوم ملګرې ونيسي نو د همغې له مبايل څخه بيا نورو ملګرو سره په همغه طرز رابطې کوي او هغوی يو ځای ته غواړي يا يې په يوه بهانه تير باسي او نور ملګري پرې هم اسيران کوي ، نو دلته دا يادونه هم اړينه بولم چې بايد مجاهدين ملګري دير زيرکه واوسي ټولو ملګرو سره خپل ځانګړې څو ډوله شفرونه ولري او د خپلو ملګرو څخه په پوره توګه اګا واوسي ، په پټه د ملګرو سره له ملاقاتونو څخه ډډه وکړي او په هره لويه او وړه خبره کې مشران ملګري او خپل اميران جريان کې کړي ټل اطاعت وکړي له پټ کاری او بې غوری ځان وساتي ځکه چې دا په تجربه ثابته شوې چې کله کومو ملګرو لږه بې اطاعتي کړې د خپل خواهش پسې تللي نو الله په سخت امتحان کې اچولي ، نو په هر صورت خبره مې د شاکرالله کوله ، چې په داسې حالاتو کې هم حوصله په ځای وه او د نورو د اسارت څخه د نورو ملګرو د بچ کيدو غم ورسره و ځکه يې نو موږ ته په وخت د ځان په اړه خبر راکړ ، د شاکرالله خبرو ډير خفه کړو ، بل ملګري ته مو رابطه وکړه ورته مو وويل : شاکرالله ، نيول شوی نوره ورسره رابطه ونه کړئ، هغې وويل هو پوهه يم ،خو ما شاکر ته ميسج وکړ چې ملاقات کوو هغه وويل سمده درځم نو زه مسلح راوتلی يم او يو طرف تلی يم ساحه څارم چې که شاکر په ماپسې راولي او الله کول جنګ وربانديې وکړم ، نو شاکر به ازاد شي او يا به شهيد شي، ما د ملګري قربانۍ ته تعجب وکړ، چې ګوره ښه خبر دی ملګری نيول شوی خو بيا هم د هغې د نجات په فکر ځان دومره خطر ته ورکوي، ملګري ته مو ډيرې خبرې وکړې شاکرالله خو لاړ اوس ته لاړنه شې والکه احتياط کوه خپل امير سره مشوره وکړ، موږ باندې هم نور ناوخته وو لاړو خو مرتدين هم پوهه شوي وو چې دا کس موږ ته دلته خطر دی او اعتراف هم نه کوي نور ملګري هم په لاس نه راکوي.

موږ څو ورځې رابطې ته نه وو تللي ، په بله ورځ چې لاړو ملګري د چا عکسونه راليږلي وو، وربانديې شکي شوم، مال دا شهيد څوک دی؟ ويل شاکرالله تقبله الله دی کنه ودې نه پيژنده؟

مال وربانديې شکي شوم خو زما هيڅ باور نه کيږي چې هغه دې شهيد وي، انا لله وانا اليه راجعون مې وويله او ددې هغه مخکني بنډارونه، ناسته ولاړه ټوله مې مخې ،مخې ته کيده.

ملګري ته مې کړل څنګه يې شهيد کړی معلومات خو نشته درته؟ هغه ويل اول يې شهيد کړی بيا يې سيند ته غورځولی وو ،لعل پورې ولسوالۍ کې خلکو ليدلی وو ،بيا يې غاړې ته کړی وو، چې دا څوک دی ،ويل نږدې د يوې پوستې والا تالبان يې خواته راغلل چې يو پکې د شاکر الله کوم امارتي خپلوان هم وو ، نو هغه خپلوان يې کورنۍ ته عکسونه ليږلي وو چې دا خو شاخالد نه دی؟ هغوی ويل نه هغه تلی ايران کې دی او زموږ ورسره رابطه نشته ، خو چې جسد يې ښه وچ وو، بيا يې صحي پيژندلی وو، چې هو دا شاه خالد تقبله الله دی، نو بيا يې کورنۍ کورته راوړی وو دا ليکنه مې داسې وخت کې وکړه چې پرون مازديګر يې جنازه وه او ښخ يې کړ.

طالب مليشو په وحشت او درنده توب کې له خپلو امريکآيي بادارانو هم پښه وراړولې ده ، په چاپو کې چې کله زموږ معصومې تور سرې او کوچنې ماشومان په بې رحمۍ ووژني نو باقې چې کوم په زخمي حال کې اسير کړي نو بيا ورسره زندانونو کې هغه وحشي چلند کوي چې د بشر په تاريخ کې يې سارى نه شته . دوی څه فکر کوي زموږ د زنانه و بنديانول او بيا ورسره داسې وحشي چلند ترسره کول به کوم حساب ونه لري ايا موږ داسې نه شو کولای چې ستاسې بچي ووژنو او ستاسې زنانه همداسې اسيرانې کړو .

موږ چې ستاسې پر امنه ساحو ته خپل استشهاديان د الله په مرسته رسولای شو ، نو ستاسې بې دفاع کورونو ته مو هم لاس رسی ډير اسانه دی خو نه ، موږ د ماشومانو له وژلو او د زنانه و له ربړونې او بې عزتۍ څخه خپل مقدس دينن اسلام منعه کړې يو ګنې تاسې به يې مزه څکلې وای ، په هر صورت ددې هرې کړنې حساب يې همدا تاسې سره لازمي کوو ان شاء الله موږ هم منتظر يو او تاسې هم انتظار وکړئ .

لنډه دا چې شاکرالله چې خپل نوم يې شاخالد و د اچين ولسوالۍ اوسيدونکې و، د خايسته اخلاقو يو نمونه وه ، د اسلامي نظام د قيام په ارمان يې داسې سختۍ او کړاونه وګالل چې په داسې کم عمر کې به يې د ډيرو زلمو څخه څوک تمه ونه لري ، اخر هم په د جهاد په دغه سخته اغزنه لار دا له پيچومو او ګړليچونو په ډکه لار په خپله تنکۍ ځواني کې په تندکونو، تندکونو د شهادت تر درشله ورسيد، د انتقام پور دې راباندې دې زمريه .

لنډه کیسه

څه خوږه ملګري وو څه خوږه وختونه وو

په خراسان کې د خلافت د اعلان لمړی کال و، له مدرسې څخه څو کرته د تمکین مقدسې خاورې تللی وم، خو لا پوخ هجرت مې نه وو کړی ،ملګرو به مشورې راکولې چې علم سرته ورسوه د خلافت صف له تا چا وړی نه دی، خو بیا به هم طاغوت کې زما صبرنه کیده، حالات به هم سم مساعد نه وو له کوره چې مو کومه خرچه د مدرسې لپاره پلار راکوله ،نو هغې هم د مدرسې او هم د تمکین ته د تلو لپاره کفایت نه کاوه او بل لوري ته را باندې کورنۍ هم زوروره وه چې علم وکړه، د خلافت د اعلان سره ما بیا د کورنۍ غوښتنو ته شاه کړه ذهن مې نوی بدلون موندلی و، د بیعت لپاره هم له مدرسې پټ تللی وم چې نه راباندې استاذان خبر وو او نه را باندې کورنۍ، د خراسان په اولنیو جنګونو کې مې هم هغه وخت برخه اخیستې وه چې ډیری خلکو د خلافت په هکله تحقیق کاوه او چا به لا دا هم ویل چې طالبانو سره دا خلک په کوم دلیل جنګ کوي؟.

له یو تشکیل څخه چې مدرسې ته او بیا کور ته لاړم نو د مدرسې استاذان راباندې شکي شوي وو او ځینې ملګري هم شکیان وو، خو په خولو یې لاسونه ایخي وو، بالاخره زما همدا درسي کال څو میاشتې پس سرته ورسیده او راتلونکي کال درسونه د شوال په میاشت کې شروع کیدل، جلال اباد ته لاړم چې په یوه مدرسه کې داخله واخلم خو زیاتو مدرسینو موږ ته داخله نه راکوله له ډیرو ګرځیدو وروسته په یوه نوې جوړه شوې مدرسه وربرابر شوم او دا داسې مدرسه وه چې هیڅ د پیژندنې مې په کې څوک نه درلودل ، زړه مې زیات تنګ و، د غر او سنګر کیسو والا څوک راسره دلته نه و،مدرسه کې مې لومړې ورځې وې ،زړه مې همغه د سپین غر ناونه اوځنګلونه غوښتل ،یوه ورځ د څه کار له خاطره بهر ته تللې وم ، چې ماسپخین د مدرسې په وره ورننوتم ،نو اول نظر مې په یو داسې کس ولګیده چې ما او هغه په یو سنګر کې ډیری سړې او تودې شپې ورځې تیرې کړې وی او ډیر خوږه دوستان ګرځیدلي وو، په لیدو یې زیات خوشحاله شوم، چې ورننږدې شوم نو هغه هم زما په لیدو حیران لاړ زه یې وپیژندم او سره غاړې وتو، او زیات خوږ او تود روغبړ مو وکړ، زما دا د سنګرونو لیونۍ هم په ډیرو مدرسو ګرځیدلی و، چا داخله نه وه ورکړې، یواځې د همدې مدرسې مهتمم ځای ورکړی و، مهتمم هم پیژنده، خو چې زه مهتمم د دې ملګري سره په تود هرکلي ولیدم ، نو سمدستي پوهه شوې و چې زه هم دې ګرمو لیونو کې ګوتې وهم ، نو بیا د جدي نظر لاندې یې ساتلم.

زموږ درسي کال پیل شو او همدا ملګری مې همصنفي وخوت ، درسونه ښه په درز کې روان وو، د مدرسې نظم ډیر خوندور وو، که څه هم د مدرسې افتتاح تازه شوې

وه ، نـو د درسـونو په لحاظ ډېره جوړه وه او اسـتاذان يـې هـم لـه اخلاصه ډک خلـک وو، کلـه چـې د ذوالحجې مياشت داخلـه شـوه نـو ملګـري سره مـې مشـوره وکـړه چـې خـبر شـوی يـم پنځلس ورځـې رخصتـي راکـوي شـو څنګـه دې خوښـه ده چـې د کـور پـه ځـای چـې بـره لاړ شـو ؟

ملګري مـې کـړل: راپنجـه شـه د اللـه ولي زمـا خـو همداسـې کـس پـکار دی کنـه بلـکل صحيـح ده.

مـال داسـې بـه وکـړو چـې ملګـري هم او اسـتاذان هـم پوهـه نـه شي ،ګنـې د دې مدرسـې نـه بـه مـو هـم وشـړي تاتـه خـو پتـه ده هيڅـوک مدرسـو کـې مـوږ نـه پرېـږدي ، زمـوږ ځـای هـر چرتـه ورک دی ، څـو ورځـې مخکـې ملګـري زنـګ را وهلـی وو ويلـي چـې د شـيخ جـلال ورونـه جـلال ابـاد هغـه مشـهورې مدرسـې تـه چـې ځانونـو تـه يـې خالـص موحديـن ويـل هغـوئ هـم نـه و پريښـې ،هغـه مهتمـم يـې ويـل د دوی ورور بـره تلـی دی، د دې لـه وجـې زمـوږ مدرسـه بدناميـږي، اوس نـو داسـې حـال دې چـې پـه ايمـان ، جهـاد او مجاهـد خلـک ځـان بدنـام ګڼـي ، سـبحان اللـه دا خلـک بـه اللـه ذليلـه کـوي .

ملګري مـې راتـه کـړه : خـه دې زړه ډک دی خـه بـس اوس دا کېـسې پرېږده راتلونکـې د رخصتـۍ پـلان وايـه څـه کـول پـه کار دي ؟

جـواب مـې ورکـړ: وروره بـس کلـه چـې رخصتـۍ ورځ راغلـه نـو د کـور پـه نـوم بـه مخـه خـه واخلـو او بيـا راڅخـه خـبره د مدرسـو پسـې لاړه ورتـه مـې کـړل : مـړه قسـم دی چـې هغـه ....او...... او.... مدرسـو والا داخلـه رانکـړه سـم مـې زړه ورتـه راتنـګ دی، دوئ هـم ځانونـو تـه موحديـن وايـي او کلـه ، کلـه خـو د جهـاد دعـوې هـم کـوي ، تـه بـه وايـې چـې ديـن يواځـې د مدرسـو پـه ديوالونـو پـورې محـدود دی، خـو اللـه بندګانـو يـو مجاهـد تـه داخلـه ورکـړئ چـې حـد اقـل هغـه د شـپې ځـای خـو يـې پيـدا شي ،خـو بـس پرېـږده يـې مـړه، زمـا يـو اسـتاذ بـه يـوه خـبره کولـه چـې: سـين شـين زړه مـې شـين شـين.

زمـوږ هـم لـه دې ټولـو زړه شـين شـين دی پـه اوږه مـې ټـپ ورکـړ، بـس دا خـبره پـه همدې ځـای وسـاته ، چـې ګـوره داسـې حـال دی .

پـه درسـونو کـې مـو زياتـه خـواري کولـه ،ځينـې اسـتاذانو بـه مـوږ بانـدې د درسـونو زياتـه پابنـدي کولـه، خـو مـوږ هـم نـا راسـتي نـه کولـه، کلـه چـې د رخصتـۍ ورځ شـوه مـا هـم کالي او کتابونـه د اداري پـه المـارئ کـې پټ کيښـودل او يـو جـوړه کالي مـې لـه ځـان سره واخيسـتل ملګـري تـه مـې اشاره وکـړه دېخـوا تـه راشـه! هغـه ويـل مـا اضافـي سـامان ورور تـه ورکـړ او ورتـه مـې وويـل چـې تاسـو ځـئ ، زه چرتـه پـه چکـر ځـم بيـا درځـم، هغـوی مـې رخصـت کـړل.

مـال خـه دې وکـړه بـس تـوکل پـه اللـه ، ماتـه يـوه لاره معلومـه ده او عـادي ترتيب بانـدې بـه لاړ شـو ، خـه پوهيـږې چـې زمـا او سـتا د جيبونـو يـو حـال دی ، زه بـه دې پـه يـوه غريبانـه لار تـر تمکينـه د اللـه پـه مرسـته ورسـوم ،پـه جيـب مـې لاس وواهـه فقـط پنځـه سـوه کالـداري راسره وې، ملګـري مـې هـم را سره ومنلـه، لـه اسـتاذانو مـو رخصـت واخيسـت او لـه مدرسـې راووتـو سرک تـه وختلـو ، دلـږ ځنـډ وروسـته مـې يـوې ټيکسـي تـه لاس ور کـړ ورتـه وختلـو، تـر ښـاره يـې ورسـولو بغير لـه ځنـډه مـو بلـې هـډې تـه حرکـت وکـړ، ماسپښـين وخـت نـږدې و، خـوراک تـه مـو هـم سـمه اشـتهاء شـوې وه خـو بـس د غريبـۍ دې رنګ ورک شي پـه دواړو مـو دومـره پيسـې درلـودې چـې پـه سـخته پـرې تـر تمکينـه رسـيدلې شـو ، بلـې هـډې تـه لا مـزل وو خـو مـوږ سره خرچـه کمـه وه چـې د اوږد سـفر چـاره وربانـدې وکـړو، نـو ملګـري تـه مـې وويـل پيـدل ګـير بـه ولګـوو ،چـې تـر بلـې هـډې دا پيسـې سـپما کـړو ، خـه ځنـډ وروسـته هـډې تـه ورسـيدو ، چـې موږ ورسـيدو ښـه وو موټـر کـې تيـار دوه کسـه کـم وو ، پاريـک هماغـه موټـر تـه پورتـه شـو، د جلال اباد د محبـس نـه تيـر شـو، ميـدان هوايـي نـه هـم ورتيـر شـو شـاتـه مـو منطقـې ځـان پسـې شـمارلې ، تـر دې چـې د بټـې کـوټ د زيتونـو پـه باغونـو ورننوتـو او ماركـو تـه تـرې ووتلـو، د رب احسـان وو تـر دغـه ځايـه روغ ورسـيدلو او بيـا غنـي خيلـو تـه پـه غځيدلي تـاو راتـاو سرک ور برابرمـخ پـه شـينوارو ور روان شـو ، هلتـه زه زيـات بلـد وم کلـه چـې خطـري سـيمې تـه نـږدې شـو، نـو لـه موټـره پيـدل شـو، ځـان سره راخيسـتې ګنـډې مـو لاسـونو کـې کلکـې نيولـې وې ، پـه تنګـو کوڅـو کـې لکـه د بلـدې خلکـو روان وو، دا هغـه وخـت وو چـې لا دشـمن زيـات متوجـې نـه وو، د همدغـې ورځـې مازيګـر وو چـې د تـور سرک نـه خـړو دښـتو تـه ورپورتـه شـو څـو ساعته پـرلا پسـې مـزل نـه وروسـته مـو د زيـات سـتړي شـو ، وړې خـو هسـې هـم و ، لا مـو تـر مخـه اوږد سـفر پـروت و، څـو سـاعته وروسـته مـوږ د افغـان مرتدينـو د امنيتـي پوسـتو څخـه هـم تير شـو او د تمکيـن مبارکـه خـاوره پـه شروع کيـدو شـوه، دغـه وخـت مـو هيـڅ ملګـري سره تمـاس نـه درلـود او خـه پاده تمکيـن تـه ورپورتـه شـو، کلـه چې د خپلـو مجاهدينـو ورونـو اولنـي چيک پوائنـټ تـه ورسـيدو، نـو زمـوږ پـه مخونـو کـې خوشـحالي لـه ورايـه ځليـده، پهـردار مجاهـد چـې زمـوږ تالاشـۍ تـه ځـان راجـوړاوه نـو مـوږ ورسره غـاړې غـاړې شـو د ونـې لانـدې يـو بوټـي تـه مـو سـاه واخيسـته، تمکيـن تـه د روغ جـوړ رسـيدو لـه املـه مـو ولـږه هـم ختمـه شـوه تـا بـه ويـل چـې د تمکيـن مالـک زه يـم دومـره بـه انسـان بادشـاه مالوميـده، د ملګـرو سره مـو پـوره بنـدار وکـړ او د لارې درک مـو تـرې واخيسـت، کـه څـه هـم دا د تالاشـۍ والا مجاهديـن مـوږ نه پيژنـدل خـو مـوږ تـه دې داسـې خوږه مينـه راکـړه چـې زيـات يـې حـيران کـړو ، ملګـرو ډيـر سـت وکـړ چـې مـوږ سره پاتـې شـئ ، خـو مـوږ تـه مخکـې لا نـور مـزل پـروت و، مخـه خـه مـو تـرې واخيسـته ، د وچ بانـدر پرلـور مـو حرکـت وکـړ، خـو څـه بـه مـو سر خـوړوم ماښـام نـږدې وو چـې عـدل خيلـو تـه ورسـيدو، لومـړنې وختونـه و لا کتيبـې فعالـې نـه وې او نـه هـم د ورسـتيو پـه څـير نظـم و ، پـه مختلفـو سـيمو کـې د مختلفـو منطقـو د مجاهدينـو مرکزونـه و، د کونـړو پـه نـوم مرکـز تـه ورغلـو، لـه لـوږې مـو نـوري سـترګې تـوري تـوري کيـدې، د ډوډئ وخـت نـه و ، مـوږ دا جـرآت ونـه کـړ چـې د مرکـز لـه ملګـرو ډوډئ وغـواړو او هغـوی داسـې فکـر وکـړ چـې لـه نيـږدې کوم مرکـز څخـه بـه راغلـي وي ، نـه مـوږ څـوک پيژنـدل او نـه مـوږ چـا پيژنـدو ، د ماذيګـر لمونځونـه مـو وکـړل ، ټولـه ورځ مـو مـزل کـړی و، بنـد پـه بنـد مـات رامـات و ، د ماسـختن ډوډئ هم را تيـاره شـوه، بـس د مجاهدينـو خـوراک بـه څـه شـی وي غريبانـه خـوراک او لـه سـاده ګـی او اخـلاص نـه ډک ژونـد و او بـس، دا نـو هغـه وخـت وو چـې ملګـري اکـثر مجـرد وو لا زياتـو کورنيـو تمکيـن تـه هجرتونـه نـه و کـړي ، ملګـرو بـه پـه تنـاره ډوډئ پخولـې هغـه بـه هـم څـه وسـوځيدې او څـه بـه وڅځيـدې، کـړې وړې پـخ کـړې څـو ډوډئ يـې زمـوږ مخـې تـه راوړانـدې کـړې او ترکـاري هـم بـل څـه نـه و، د لوبيـا پـه نـوم خـړې اوبـه يي رامـخ تـه کـړې چـې پـه سـخته پـه کـې د لوبيـا يـوه دانـه نيمـه هـم تـر سـترګو کيـده ، مـوږ نـو ورتـه سـم وږي و هغـې لوبيـاو چـې کـوم خونـد کـړې نـو د طاغـوت پـه ونـده د ځـرب شـويو مليشـو د دوځـې پـه هوټلونـو کـې بـه يـې هـم ونـه مومـي ، مجاهديـن چـې د رب شـکر ګـذاره

بندګان دي نو ټولو په خوشحالۍ خوراک وکړ، موږ هم ځانونه ماړه کړل، د ملګرو سره مو ډېرې کېسې وکړې، تالبانو ملیشو سره د لومړیو جنګونو نادرې کېسې مو له ملګرو واورېدې، مولوي صاحب عادل چې د دغو ملګرو مشر و، یو عجیبه د خایسته اخلاقو څښتن یو متوسط لنډ قد خاوند انسان و، خاکساري یې لا حیرانونکې وه، پهره یې تقسیم کړه، زموږ نومونه یې لیست کې ونه لیکل، ویل یې دوی میلمانه او ستړي دي، ملګري تقسیم شو دهشکې ته رضوان بابا لاړ ویل چې نن به زه دهشکې سره پاتې شم، موږ هم په خواږه خوب ویده شو سهار مو بیا په ځانونو ګوتې ووهلې او غوښتل مو چې مامند ته لاړ شو د دغې ورځې په نیمایي کې مو سفر بیا پیل کړ، مامند کې زما زیات ملګري و یو سنګر کې موږ سره پاتې شوي و، مازدیګر قضا وخت و چې مامند ته ورسیدو، داسې وخت و چې له څو ورځو راهیسې په کوټ کې جنګ روان و، اختر ته لا لس ورځې پاتې وې، د خلافت په سنګرونو کې د مدرسې د طالبانو زیات قدر کیده خصوصاً هغه ملګري چې هغوی به تازه مهاجر شوي وو، د حافظ صیب د نایب څنګ ته یو ملګري ورسولو او ډاریک مو ورته د کوټ جنګ ته د تلو پیشنهاد وکړ اسلحه مو وغوښته، موږ ته یې د تلو اجازه راکړه خو بس خلافت چې د غرباؤ کور دی نو اسلحې هم کمې وې ملګرو ته نه رسیدلی عجیب او غریب حالات وو، موجوده اسلحه ټوله تقسیم شوې وه له یوه خوا ګورګورۍ طرف د طالبانو سره تاوده جنګونه روان وو، بل طرف افغان مرتدینو هم د کوټ په سیمه پراخه علمیات شروع کړي وو، اخر امیر صیب موږ ته وویل بس توکل په الله تش لاس حرکت وکړئ اول خط ته ځانونه ورسوئ شاهین امیر صیب به درته هلته د اسلحو ترتیب وکړي، موږ همدغه ورځ د کوټ په طرف حرکت وکړ اسدخیلو باندې واوختو سنجۍ چړایي مو ووهله او د وچ کوټ سیمه شروع شوه خو دا هم زیات ستړې کوونکی سفر وو تر الیاس بابا نومې زیارت یوه ساحه وه هلته چې رسیدو نور نو شپې خپل تور پړونی د ورځې په مخ راخپور کړی وو، خو موږ یواځې نه وو یوه ډله نو مجاهدین هم کوټ ته روان وو د خط له ملګرو سره یې رابطه وشوه هغوی خبر شو چې موږ ته تازه دمې ملګري را روان دي، زیات خوشحاله وو، موږ ستانه دارو ته ښکته شو او د لاغرجو په لور مو مخه کړه د سراي بازار نه تیر شو پاخه سرک ته مو ځانونه ورسول نور تیر ماسختن وو هیڅ د خوراک او څښاک کوم درک نه وو د کوټ امیرهغه وخت شاهین تقبله الله وو هغه هم تازه د جنګ لمړۍ لیکې څخه راستون شوی وو، موږ ترې د اسلحې غوښتنه وکړه هغه ویل اضافي اسلحه خو نشته، خط کې مخلص (سپرغۍ) دی، تاسو خط ته لاړ شئ هغوی به د ارام لپاره راوروسته شي اود اسلحې غم به هم درته وکړي، موږ له دوی څخه رخصت شو، دفاعي خط ته ورسیدو، ما سره مې د مدرسې هماغه مخکنی ملګری هم یو ځای وو، موږ په زیاته فاصله کې روان وو، دښمن زیاته توپخانه استعمالوله، سره یو ځای نیږدې تللو چانس نه و، نیږدې نیمه شپه وه چې د ټول کفر په مقابل کې د دوی د سترو او پراخو امکاناتو او تجهیزاتو په وړاندې د غرباؤ تش لاس وږیو، تږیو او ستړو بیخوبه مجاهدینو څنګ ته ورسیدو، مخلص دوی هم پرلا پسې بې خوبۍ او ستړیا ځپلي وو، خو د دښمن په وړاندې یې حوصلې خورا لوړې وې، له دې مخکې یې دښمن سره لاس په لاس څو جنګه کړي وو، چې پکې د مرتد فوج نه تازه یوه ایم شانزده هم غنیمت شوې وه او د خراسان په تاریخ کې دا د افغان مرتد فوج سره لمړی جنګ وو، چې د کوټ په ښیرازه او اباده سیمه کې پیل شوی وو، دشمن زیات په ویره کې و، خو هغوی پسې هم هغه د چا خبره د بارودو زور و، مجبوره د ۱۳زره افغانیو په بدل کې جنګیدل، خو بل طرف ته د الله مخلص بندګان ورته د ګوتوپه شمیر څو ببر سري زمري د الله په تکیه سینه سپر ولاړ وو او په نشتو امکاناتو جنګیدل، زه په هغه وخت کې ډیر احساساتي شوم چې کله جنګ ته روانیدو نو اسلحه نه وه د حافظ صیب نایب سره لته بند کې مخ شو اسلحه مو ترې طلب کړه، هغه ویل اسلحې خو نشته بس د الله په توکل خالي لاس خط ته لاړشئ که هیڅ هم نه وو د تیګو څخه کار واخلئ په ټانګونو وروخیږئ او غنیمتونه ترې واخلئ او بیرته ورسره په همغه اسلحو وجنګیږئ، رښتیا هم موږ خالي لاس تر خط ورسیدو د تبادلې والا ملګرو نه مو اسلحې امانت په شکل پدې تمه واخیستې چې واپس به یې ورته له دوه ورځې دمې وروسته سپارو، مخلص دوی د ارام لپاره راغلل موږ خط ته لاړو یوې دفاعي غونډۍ ته ورپورته شو، چې دښمن د شاه لخوا حمله ونکړي خو بل طرف ته په عین حال کې د مرتدو تالبانو سره هم زموږ خطونه پراته و، وخت ناوخت به د هغوی سره هم د مجاهدینو ورونو د جګړو خبرونه راتلل، کله چې موږ دفاعي غونډۍ ته پورته شو موږ پسې څو ساعته وروسته تور خالد چې زما مخکنی

اشنا وو راورسیده وچ کوټ طرف د جنجالي غونډۍ شاته مو یو ځای کې سنګر ونیوه او شپه مو په کې تیره کړه سهار یو کورته تور خالد ورغی یوې سپین سرې عمر خوړلې ابی ته یې وویل: ادې! که شین چای او وچه ډوډۍ راکړې موږ به پیسې درکړو، دلته په یو څو کورونو کې له په عمر زاړه کسان پاتې و، خو د مجاهدینو له همغه لومړي سره دا ترتیب و چې له چا یې ډوډۍ نه خوړه د ډوډۍ خپل نظم درلود او په کوم ځای کې به چې داسې سخت مجبوره شو نو هم د سیمې له اوسیدونکو یې په دوه برابره زیات قیمت خوراک اخست، هیڅ کله د سیمې په خلکو بوج شوي نه دي، چې د اسلامي دولت د ساحو ټول اوسیدونکي ددې شاهدان دي، عمرخوړلې بوډۍ د تیرې ورځې وچ جواری او شین چای موږ راوویستل، داسې حال کې چای ته ناست وو چې د ډی سي توپ پرلا پسې مرمۍ را وریدلې او هاوانونو هم د تم کیدو نوم نه اخیست، او دغه وخت کې دشمن هم د رامخکې کیدو په اراده نور هم توپخانې ته زور ورکړ موږ چې د تیرې ورځې راهیسې وږي وو نو شین چای او وچ سوکړک ډیر خوند وکړ، پوره ماړه نه شو خو هغه د چا خبره نیم ګیډې شو، مشوره مو وکړه دشمن باندې چې حمله ونکړو نو دشمن مخکې راځي او موږ ته خط پراخیږي مخلص هم سهار بیرته خط ته راګرځیدلی و، د تور خالد سره فدایان ملګري راغلي وو، هغوی هم ویل چې د خپلو فدایي عملیاتو نه مخکې دلته موږ یو جنګ کې ضرور برخه اخلو، لوی اختر ته هم د ګوتو په شمار ورځې پاتې وې کله چې په جنګ باندې سلا مشوره وشوه نو تور خالد ویل چې زه اول مخکې کیږم، ځای سخت دی بیا که موږ شهیدان شو وروسته دې دویم ګروپ راپورته شي، نو د تور خالد جنجالي غونډۍ په برخه رسیدلې وه او هغه د دشمن په ولکه کې وه لاندې بل طرف د مخلص ورسیده او دریم اخري داسې ځای وو چې که دواړه ګروپونه کامیاب شو، نو اخري نقطه کې به یو ځای کیږو ان شاءالله، عجیب او غریب حالات وو موږ سره درې او څلور شاجورونه وو اضافي مرمۍ نه وې، پیکا مو هم په دغه ورځ نه لرله فقط د راکټ سره مو شپږ مرمۍ د دفاع او تعروض لپاره ساتلې وې، کله چې جنګ شروع شو نو ډیره تیزه حمله مو د رب په مدد وکړه، زموږ د ګروپ له ملګرو څخه دوه کسه هماغه ګرم جنګ کې تور خالد او یو بل ملګرې ولګیدل، دا هغه وخت وو چې د جنجالي غونډۍ مکمله نه وه فتح شوې، بلکې اول سر کې ملګرې زخمیان شو تور خالد غږ وکړ زه په لاس ولګیدم وروسته کیږم، خو تاسو مخکې شئ زخمیان ملګري وروسته شول، موږ څلور کسان وو چې د غونډۍ ټول جنګ راپاتې شو، وروسته ملګري زیات وو، خو د دشمن توپخانه دومره دقیقه او شدیده شوه، چې نور ملګري زموږ خواته نشو راتلای، او دا منطقه له پرون راهیسې دشمن ټارګیټ کړې وه، بل طرف ته مخلص دوی جنګ دومره تیز کړ چې دشمن نه لار ورکه شوه، هغه صحنه مې اوس هم سترګو، سترګو ته کیږي چې مخلص امریکایي همر ډوله ټانګ ته ورمخامخ شو د راکټ فایر یې چې ورباندې وکړ ټانګ وروسته شو فایر خطا لاړ په دویم فایر سره د ټانګ مخامخ شیشه ولیږده عسکرو ټانګ پریخود او تړي پیدل یې د جوارو پټو ته پښې سپکې کړې، د شولو او جوارو پټو ته ورګډ شو، د دهشکې میل یې اسمان ته خوله نیولې وه، بل طرف که موږ په غونډۍ جنګ نه وی کړی مخلص دوی تر محاصرې لاندې پاتې کیدل، یو بل خالد فدایي د مخلص نه راکټ راواخیست څکه موږ سره د دوه ګروپونو په سر ټول جنګ کې یو راکټ وو، موږ چې مخکې حرکت پیل کړ نو دشمن هم د اوچتې غونډۍ په سر کې کلک مقاومت وکړ خو موږ هم شاته نشو پرلا پسې جنګ مو جاري وساته او مخکې روان وو، ترهغې چې غونډۍ باندې وړ پورته شو موږ سره شاجورونه نور تش شوي وو د ګوتو په شمیر مرمۍ پاتې وې او موږ هم بې هدفه ډز نه کاوه، خو همدغه د رب د نصرت وخت وو کله چې دشمن سره د غونډۍ په هموار سطحه په جنګ کیوتو، نو مرتدین تیښتې ته اړ شو، موږ نه دوه ملګري نور هم لاندې طرف پاخه سرک ته ور ښکته شو، موږ دوه کسه پاتې شو زه او محمد مخکې روان وو جنګ شروع و، په موږ د شاه لخوا فایرونه شروع شول، محمد راغږ کړ: فلانیه! د شاه لخوا ډزې کیږي.

مال: حسبنا الله لکه چې قومي خلکو پاڅون وکړ، خو زموږ مخې ته دشمن مو نور د جنجالي غونډۍ اخري سر ته رسولی و، د رب په مرسته شاته چې متوجې شو نو د ګرم جنګ په صحنه کې مرتدینو ته د تیښتې چانس نه وو پیدا شوې نو جوارو کې پټ وو، خو چې کله دشمن موږ د غونډۍ په سر دوه کسه ولیدو زړور شو او بیا یې په موږ جنګ را شروع کړ، خو موږ هم موقع ورنکړه له غونډۍ څخه مرتدین کوز شوي وو، نوره د جنګ پله اوختې وه، د باقي جنګ اړتیا نه لیدل کیده، شاته پاتې شوي دشمن باندې د فایر په ځای ور روان شو، موږویل چې مرمۍ مو کمې دي، له نږدې به ورسره وجنګیږو خو دښمن ته بیا د سید احمد خیلو طرف لار خلاصه وه، هماغه طرف یې ځانونه وویستل چې ترمنځ مو لویه فاصله وه، رب چې موږ ته فتحه راپه برخه کړه، د دښمن سره په دومره فاصله کې ووچې یو د بل غږونه مو سره اوریدل، مخلص دوی زموږ خواته راښکته شو، هغوی د شاجورونو په ډکولو بوخت وو، خو هر یو سره د یو شاجور په اندازه مرمۍ وې، د راکټ مرمۍ هم ختمې وې، موږ د جنجالي غونډۍ بیخ کې د پاخه سرک په غاړه سره راجمعه وو، مخلص چې د جګړې زمرۍ او د ړورتیا یو ستر نوم وو، بیخي د احتیاط او تکتیک کیسه کې نه و، لیونې جنګ به یې کاوه، خپل ورور شاهین ته یې په مخابره ور غږ کړ: اضافي مرمۍ را ورسوئ، مرتدینو د دې خبرو په اوریدو سره بیا جرات واخست، فکر یې وکړ چې موږ سره مرمۍ خلاصې شوې دي او نور جنګ نه شو اوږدولای، نو څکه بیا رامخکې شول، اوس نو موږ سره راکټ هم نشته فقط یو ایم شانزده او نورې کلاشنې دي خلاص، مرتدینو چې کله دغه غږونه واوریدل زړور شول، بیا رامخکې شول، خو یو یو ورته د سرک پرغاړه تقسیم شو، تور ابوبکر فدایي چې کله ورمخکې شو فقط هغه کس یې په نښه کړ چې دهشکه یې کنټرولوله، رب فضل وکړ دغه مرتد یې ډزو ته پرینښوده بیرته دشمن شاته شو، شاهین بیا ډیر هوښیار و، شفر شفر کې یې مخلص پوهه کړ چې

تاسو شاته شئ، خو مخلص نه منله ويل جنگ كوو موږ تازه د جنگ په خوند راغلي وو، د مخلص د خبرې تاييد مو وكړ، موږ د خلافت سنگر او فدايي سنگر ترمنځ يو اړخ ته د سرك په غاړه وو (دغه جنجالي غونډۍ وروسته په فدايي سنگر مشهور شو او ديته مخامخ غونډۍ د اسلامي سنگر باندې مشهورې شوې)

شاته هم اضافي مرمۍ نه وې ، نو ځكه د شاته كيدو قاطع امر وشو ، موږ وروسته او دفاعي كمربند مو له دښمن سره وتاړه، دا نو هغه وخت وو چې لوی اختر ته يوه ورځ پاتې وه ، موږ واپس شو جنگ لا نور شدت واخيست له دريو طرفونو دښمن تكراري هجوم راوړ ، خو د الله په نصرت به بيا ،بيا له ماتې سره مخ كيده بالاخره موږ له يو كلي ځخه بل كلي ته پرلاره وو له څو ساعتونو راهيسې د دښمن په محاصره كې وو،ما او خالد پريكړه وكړه چې د اهنگرانو له كلي پورته كيږو او د غونډۍ په بل اړخ راتاويږو ترڅو ملگري روغ ووځي، مخلص هم له موږ څخه لږ وخت مخكې وتلی وو، موږ حركت وكړ خو له درې طرف فايرونه كيدل موږ خپلو كې سره په فاصله كې د مردكو په باران كې په چټكو او ځغلنده گامونو مخ ته روان وو، توپخانه هم نه ودريده او دغه لار يې په مسلسل ډول هدف گرځولې وه، موږ پوره مزل وكړ غونډۍ ته نا رسيده يو كور ته په لار وو چې د هوان مرمۍ زما او د خالد ترمنځ ډيره په لنډه فاصله كې ولگيده، موږ دواړو پروت وكړ ، ما فكر وكړ چې خالد شهيد شو او د هغه په ما دغه گمان و، په خړو گردونو كې له يو بل څخه ورك شو، خوهمدغو گردونو كې مو څو قدمه مزل نور هم وكړ.

په خالد مې غږ كړ: روغ يې ؟ د الله بنده مال چې ته شهيد شوې. په خواړه غږ يې راغبرگه كړه : او ما ويل كه ته رانه شهيد شوې . مال نه الحمدلله روغ يم، په خبرو ، خبرو كې موږ له يو ټيټ ختين ديوال سره پنا واخيسته خالد مې ځنگ ته ودريد ، ويل يې : لكه چې زخمي يې مټ دې وگوره، ربښتيا هم ما په مټ پخه چره خوړلې وه، خو لا په گرمه كې وم ،خالد مې ورته پام كړ ، موږ د دينه مخكې ډير تيندكونه خوړلي وو، درد په اسانۍ نه حِس كيده، د جامو رنگ مې هم تور وو وينه يې هم نه مالوميده ، خو جامې سورۍ شوې وې، د علاج چاره خو هسې هم نه وه، شاهين هم دلته له ملگرو سره ايسار وو ، موږ تم نه شو مخكې لاړو، خو شاهين اجازه نكوله چې غونډۍ ته پورته شو، د مدرسې ملگري سره مې هم دلته مخ شوم ، سر يې ترلی او راكټ ته يې تياره مرمۍ ور وستې وه ، يو ځنگ ته د فاير په تمه ناست و، زما په ليدو يې په وچو شونډو موسكا خوره شوه ويل يې : اې الكه ته ژوندی يې، ما ويل چې ته خو به وخته شهيد شوی يې او پسې په سپيرو شونډو خوږه خنده خوره شوه .

ورته مې كړه : هو پاوو كم ژوندی يم، ته ځنگه يې الله بنده له تيرې ورځې راهيسې وږی يم، خوراك څه شی نه شته درسره، هغه جيب ته لاس كړ چڼه چور وړه پوڼۍ يې را وويستله ،نيمه مو كړه .

شاهين غږ وكړ: حركت وكړئ ،ملگري له دې ځايه كم شئ ،لارغرجو طرف لاړ شئ، هلته بيا مشوره كوو ان شآءالله، نو موږ هم حركت وكړ په پټو لگريو كې مو ځان تر لارغجو ورساوه .

هلته مې مخلص ته كړل : دلته يو ډاكتر و هغه اوس شته ؟

مخلص په زير راوكتل ځواب يې راكړ : هو شته دی مريض يې كه زخمي يي؟مال ولا دا مټ مې لږ خوږ شوی دی، چې يوه پټۍ ترې راتاوه كړي .

نورې يې هم راكې سترگې وگنډلې : دا كله وا الكه!؟

مال پرون چې تاسو نه جدا شو لاره كې د هوان مرمي راغله د تقدير معامله وه. مخلص تر ډاكتره ورسولم پټۍ مې وكړه دوا مې را واخيسته، څو ورځې نور هم په دغه سيمه كې وو، جنگ ښه په درز كې روان و، حافظ صيب هم په وخت دقيق احوال اخيست، زياتره به خپله مخابره باندې غږيده، زموږ د مدرسې رخصتي هم په پوره كيدو وه ملگري سره مې مشوره وكړه، چې مدرسه كې خلك شكيان كيږي اجازه به واخلو چې نور لاړ شو ځنگه دې خوښه ده؟ هغه هم ويل ښه خبره ده چې لاړ شو.

موږ ماښام د مدرسې غټ مسجد ته راټول شو ،مخلص يو څو ترغيبي خبرې وكړې پسې يې وويل زه به د څو ملگرو سره پاتې شم نور ملگري له دې ځايه كموو كاكا ستاسو رهبر دی، تر وچ كوټ به مو ورسوي بيا نور مامند ته لاره خو ټولو ته مالومه ده، زموږ په څير نور هم د مدرسو گڼ شاگردان د رخصتۍ نه په استفادې دلته راغلي وو، موږ د وچ كوټ په لارو لا بلد نه وو ، د شپې ماسختن وخت كاكا له موږ مخكې او موږ ورپسې شو، شپه نيمايي ته رسيدلې وه، چې وچ كوټ يوې ابادې سيمې ته ورسيدو، هلته مو شپه وكړه سهار وختي مو د مامند په طرف سفر پيل كړ ، ملگري ته مې كړه دغه اوچت د شوكانې والا غر سره به واوړو بيا هغې طرف لاندې شيخ صيب جلال الدين تقبله الله كور دی ، هغه خواته به ورشو او بيا به د لتبند په لاره پيښې ته وركيوزو په خير ، پس له هغې به د ښكته تللو غم كوو، ملگرې مې راسره ومنله موږ زيات ملگري مامند ته په لاره وو ،چې مامند ته په رسيدو سره يو ، يو جدا كيدل اخير موږ دوه كسه پاتې شو، دغه ورځ موږ لا د سهار چای هم نه وو ځښلی، غرمه مو په لاره تيره شوه هغه هم په ناره خيټه مازديگر ناوخته يو كلي ته راكوز شو، د باجوړو د مركز ادرس مو له يو چاڅخه واخيست ، ځكه د دغه مركز تر ځنگ د شيخ صيب كور وو، له كوره لاندې وياله تيره وه، د سپين غر واورينې رڼې اوبه پكې بهيدلې، مركز ته په لاره وو چې د ويالې غاړې ته د شيخ صيب گلالې زوی عبدالله له نور مهاجرينو ماشومانو سره په لوبو بوخت و، له ليرې پيژندل كيده چې د شيخ صيب زوی دی، له دغو ماشومانو سره له يوې پنچې شوخۍ وروسته مركز ته ورپورته شو، لا مو دمه مو نه وه جوړه ملگري شين چای راوړ د نوو مهاجرينو ملگرو سره مو گپ لگاوه ، په دې مركز كې اكثره هغه باجوړي ملگري وو چې يو سنگر كې مو ډير وخت تير كړی وو، د شيخ صيب پوښتنه مو ترې وكړه ، ويل يې چېرته تلی دی كور كې نشته ، مركز كې ملگري هم كم وو لكه تازه چې كوم تشكيل او يا تعروض ته تللي وي، شپه مو د ملگرو سره د سنگر په خوږو كيسو او د جهاد په لاره كې د خوندونو او دردونو د شريك ژوند په فضيلتونو بيانولو سبا كړه ، موږ د سهار چای لا نه وو ځښلی چې يو ملگري د اطاق په دروازه كې سر رادننه كړ راغږ يې كړ: شيخ صيب راغی.

موږ هم زيات خوشاله شو، ملگري ته مې كړل بخت مو ژوندی دی ، شيخ صيب مستقيم مركز ته راغی ستړي مه شي مو سره وكړل لا يې دمه نه وه جوړه كړې، ويل زينب چيرې ده هغه راته راوړئ،"زينب د شيخ كشره او نازولې لور وه ، له عبدالله نه يې هم ورسره زياته مينه درلوده" يو همسايه ماشوم ورته زينب راوستله په ليدو ورپورته شو باور وكړئ دومره مينه!!!

شيخ صيب د نورو مجاهدينو په څير له سهولتونو او رنگونو ډك ژوند پريښې و او دا واړه گلالي بچي يي د مامند دې غرونو ته د اسلامي نظام د قيام د خدمت په لاره كې دې سختيو او خطرونو لاندې ديره كړي و .

شيخ صيب سره مو هم خوږې كيسې وكړې شيخ د تيرې شپې د جنگ كيسه وكړه ويل يې : د عدل خيلو په بيز مو تعارض وكړ د الله په مدد سره مجاهدين الله كامياب كړل، د زياتو مرتدينو سرونه يې غوڅ كړل گڼ شمير غنايم هم مجاهدينو ته لاسته ورغلل ما ته د پاتې كيدو اجازه نه وه نو واپس راغلم بيا يې خپل كلاشنكوف ته لاس ور اوږد كې ويل دا خو ماشاء الله ډيره خه وډزيده ، څو شاجورونه مې ورباندې وويشتل،

یو ملګري له یوه کونجه راغږ کړ: شیخ صیب پوه شو، سمه ده کلاشنکوف به درته صفا کړو پدې سره ملګرو په یوه مؤدب انداز وخندل شیخ صیب په موسکا وویل: بس هوښیار خلک یاستئ، نو د ویلو ضرورت نشته دی.

د شیخ صیب سره مو خوږ مجلس نور په ختمیدو وو ما د شیخ د کورنۍ په هکله اوریدلي وو چې پلار یې هم عالم دی او ډیره دینداره کورنۍ ده، نو د شیخ صیب نه مې پوښتنه وکړه: تا چې هجرت کاوه مور او پلار درسره موافق وو؟ شیخ صیب وخندل ویل یې: یره په داسې حالاتو کې به ډیرو کمو خلکو سره مور پلار موافق وي، مور پلار دې حالاتو ته چیرته زړه ښه کوي دا خو د ټولې دنیا سره د جنګ ته‌ر وهل دي، د شیخ نصیحتونه او د الفت او محبت نه ډک مجلس ډیر خوند وکړ.

هو! اوس نو د هغه خوږو مجلسونو هغه درنې او باعزمه هستۍ زموږ تر منځ نه شته بس هسې یو خیال او د خول لیدل دي، عجیبه ده څه لوړ، لوړ قامتونه لکه غرونه، په دې لار د رب لقاء ته لاړل.

موږ د شیخ صیب څخه رخصت واخیست ویل یې: زه خو اوس راغلم او تاسو روان شوئ، ورته مو وویل موږ د مدرسې شاګردان یو نن د لوی اختر څومه ورځ ده بیا خلک پوهیږي موږ اصل کې درس په فکر یو هرڅه یې دلته رانه هیر کړي، ګنې له تاسې مو چیرته زړه کیږي، شیخ صیب په موږ د سبقونو تاکید وکړ بیا یې کړل: تاسې د جهاد او ګرمو جنګونو خوند وکوت چې سبقونه درنه پاتې نه شي.

ورته مې کړل: شیخ صیب مخکې هم څو واره راغلي وو هغه رخصتیانو کې.

ویل یې: خه نو څکه مو اوس هم یوه ښه مدرسه کې او بله دلته وي، لږه شیبه مو وخندل، مال کیدی شي دا کتابونه دې تورو غرونو ته راوړو نور.

موږ د شیخ صیب دوی څخه رخصت واخیست د لته بند مشهور مرکز ته ورسیدو، هلته مو هم اکثره زاړه ملګري وو د رسیدو سم مې په تور خالد نظر پریوت، ښنګ ته ورغلو ستړي مشي مو وکړل ویل ځوانانو ما ویل چې تاسو به جنت ته تلې یاستئ دا خو راغلئ ژوند یاستئ موږ په خندا ورغبرګه کړه هو دانه مو لا پاتې ده دنیا کې، هغه د ښي لاس زخم پټۍ کاوه د عسلو بوتل یې ترڅنګ پروت وو، پټۍ کې یې عسل واچول او هم یې په لاس واچول ملګري مې اشاره وکړه ویل تیار عسل دي، ورته مې کړه چوپ شه چې د خوراک لپاره نه دي، تور خالد سره مو یوه شپه بله هم وکړه هغه زموږ په اراده پوهه شو چې دا خلک ځي ماته یې ویل راشه دلته کار مې درسره دی، ورغلم په یوه اوچته تیګه دواړه کیناستو ماته یې د استشهادي ترغیب راکړ، زیات بحث یې وکړ له دنیا څخه بې رغبتي یې بیانوله، اخر کې راڅخه مطالبه وکړه ویل حافظ صیب ماته ویلي وو چې د فدایانو مرکز جوړ کړه او مسؤلیت یې هم ستا په غاړه دی ماته یې کړل نو ته هم پاتې شه هغه نور فدایان ملګري هم دکوټ څخه راځي هغه یو خو په ښه لګیدلی زخمي دی، بیا یې کړل چې ما حافظ صیب ته وویل اول خو دا مسؤلیت نه کوم، که امر وي بیا به تاسو راسره دا هم منئ چې اول به زه استشهادي کوم، نو زه خپله هم تیار یم او خراسان کې اول قدم ایښودل دي چې په موږ او تاسې دا مرکز اباد شي نور هم ډیر ملګري دي هغوی به هم موږ پسې راځي، تور خالد ما ته د جنت او جهنم حالات بیان کړل ماته یې زیات ترغیب راکړ، مال همدا کال درسونه پوره کوم حتمي راځم او همدې کتیبه کې به نوم ولیکم توکل په الله، همدې ورځ باندې موږ درې کسان لاړو د عبدل خیلو څخه نو بستري او د مرکز لپاره نور سامان رابرابر کړ، تور خالد راغی یو ډریور پسې چې دا سامان انتقال کړه خو په دغه ورځ عبدل خیلو کې درنده جګړه روانه وه څکه بیز وهل شوی وو نو ډریور زړه نه خه کاوه موږ هم درې کسانو په پړو کې بستري وتړلې او تر لته بنده مو په شاه راوړې، مرکز مو تازه اباد کړ او په سبا ورځ مو د ملګرو نه مخه خه واخیسته مدرسې رخصتي په پوره کیدو وه نو حرکت مو وکړ.

دیسرک پورې راغلو نور مازدیګر قضا وو هلته مو د یو کس سره شپه وکړه، هغه کس د خلافت د حقانیت اړوند ډیرې کیسې وکړې د تور خالد کیسه یې هم وکړه ویل چې داسې خلک پدې نظام کې وي، نو ان شاء الله تاسې ته به الله فتحې درکوي، د تور خالد په دغو خلکو لاره وه شپې یې ورسره تیرې کړې وې د هغه تقوا ورته معلومه وه.

دغه کس بیا دا کیسه هم وکړه ویل له دکانه کور ته روان وم لار کې طالبان ظالمان راووتل او له ځانه سره یې یوړم ۲۵زره ډالر مې جیب کې وو هغه یې هم راڅخه واخیستل او تر تبو پورې یې بوتلم ،ښه پوره یې تنګ کړم زما کورنۍ ته به یې اخطارونه ورکول او ۳۰زره دالر یې نور هم راڅخه واخیستل بیا یې راخوشې کړم زموږ خو شکر دی کاروبار غټ دی، هره هفته کې جمع شوې پیسې کورته راوړو، نو دوی موږ سره دوه کرت دا کار وکړ خو یو کرت یې زخمي هم کړم خو له موټر یې ښکته نکړم.

موږ سهار نهه بجې له کوره ووتو او پیدل، پیدل تر غنې خیلو کوز شو، یو ملګري ته مې خپل کالي ورکړل چې دا به دلته وي ځان سره یې نه شم وړلای، بیا به ګورو اوس روان یم ناوخته دی، له غنې خیلو ترمارکو همداسې ښکته شو او بیا یو موټر ته وختلو، دوه درې ورځې مدرسې شروع کیدو ته لا وې، چې کورته دتللو تکل مې وکړ، زما ملګری هم چپرهار ته لاړ او ما هم حرکت وکړ تیر ماسوختن وو چې کور ته ورسیدم، کور کې راباندې هم خلک پوهه شوي وو، راته یې ویل چیرې تللی وې؟ خو ما خبره یو خوا بل خوا بدلوله د رخصتۍ ورځې هم پوره شوې، بیرته لاړم مدرسې ته، درسونه شرع شو ورځې او شپې تیریدلې داسې وخت هم راغی چې مجاهدینو په چپرهار حمله وکړه الله پاک ټوله ساحه ملګرو ته ورکړه موږ هم خوشحاله وو، هره پنجشنبه او جمعه به مو په خطونو کې وه، پټ به تلو او د شنبې په سهار به وختي مدرسې ته راتلو، یوه ورځ داسې هم راغله چې پنجشنبې ورځ وه درسونه ختم شو ملګري ته مې وویل موټر سایکل برابر کړه چې حرکت کوو لخیره، ویل موټر سایکل نشته پیدل به ځو نو مال سمه ده، موږ حرکت وکړ شولانې ته ورسیدو د ملګري کور هلته وو ورغلو چې ګورو له مونږ نه زموږ د مدرسې مهتمم رامخکې شوې دی ورپسې نور ملګري هم دلته راغلل، مهتمم ویل مدرسه خو ټوله راخوځیدلې ده الله دې خیر کړي، خه شیبه مو دلته له ملګرو سره تیره کړه، خه شو هغه د چا خبره د مدرسې مهتمم سره مو خبره بیا یوه شوه، او پوهه شو چې دومره په اخلاص یې زموږ په څېر بې دره خلکو ته مدرسه کې ځاې ورکاوه دا نو خپله مجاهد و، د نورو تش په نوم شیخانو په څېر یې هسې باتې نه وهلې، بلکې عملا یې د جهاد سنګرونه هم ګرم ساتلي و، لږ ځنډ وروسته تور خالد راغی، ما ورسره له مخکې رابطه کړې وه چې درځو نو هغه هم چپرهار ته راغلی وو هغه سره بیرون ووتلو یو ځای ته ورسره لاړو هلته سوزکی موټر ولاړ وو ویل راځئ چې چکر درکړم نو یو بل فدایي ملګری موټر ته کیناست کنډیباغ پورې راغلو بیرته واپس لاړو، په سبا چې کله جدا کیدو نو تور خالد ځانته کړم او راته یې کړل زموږ هم اخري وخت دی کیدای شي موږ لاړ شو، زه پوهه شوم په تعجب مې ورته وویل تاته حافظ صاحب ښنګه اوس اجازت درکړ؟ویل چې رختیا خبره وي هغه مې ډیر تنګ کړ اجازه یې نه راکوله، اخر مې ورته وویل یا د جنت وعده راسره وکړه چې جنت ته به ځم او یا اجازه راکړه، ویل زه تاسره د جنت وعده ښنګه وکړم؟ مال بس هغه وعده بیا پوره کړه چې ما سره دې اول کې کړې وه، نو هغه هم لا جوابه شو او مجبور مې کړ اجازه یې راکړله، بس تاسو دعا کوئ، موږ هم ورسره اخري مخه خه وکړه واپس مدرسې ته لاړو، یوه ورځ یو کس راغی زموږ مهتمم صیب ته یې کړل چې دا غټان شاګردان مدرسه کې مه پریږده چې شپه وکړي داسې نه طالبان یې درته ټول ووژني، بس موږ بیا سر له ماښامه به بل ځای ته تلو سهار وختي به مدرسې ته راتلو، رب دې هغو خلکو سره خه وکړي چې دغو سختو حالاتو کې موږ ځای راکاوه او شپې یې راکولې، بله ورځ هماغه سړی راغی ویل دا غټان شاګردان له مدرسې وباسئ.

مونږ خپل منځو کې سره خه وژړل چې نور مو هیڅوک نه پریږدي مشوره مو وکړه چې نور درسونه ویل مشکل دي بس تمکین ته ورپورته کیږو توکل په الله، ملګرو

مې هم ومنل خو ويل سبقونه به
پوره کړو او راتلونکي رخصتيانو
کې چې لاړشو بيرته نه راځو.
يوه ورځ سهار ناوخت غونډې وو
استاذ نه وو راغلی زه د کتاب په
مطالعه بوخت وم، خو بل ملګری
مې نه ښکاريده وختي چيرې تللی
وو، زه له خپل ځای نه نه وم پورته
شوی چې ملګری مې راغی مسکی
مسکی کيده خوا سره مې کيناسته
په اوږه يې لاس راکيښود ويل يوه
خبره درته کوم خو ځان به غلی
نيسې څه به نه وايې ، مال خاا
نو څه خبره ده چې زه حوصله
خرابه کړم؟
لنډو الفاظو کې يې وويل چې
تور خالد د پاکستان په قونسلګرۍ
استشهادي وکړ او بل کيسه يې هم
وکړه ويل لار کې موټر بم پاتې وو
ښار مسول ويل راشه دا بل خواته
کړئ نو تلی وم هغه مو بل خوا
انتقالاوه او بارودو نه مو خالي
کاوه.
هک حيران شوم کتاب مې بند کړ
مال دا څه وايې تور فاروق هم لاړ؟
په خندا شو ويل هغه ابوعبيده چې
هلته ورسره وو هغه هم لاړ ورسره،
بس د قبوليت دعا مې ورته وکړه
چې رب دې قبول کړي خو جسد
به يې پاتې وي چې دا به کورنۍ
ته ورکړي که نه؟ خو موږ درس
وويلو ماسپښين وخت وو غوښتل
مو چې ورشو خو مشرانو راته
وويل چې لاړ نشئ هلته حکومت
هم راځي او طالبان هم نو هسې
نه بل مشکل جوړ شي..
د مشرانو نه مو ځان په خنګ کړ،
لږ اخوا شو مبايل مې راويست او د
تور خالد ورور ته مې زنګ وواهه
ځان مو ورسره پوهه کړ په اول
سر کې يې وويل چې ګوره تاسو
رانشئ دلته طالبان راغلي فارمونو
کې دي چې مشکل به جوړ شي،
موږ ورته وويل چې هر څه
کيږي موږ درغلو او دوه په دوه له
مدرسې ووتلو ملګري ته مې کړل
راځه استاذان کورونو ته لاړل بيرته
تر ماښامه نه راځي نور له چا
مو سترګه نه سوځي، حرکت مو
وکړ پيدل، پيدل مو ځان ورساوه
وررور سره يې مخ شو يو اطاق
کې يې غلي کينولو ويل وخت يې
راکړی د کلي سپين ږيري ورغلي نو
کيدای شي جسد ورکړي خو له پوره
انتظاره پس يې هم جسد ورنکړ
خلک زيات جمع شوي وو ملګري
ته مې وويل : ددې ځای ملايانو
خو هم ځانونه غلي کړي يريږي
، نو مشوره مو وکړه چې خلک
جمع شوي راځئ بس غيبي جنازه
به وکړو توکل په الله، داخلک هم
ورسره ناشنا دي د دې سنتو سره ، يوه
طريقه به راجوړه کړو، بس ملګري
ته مې وويل زه جنازه کوم او بيا
ته خلکو ته مختصره خبرې وکړه
او بيا حرکت کوو پښې وباسو.
ملګري مې راسره ومنله راغلو خلک
مو د جنازې پراخه ميدان کې راجمع
کړل مال رسول الله خو منو کنه؟
ټولو په يو اواز وويل هو خود يې
منو زموږ.پيغمبر دی مال هغه يو
وخت غيبي جنازه کړې ده نو اوس
خو د شهيد جسد يې نه دی ورکړی
نو موږ.او تاسو غيبي جنازه کوو
تاسو يې منئ که نه؟ ټول ويل
چې پيغمبر کړې وي موږ يې ولې
نه منو بس جنازه مو وکړه ملګري
مختصرې څو خبرې وکړې يو
څه مو د زړونو بوج کم شوی وو
خلکو هم فکر کاوه چې دا څوک دي
او له کومه راغله، چې دومره غټو
ملايانو ته يې ونه کتل او دا هلکان
رامخکې شول.
موږ هم نور حيران نشو حرکت
مو وکړ او بيرته مو پټ مدرسې
ته ځانونه ورسول، خو مدرسه کې
ورځ تر بلې زموږ زندګي ترخه کيده
همدلته مدرسه کې وو چې د شيخ
صيب جلال الدين د شهادت خبر
راغی زه کتاب ته ناست وم مهتمم
صيب راغی ويل شيخ جلال هم
لاړ، الله ګواه دی کتاب ته ناست
وم زړه مې راډک شو او سلګو پسې
واخيستم درس پاتې شو هماغه
ورځې درس مې سبا ووېلو، دومره
وخت لا نه وو تير ملګرو ته مې بيل
بيل وويل چې مدرسه کې خرابيږئ
دفاع نشئ کولای نو ښه لاره داده
چې هجرت وکړو ځان خراب نکړو،
خو بعضو ملګرو ومنله او بعضو
ويل د چاړه او چاقو څخه استفاده
کوو خو دا هسې هوايي نقشې وې
په بله ورځ مې د استاذانو سره مخه
ښه وکړه چې کورته ځم يو استاذ
راته وويل چې لاړې فلانې ته مې
سلام وايه، پوهه شوم چې دا استاذ
پوهه دی چې دا سړی بړه روان دی
مال کورته ځم هلته څه کوم.
همداسې د مهتمم صيب نه مې هم
رخصت واخيست اوخپل کور ته
لاړم، ټول تصميم مې برابر کړ او
واپس راغلم له ځان سره مې يو
څو تفاسير هم راخيستي وو چې
بيا کوټ کې يو يې په بمبار کې
ټوټې ټوټې شو.
ما په مدرسه کې کالي او کتابونه
کيښودل ، په لويه مخه خه ترې
رخصت شوم.
او د شينوارو په لاره مې يو ځل بيا
تر تمکينه ځان ورساوه.
زما ډيرې ورځې نه وې تيرې
معسکر کې وم زموږ د مدرسې يو
بل شاګرد سره مخ شوم ټوله کيسه
يې راته وکړه چې مدرسه باندې
چاپه راغله ټول مشران شاګردان
يې وترل او ځان سره يې بوتلل
فقط مهتمم صيب لږ مخکې له
مدرسې وتلی وو الله بچ کړ ما
ترې د هر يو پوښتنه وکړه ويل
دغه ټول يې يوړل بس تاسو کار
وکړ چې را ووتئ ، په ملګرو خفه
شوم او غوسه مې هم ورته راتله
چې ولې يې خپل ځانونه په لاس
ورکړل؟
يو وخت لته بند کې په سرک
روان وم چې مهتمم صيب سره هم
مخ شوم تازه يې هجرت کړی وو
زيات خوشحاله شوم، تود روغبړ
مې ورسره وکړ. او د چاپې مختصره
کيسه يې راته وکړه.
ډيره موده وروسته هغه ملګري رب
خوشې کړل اکثرو يې هجرت وکړ
،اکثره يې شهيدان دي او ځينې يې
لا د خلافت په کاروان کې د هجرت
شپې سبا کوي

شهید

چې بهېږي ترې تاوده څاڅکي د وینې
همغه وخت خپل جنت او مقام وینې

په دښمن چې ورغوړه شي او شهید شي
کړي خندا ورته پاک رب له ډېرې مینې

ګناهونه یې رژېږي سم له واره
کړي مستي ورسره حورې سپینې سپینې

روح یې یوسي ملائکې علیین ته
هم ترې تاوې وي پستې ټوټې وریښمینې

رب به ورکړي درجې سل په جنت کې
هم به دوه اویا بیبیانې وي حسینې

پس له مرګه هم ژوندي وي شهیدان
هم وي پاتې جسد روغ د ځینې ځینې

پوښل شوی دی جنت ټول په سختیو
دي اغزنې لارې ډېرې ګلورینې

رسوې که ځان دې سترو مرتبو ته
کړې به صبر په دې لاره ګړنګینې

مؤسسة العزائم الإعلامية

سِيرَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ

سیرت یولسم درس

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله وصحبه أجمعین، أما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو، د نبي علیه السلام د سیرت مبارکه لړۍ د صحیح احادیثو په رڼا کې شروع وه، تیر درس کې تر دې ځای پورې خبره رسیدلې وه، چې نبي علیه السلام ته وحي بیا شروع شوه، د وحې کیفیت او اقسام ذکر شو، بیا نبي علیه السلام د الهي امر مطابق د توحید دعوت شروع کړو، خلک یې اسلام ته رابلل، نو د اسلام لومړي اتلانو بیان شروع و، چې تر ټولو لومړی اسلام خدیجه رضي الله عنها راوړو او بیا نبي علیه السلام سره کور کې موجود علي رضي الله عنه په نبي علیه السلام ایمان راوړو، اوس به د دریم اتل تذکره وکړو:

۳. د ابو بکر صدیق رضي الله عنه ایمان قبلول:

د امام ترمذي قول موافق چې زنانه وو کې لومړی ایمان خدیجه رضي الله عنها راوړو، ماشومانو کې علي رضي الله عنه ایمان راوړ نو غټانو کې ددې امت صدیق ابو بکر رضي الله عنه اسلام قبول کړ.

